# د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي مفتش پیغام

زه د متحده ایالاتو نوي 111م کانګرس ته مبارکي وایم، چا ته چې مونږ په خوښۍ سره دا دویم رسمي راپور وړاندې کوو چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي مفتش (سیګار) لخوا چمتو کړای شوی دی، څنګه چې یې د 2008 د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون د 1229 برخې له مخې لاربنودنه شوې ده. زمونږ دفتر د ورته ورکړل شویو اهدافو د فوق العاده مسوولیتونو په پوهېدنې او منلو سره مخ پر پراخېدو دی.

اوس چې د افغانستان د بیا رغونې د هڅې د نږدې هرې سطحې د مشرانو سره مې لیدلي او په شخصي توګه مې افغانستان ته دوه پراخ سفرونه ترسره کړي دي، زه په باور سره ویلی شم چې په دې اړه سیګار ته د کولو لپاره ډېر کار دی چې هغه نګراني په ژور او پراخ ډول وکړي چې کانګرس یې مسوولیت ورکړی دی. د بیا رغونې هڅه په یوه پیچلي، ننګوونکي، خطرناک، او سخت چاپېریال کې ترسره کېږي. د ټولو سطحو ګډونوال یې په ډېره زړه ورتیا د مشکلاتو سره مخامخ کېږي او باید د خپلو ډېرو قربانیو لپاره یې ستاینه وشي. خو، د هغوی قربانۍ به هیڅ بریالیتوب رانه وړي که چیرې یوه داسې واضحه او مربوطه ستراتیژي نه وي په کومه چې تمرکز وکړای شي او کومې ته چې د بیا رغونې د هڅې ټول شریکوال په واضح ډول ژمن وي. افغانستان ته زما د وروستیو سفرونو پر بنسټ زه وېره لرم چې په ستراتیژۍ کې سترې کمزورۍ شته. هر څو که سیګار د بیا رغونې د هڅو یوه ژوره کتنه نده بشپړه کړې، خو د چا سره چې ما خبرې کړي هغوی په دې کې پراخه موافقه لري چې د بیا رغونې هڅې جلا جلا کړای شوې دي او دا چې موجودې ستراتیژۍ مربوطې نه دي. برسېره پر دې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت لوړپوړو چارواکیو د خپل وطن په بیا رغونه کې د لا زیات ګډون او واک لرلو د ډېر قوي خواهش څرګندونه کړې ده. دا چارواکي عقیده لري چې د افغانستان اداري او خلک دا ظرفیت لري چې د بیا رغونې د قراردادونو په سمبالښت او تطبیق کې په زیات اغېزمن ډول ونډه ولري. د ستراتیژۍ مربوطوالی او د افغانستان د دولت د ګډون اندازه د سیګار د کار لپاره د ارزښت وړ معاملې دي او د هغو ډېرو مسلو څخه دي چې د سیګار لخوا به د نظارت پاملرنه ترلاسه کړي.

زه د هغې مالي مرستې مننه کوم چې کانګرس یې په دوامدار ډول زمونږ دفتر ته ورکوي کوم چې مونږ ته اجازه راکوي چې د وړاندې پرتو ننګونو د حل کولو په لور وخوځېږو. د سیګار د ګډې اعلامیې بیانیې، چې د 2008 د اکتوبر په 21مه د بهرنیو چارو او دفاع د وزیرانو لخوا لاسلیک شوې ده، مونږ سره مرسته کړې چې د دغو ادارو لخوا راسره کېدونکې ملاتړ پر مخ بوځو، د کوم واک چې د 2008 د NDAA د قانون لخوا راکړل شوی دی. د دې بیانیې یو نقل د دې راپور په دریمه ضمیمه کې ورکړل شوی دی. برسېره پر دې، زه په خوښۍ سره کانګرس ته دا خبر ورکوم چې سیګار په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې یو مستقیم دفتر جوړ کړی دی او اراده لري چې په افغانستان کې د خپلو مامورینو د حضور د 30 نه په زیاتولو سره چې د افغانستان په درېو ځایونو کې به موجود وي پیاوړې نګراني ترسره کړي. ما خپل د عمومي مفتش اساسي مرستیال ته وظیفه سپارلې چې د دې مهمې برخې مشري وکړي.

په درناوي سره وړاندې شو د 2009 د جنورۍ په 30مه،

ارنلډ فیلډز
تورنجنرال، USMC (متقاعد)
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

# د منځپانګې فهرست


د چوکاټونو او انځورونو لست ........ iv
عمومي لنډيز ........ 1

برخه 1 – شالید ........ 4
پیژندګلوی ........ 4
د سیګار مهم اصطلاحات تعریفول ........ 4
افغانستان تازه معلومات ........ 7

برخه 2 – د افغانستان د نظارت د پیل کرښه ........ 12
پیژندګلوی ........ 12
په افغانستان کې د نظارت اداري ........ 12
سیګار لخوا د نظارت د راپورونو ابتدایي ارزونه ........ 14

برخه 3 – د بیا رغونې د بودیجو تحلیل ........ 34
پیژندګلوی ........ 34
د بیا رغونې د بودیجو انځورول ........ 34
نامصرف شوې او نامنل شوې اختصاص شوې بودیجې ........ 41

برخه 4 – د سیګار د ارزونې اساسي ځایونه ........ 44
د کتنې ځایونه ........ 44
د سیګار د نظارت طریقې ........ 44
لنډیز ........ 56

برخه 5 – د سیګار تازه معلومات ........ 57
د سیګار تشکیلاتي ډیزاین ........ 57
د سیګار بودیجه ........ 58
د ګډې اعلامیې بیانیه ........ 58
د 2008 کال د عمومي مفتش قانون ........ 58
افغانستان ته د سیګار سفرونه ........ 59
د سیګار د تماس شمېره ........ 60
د سیګار د انسجام هڅې ........ 61
د سیګار د معلوماتو غوښتنه ........ 62

ضمیمه 1 – منتخب اصطلاحات او تعریفونه ........ 64
ضمیمه 2 – د نظارت د راپورونو او وېبپاڼو لینکونه ........ 68
ضمیمه 3 – د ګډې اعلامیې بیانیه ........ 79
ضمیمه 4 – د 2008 کال د عمومي مفتش د ریفورم قانون ........ 82
ضمیمه 5 – لنډیزونه او مخففات ........ 97
ضمیمه 6 – پایلیکونه ........ 99

# د چوکاټونو او انځورونو لست

انځور 1 – د افغانستان قوماندہ او کنټرول ........................................................................ 8
چوکاټ 1 – د متحده ايالاتو په مشرۍ د پي ار ټيمونه ................................................................. 10
چوکاټ 2 – د اداري لخوا راپورونه او سپارښتني ....................................................................... 14
چوکاټ 3 – د بهرنيو چارو د نظارت بشپړ شوي راپورونه ........................................................... 15
چوکاټ 4 – 2009 کي د بهرنيو چارو د عمومي مفتش د نګرانی پلان شوي راپورونه ........................... 15
چوکاټ 5 – د دفاع د محکمي د عمومي مفتش د نظارت بشپړ راپوروته ............................................ 16
چوکاټ 6 – 2009 کي د دفاع د محکمي د عمومي مفتش د نظارت پلان شوي او رواني پروژې ............... 20
چوکاټ 7 – د USAID د عمومي مفتش د نظارت بشپړ کړي راپورونه ............................................. 27
چوکاټ 8 – په 2009 کال کي د USAID د مفتش د نظارت پلان کړي راپورونه ................................ 28
چوکاټ 9 – د GOA د نظارت بشپړ کړي راپورونه ..................................................................... 31
چوکاټ 10 – 2009 کي د GOA د نظارت پلان کړي راپورونه ....................................................... 32
انځور 2 – بوديجي د اداري په ترتيب ...................................................................................... 34
انځور 3 – له 2001 راهيسي د اداري په ترتيب ټولي اختصاص شوي پيسي ...................................... 35
چوکاټ 11 – د متحده ايالاتو بوديجي چي د افغانستان د بيا رغوني د هڅي لپاره هر کال اختصاص شوي .... 36
چوکاټ 12 – د پروګرام په ترتيب د اداري ضمني ورکړې ............................................................ 37
چوکاټ 13 – د 2008 د سپتمبر 30 سره سم د بوديجو سرچيني (په مليونونو کې) عمومي کتنه ................ 38
چوکاټ 14 – له 2001 راهيسي بيا رغوني لپاره د اختصاص شويو بوديجو حالت ................................ 39
چوکاټ 15 – ترکيبي نامصرف شوي اختصاص شوې بوديجي ....................................................... 41
چوکاټ 16 – له 2006 راهيسي نامصرف شوي اختصاص شوې بوديجي ......................................... 42
انځور 4 – د ولايتي بيارغوني ټيمونو (PRT) د موقعيتونو نقشه .................................................... 48
چوکاټ 17 – دPRT د موقعيتونو لست ........................................................................................ 48

د منځپانګې فهرست


چوکاټ 18 – د PRT موډلونه ........................................ 49

انځور 5 – د PRT قومانده او کنټرول ........................................ 51

انځور 6 – افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ولایتي بیارغوني د ټیمونو جوړښت ........................... 52

چوکاټ 19 – افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ولایتي بیارغوني د ټیمونو ملکي او نظامي پرسونل ..... 53

چوکاټ 20 – د افغانستان او عراق د ولایتي بیا رغوني ټیمونو پرتله ........................................ 55

انځور 7 – د سیګار تشکیلاتي چارټ ........................................ 57

انځور 8 – د افغانستان د دفتر تشکیلاتي چارټ ........................................ 58

چوکاټ 21 – د سیګار د بودیجو لنډیز (په ملیونونو کې) ........................................ 59

# عمومي لنډيز

دا د متحده ایالاتو کانګرس ته د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړي عمومي مفتش (سیګار) دویم درې میاشتنی راپور دی، چې د مالي کال 2008 د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون د مادو لاندې وړاندې شوی دی. دا د هغه لومړني درې میاشتني راپور اضافه ده چې د 2008 د اکتوبر په 30مه وړاندې شوی و، کوم چې د هغو بودیجو یو لنډیز وړاندې کاوه چې له 2001 راهیسې د افغانستان بیا رغوني ته وقف شوې دي؛ د متحده ایالاتو او نړیوالو اړوندو قوانینو او موافقو یوه کتنه وه کومې چې د افغانستان د بیا رغونې په مفکوره کې واک لري؛ او د نظارت د یوې خپلواکې ادارې په توګه د سیګار د جوړولو د تازه حال راپور و. د هم هغو معلوماتو په ودانۍ چې په لومړني راپور کې ورکړل شوي وو، دا راپور له 2002 راهیسې د افغانستان د بیا رغونې د نظارت د راپورونو یو لنډیز وړاندې کوي، د افغانستان د بیا رغونې په وړاندې د پرتو ځینو ننګونو په اړه د سیګار لومړنۍ مشاهدې بحث کوي، او د نظارت لپاره د سیګار د کړندود په تشریحولو سره پای ته رسیږي.

د دې راپور 1 برخه د افغانستان د بیا رغوني د نظارت تعریف او د هغو وروستیو پرمختیاو یو لنډیز وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغوني هڅې یې اغېزمنې کړې دي. لکه چې په لاندې چوکاټ کې ښکاره کړای شوي، عمومي قانون 119-181 د سیګار د نظارت په مسوولیتونو او واکونو کې دا شامل کړي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره د متحده ایالاتو د حکومت لخوا د اختصاص شویو بودیجو او په بله مانا هغو بودیجو چې په لاس ورکړل شوې دي د خپلواک او مقصدي حقایق موندنې، انسجام او د مهمو احتسابي تدابیرو راپور ورکړي. سیګار به د همدې طریقې سره سم پر مخ ځي او په خپل نظارت کې به هغه ټولې بودیجې او فعالیتونه شامل کړي چې د افغانستان په بیا رغونه کې لاس لري او د کانګرس او د متحده ایالاتو د مالیط ورکوونکیو لپاره د علاقمندۍ وړ وي. په 1 برخه کې همداراز د هغو پام وړ اقداماتو یوه عمومي کتنه هم شامله ده چې د بیا رغونې د ستراتیژۍ د بهترولو لپاره په لاره اچول شوي دي، په نړیوال سوله ساتې ځواک (ایساف) او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نظامي قوماندې د قوماندې او کنترول په کچه د وروستیو بدلونونو یوه کتنه، او د هغو تر ټولو غټو ننګونو یوه کتنه چې د افغانستان د اغېزمنې بیا رغوني په وړاندې پراته دي.

**د افغانستان د بیا رغوني د نظارت تعریف**

پي ایل ۱۱۰-۱۸۱ د افغانستان د بیا رغوني د نظارت لپاره د سیګار د واک په تعریف کې هر هغه غټ قرارداد، بودیجه، موافقه، یا د بودیجو ورکولو بل کوم میکانزم شاملوي چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم وزارت یا ادارې لخوا ترسره شوې وي چې د هغو پیسو د کارولو په اړه وي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي د کومې عامه یا شخصي ادارې سره د لاندې اهدافو څخه د هر یو لپاره چې وي:

(أ) د افغانستان د فزیکي انفراسټرکچر د جوړولو یا بیا جوړولو لپاره

(ب) د افغانستان د سیاسي یا ټولنیزو ادارو د بنسټ ایښودلو یا بیا جوړولو لپاره

(ج) د افغانستان خلکو ته د تولیداتو یا خدمتونو وړاندې کولو لپاره

(د) د افغانستان د بیا رغوني د هڅو لپاره د امنیت برابرولو یا بل د ملاتړ د فعالیت لپاره

د دې راپور 2 برخه له 2002 کال څخه راپدېخوا د افغانستان د بيا رغونې د نظارت د هغو راپورونو يو لنډيز وړاندې کوي چې د متحده ايالاتو د حکومت د نظارت د نورو هغو ادارو لخوا چمتو کړای شوي دي چې د افغانستان دننه مسووليتونه پر غاړه لري: د بهرنيو چارو وزارت، د عمومي مفتش دفتر؛ د دفاع وزارت، د عمومي مفتش دفتر؛ نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره، د عمومي مفتش دفتر (د USAID د عمومي مفتش دفتر)؛ او د حکومت د احتساب دفتر (GAO). د دې برخې هدف موجود معلومات راښکاره کول او مسوول چارواکي دې ته هڅول دي چې په موندنو او سپارښتنو اقدام وکړي. سيګار به دا موجودې ارزونې او راپورونه د نظارت د پېل د کرښې په توګه وکاروي څو پر نورو هڅو بنه تمرکز وکړي او د فعاليتونو د غېر ضروري نقل څخه ځان وژغوري.

د موجودو راپورونو په اړه د سيګار کتنه يو شمېر شريک موضوعات راښکاره کوي. د بهرنيو چارو د عمومي مفتش راپورونو عموماً دا خبره معلومه کړې چې د بيا رغونې سره اړوند پروګرامونه په بنه طريقه عملي شوي وو، خو د دې لپاره چې برياليتوب لاس ته راوړل شي، دوامي هڅو ته اړتيا ده. د دفاع وزارت د عمومي مفتش پلټنو د يو شمېر اداري او قراردادي مسلو په اړه راپور ورکړی او د داخلي کنټرولونو او روزنو د بهترولو لپاره يې د اقدام سپارښتنه کړې ده. د USAID د عمومي مفتش راپورونو د قرارداد په ناکافي سمبالښت، د ګټور کار د ترسره کولو د معلوماتو په ترلاسه کولو کې په ناتوانی، او د قراردادي په خراب کار تمرکز کړی دی. د حکومت د احتساب د دفتر راپورونو د نورو موندنو تر څنګ په هڅو کې د انسجام او د مربوطې ستراتيژۍ نشتوالی، مخ په خرابېدونکې امنيتي وضعه، د افغانانو ناکافي ظرفيت، او په بوديجو کې ځنډونې راښکاره کړي او د سپارښتنو تمرکز يې د بين الاداري هڅو د لا زيات مربوط انسجام په اړتيا دی.

د متحده ايالاتو د حکومت نورو ادارو او محکمو هم افغانستان کې د بيا رغونې په فعاليتونو راپورونه تيار کړي دي. سيګار د پوځ د پلټنې د ادارې، د تحقيقاتو د مرکزي بيورو (FBI)، د پوځ د محکمې، د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې، د USAID د سرچينې د سمبالښت، د دفاع د سکرتر د دفتر (OSD) د تګلارې، د OSD کنټرولر، او د متحده ايالاتو د قول اردو د انجينيرانو څخه غوښتلي چې د دې راپورونو په اړه معلومات ورکړي. سيګار به د دې ادارو څخه ترلاسه شوي معلومات په راتلونکيو درې مياشتنيو راپورونو کې تلخيص کړي او، چېرته چې مناسب وي، د اقدام کولو غوښتنه به وکړي.

د دې راپور 3 برخه له 2002 کال راهيسې په افغانستان کې د بيا رغونې د بوديجو د ارزونې لنډيز وړاندې کوي. دا معلومات ښيي چې د افغانستان د بيا رغونې لپاره مهمه اندازه پېسې جلا شوي خو په بشپړ ډول لګول شوي نه دي. د هغو معلوماتو پر بنسټ چې سيګار ته ورکړل شوي، د نامصرف شويو او نامنل شويو بوديجو اندازه په ملياردونو ډالرو ده. سيګار به د ټولو اختصاص شويو بوديجو پلټنه وکړي او د هغو وجوهاتو په اړه به وليکي چې ولې دومره غټه اندازه پېسې نامنل شوې او نامصرف شوې پاتې دي، او تر کوم بشپړ حده چې امکان ولري، د بيا رغونې په عمومي هڅه به د داسې معاملو اثرات معلوم کړي.

د دې راپور 4 برخه د بيا رغونې د موجودو هڅو دننه د يو شمېر داسې پراخو برخو په پېژندلو سره درې مخکينۍ برخې په سياق و سباق کې راولي چې سيګار به پرې د راتلونکو دولسو نه تر اتلسو مياشتو پورې تمرکز کوي. په دوی کې شامل دي (1) د متحده ايالاتو د حکومت د بېلابېلو ادارو د غټو قراردادونو د داخلي کنټرولونو، کاري وړتيا، او احتساب کتنې؛ (2) د داخلي کنټرولونو ارزونه او د هغو مهمو افغان وزارتونو احتساب کوم چې د بيا رغونې د پروژو لپاره د متحده ايالاتو د بوديجو د پلان او سمبالښت مسووليت پر غاړه لري؛ (3) د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو د اغېزمنتيا او سمبالښت کتنې؛ (4) د بيا رغونې د ستراتيژيو کتنې، او (5) د مهمو سکټورونو کتنې، لکه د برېښنا توليدول، اوبه، اوبه خور، او د قانون حاکميت. لکه چې د نظارت يو شمېر راپورونه ښيي، چې په دې او نورو برخو کې د متحده ايالاتو هڅو د توقعاتو سره سمې نتيجې ندي راوړې، سيګار به د تېر وخت د موندنو او سپارښتنو، او د دې خبرې معاينه کوي چې څه سمونکي اقدامات شوي دي که نه.

په دې تمرکزي برخو کې به سيګار په خپله کتنه کې د حقايقو د موندني درې له يو بل سره تړلي طريقي استعمالوي: چې هغه پلټني، معايني، او تحقيقات دي.

- پلټني به د حکومت لخوا د پلټني د جوړو شويو او عموماً منل شويو معيارونو سره سم ترسره کيږي تر څو د پروګرامونو د وړتيا، اغيزمنتيا، ترسره کېدا او پايلو ارزونه وشي.

- معايني به د دې لپاره نظارت کوي چې د حقوقي غوښتنو، اصولو، د قرارداد د شرطونو، او يا نورو منل شويو معيارونو پلوي يقيني کړای شي.

- تحقيقات به د فساد او غلطيو تورونو ته کتنه کوي څو د محاکمې يا د بل کوم ډسپلني اقدام لپاره د ثبوت بنسټ وړاندې کړي.

د دې راپور 5 برخه د تېرې درې مياشتنی پر مهال د سيګار د پام وړ فعاليتونو يو تازه حال وړاندې کوي. څنګه چې دا اداره د خپل ظرفيت لوړولو ته ادامه ورکوي، نو سيګار تمه لري چې د دې راپور په 4مه برخه کې د تشريح شوي مسووليت د بشپړ عملي کولو لپاره به په بشپړ ډول وړتيا ترلاسه کړي. له اکتوبر 2008 څخه راپدېخوا سيګار افغانستان ته څلور جلا جلا سفرونه ترسره کړي دي. تر دې هم زياته مهمه خبره دا ده چې په افغانستان کې به د سيګار اوږدمهاله حضور دې ته توان ورکړي چې د جنوري 2009 په پای کې په کابل کې د متحده اياالاتو په سفارت کې د جوړ کړي خپل مستقيم دفتر له لارې به ښه نظارت ترسره کړي. سيګار د هغه ملاتړ مننه کوي چې د بهرنيو چارو د وزارت او د سفارت لخوا يې ترلاسه کوي. د دې ټيم مشري د سيګار د عمومي مفتش اساسي مرستيال کوي او په عمله کې به يې پلټونکي، معاينه کوونکي، تحقيق کوونکي، ترجمانان او ژباړونکي شامل وي. په سفارت کې د سيګار پر دفتر برسېره، په راروانو مياشتو کې به په بګرام، کندهار، او د ګډ امنيت د انتقال په قومانده – افغانستان (CSTC-A) کې هم نور واړه، ګرځنده دفترونه جوړ کړای شي. د سيګار د تماس شمېره په متحده اياالاتو او افغانستان کې کار کوي، او سيګار اوس د ضياع، دوکي، ناسم استعمال او نورو مسلو تورونه ترلاسه کولی، پر مخ وړلی، او پلټلی شي.



*ځانګړی عمومي مفتش د يو افغان قراردادي لخوا د جوړ شوي نوي ولايتي پوليسو د مرکز بريالی معاينه ترسره کوي.*

سيګار په داسې حال کې چې خپلې د نظارت دندې ترسره کوي په ډېره مننه سره د کانګرس د روان ملاتړ يادونه کوي.

# برخه 1 – شالید

پېژندګلوی

د متحده ایالاتو د کانګرس لپاره د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړي عمومي مفتش (سیګار) د دویم درې میاشتني راپور بنسټ پر هغه لومړني درې میاشتني راپور دی چې سیګار د 2008 د اکتوبر په 30مه نېټه وړاندې کړی و. دا راپورونه د مالي کال 2008 د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون (NDAA، برخه 1229) د مادو د لاندې غوښتل شوي دي. د سیګار راپورونه د "عمومي مفتش د فعالیتونو او د هغو فعالیتونو لنډیز وړاندې کوي چې د هغو پروګرامونو او فعالیتونو د لاندې وي د کومو لپاره چې د افغانستان د بیا رغونې په لړ کې د پیسو بودیجې اختصاص شوې او یا په لاس کې ورکړل شوې وي..."[1]

دا دویم راپور د 2002 کال راهیسې د افغانستان د بیا رغونې د نظارت موضوعاتي لنډیز، او همدا راز په راتلونکي کې د سیګار د هلو ځلو او فعالیتونو یوه عمومي کتنه وړاندې کوي.

د دې راپور 1 برخه د راپور اهداف معرفي کوي، د سیګار د مهمو اصطلاحاتو بحث وړاندې کوي، او کانګرس ته د 2008 د اکتوبر په 30مه د سیګار د لومړني راپور له وړاندې کولو راوروسته د افغانستان تازه حال وړاندې کوي. 2مه برخه تر دې دمه د نظارت د خپرو شویو راپورونو لنډیز او یوه د پیل د کرښې ارزونه وړاندې کوي چې هغه د حکومت د احتساب د دفتر (GAO)، د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش، د دفاع د وزارت د عمومي مفتش، او نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي مفتش د دفتر (USAID د عمومي مفتش دفتر) لخوا ترسره شوي دي. 3مه برخه تر دې دمه د بیا رغونې د بودیجو یو تحلیل او د هغو ادارو د اختصاصونو او لګښتونو یو انځور وړاندې کوي چې د افغانستان په بیا رغونه کې دخیل دي. 4مه برخه د بیا رغونې د هڅې دننه هغه پراخې سیمې پېژني چې سیګار به پرې په راروانو 12 میاشتو کې تمرکز کوي. 5مه برخه د سیګار د حېثت او د نظارت د هڅو د پیل کولو په اړه د دې تازه حالت وړاندې کوي.

د سیګار مهم اصطلاحات تعریفول

سیګار د دې لپاره جوړ شوی و چې کانګرس او د متحده ایالاتو خلکو ته دا یقین ورکړي چې هغه پیسې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې وې هماغسې لګول شوي څنګه چې پکار وې. د دوو اصطلاحاتو، *نګرانې* او *بیا رغونې*، ماناوې د سیګار د فعالیتونو کاري مېدان تشکیلوي.

**نظارت**

قانون جوړونه په واضح ډول د سیګار د نظارت فعالیتونه تشکیلوي. پي ایل 110-181 د دې دفتر یو یو مسوولیت څرنګه چې د افغانستان د بیا رغونې د نظارت سره تړاو لري په لاندې ډول نوموي:[2]

دا به د عمومي مفتش مسوولیت وي چې د هغو پیسو د استعمال، سمبالولو، او مصرفولو پلټنې او معاینې ترسره کړي، مشري يې وکړي او همکاري پکې وکړي کومې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوي او یا په لاس کې ورکړل شوي وي، او د هغو پروګرامونو، فعالیتونو، او قراردادونو لپاره چې د دا ډول بودیجو د استعمالولو لپاره ترسره کړای شوي وي، په ګډون د—

- د دې ډول بودیجو د منلو او مصرفولو نظارت او احتساب؛

- د بیا رغونې د هغو فعالیتونو او قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بودیجو لخوا پیسې ورکړل شوي وي، او د داسې بودیجو د انتقال او ورسره د تړلیو معلوماتو په اړه د متحده ایالاتو د حکومت د وزارتونو، ادارو او نورو څانګو او د شخصي او نادولتي ادارو ترمنځ؛

- د دې ډول بودیجو د استعمال تاریخچې ساتل د دې لپاره چې په راتلونکې کې د دې ډول بودیجو پلټنې او تحقیقات اسان کړای شي؛

- د افغانستان د تړون او د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ د تطبیق په لړ کې د متحده ایالاتو د افغانستان د دولت او نورو مرستندویه هېوادونو ترمنځ د اغېزمنې همکارۍ نظارت او کتنه؛ او

- کار نه د زیاتو پیسو د ورکولو تحقیق داسې لکه یو ځل نه د زیاتو پیسو یا یو نه د زیاتو بلونو ورکول او یا د مرکزي مامورینو، قراردادیانو او یا د دې د سرپرستۍ لاندې ادارو مهم غېر اخلاقي یا غېر قانوني اقدامات، او د داسې راپورونو، که ضروري وي، د عدالت محکمې ته سپارل څو د نورو تحقیقاتو، محاکمو، د نورو بودیجو د راایستلو، او یا نورو علاجونو امکانات یقیني شي.

عمومي مفتش به داسې سیستمونه، پروسیجرونه او کنټرولونه جوړوي، سمبال ساتي او نظارت به پې کوي چې عمومي مفتش یې د پورته لست شویو وظیفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي.

سیګار منې چې نورې حکومتي ادارې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د کارونو لپاره د نظارت خاص مسوولیتونه پر غاړه لري. 2مه برخه په دې لړ کې د حکومت د احتساب دفتر د کانګرس لخوا د ټاکل شویو دریو عمومي مفتشانو (د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش، د دفاع وزارت د عمومي مفتش، او د USAID د عمومي مفتش) د تولیداتو انځور وړاندې کوي. برسېره پر دې، سیګار د یو شمېر نورو هغو ادارو نه خبر دی چې د نظارت په چارو کې رول لري، چې په هغوی کې شامل دي ملګري ملتونه (م م)، نړیوال بانک، نادولتي ټولنې، کانګرس، د دفاع د وزارت (DoD) تګلاره، او د بهرنیو چارو د وزارت سمبالښت.

## بیا رغونه

سیګار د قانون جوړوني په دې اړخ اتکاء کوي چې *بیا رغونه* په لاندې ډول تشریح کوي:

| د افغانستان د بیا رغونې د نظارت تعریف |
|---|
| پي ایل ۱۱۰-۱۸۱ د افغانستان د بیا رغونې د نظارت لپاره د سیګار د واک په تعریف کې هر هغه غټ قرارداد، بودیجه، موافقه، یا د بودیجو ورکولو بل کوم میکانزم شاملوي چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم وزارت یا ادارې لخوا ترسره شوې وي چې د هغو پیسو د کارولو په اړه وي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي د کومې عامه یا شخصي ادارې سره د لاندې اهدافو څخه د هر یو لپاره چې وي: |
| (أ) د افغانستان د فزیکي انفراسټرکچر د جوړولو یا بیا جوړولو لپاره |
| (ب) د افغانستان د سیاسي یا اجتماعي ادارو د بنسټ ایښودلو یا بیا جوړولو لپاره |
| (ج) د افغانستان خلکو ته د تولیداتو یا خدمتونو وړاندې کولو لپاره |
| (د) د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لپاره د امنیت برابرولو یا بل د ملاتړ د فعالیت لپاره |

هغه ژبه چې سیګار یې جوړ کړی د هغو فعالیتونو د بېلګو لست جوړوي چې د افغانستان بیا رغونه تشکیلوي. د دې مهم توکی د هغو بودیجو په استعمال او سمبالښت کې د متحده ایالاتو د حکومت ګډون دی چې د پورته څلورو اهدافو لپاره کار کوي.

د قانون جوړوني یو شمېر نورې ټوټې هم شته چې د افغانستان په صورت کې د بیا رغونې د یو پراخ تعریف ملاتړ کوي. د دې یوه بېلګه د 2002 کال د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) دی (پي.ایل. 107-327). AFSA وایي چې "متحده ایالات او نړیواله ټولنه باید د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې د دموکراتیکو ملکي چارواکیو او ادارو او په دې هېواد کې د یو نوي پراخ بنسټه، ګڼ نژاده، جنس-حساسه، او په بشپړ ډول د نماینده دولت پرمختیا پر مخ بوځي. د AFSA، برخه 102، د هغې مرستې لپاره چې په سرلیک 1 کې ورکړل شوې دلیل – د افغانستان د اقتصادي او دموکراتیکي مرستې لپاره ورکړل شوی دی. د دې وجوهات د متحده ایالاتو او د دې د ایتلافیانو پر ضد تشدد څخه د ځان ژغورلو څخه د دې چانس تر کمولو رسېږي چې افغانستان بیا د نړیوال تروریزم سرچینه جوړه شي. دا همداراز په دې لړ کې مرسته کول غواړي چې یو داسې نماینده حکومت جوړ کړي کوم چې د خپلو خلکو د بیا رغونې او بیا جوړونې اړتیاو ته ځواب ویونکی وي، او د نورو شیانو ترڅنګ د افغانستان د بیا رغونې له لارې داسې پروګرامونه جوړ کړي چې وظیفې پیدا کړي، د ځمکني ماینونو پاکول اسان کړي، او د زراعت سکټور، د روغتیا سکټور، او تعلیمي سکټور بیا جوړ کړي.[3]

د AFSA 103مه برخه هم په لاندې مهمو موضوعاتو تمرکز کوي، کوم چې هغه واضحې نمونې یو په یو په تفصیل سره وړاندې کوي چې د توانولو په قانون جوړونې کې موندل شوې دي.

- د عاجلو بشري اړتیاو برابرول
- د کډوالو او په داخل کې د بې ځایه شویو خلکو راستنول او ځای پر ځای کول
- له مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې له هڅو سره مرسته
- د خوړو د امنیت بیا تامینول

- د زراعت د سکټور بیا جوړول
- د روغتیايي شرایطو بهترول
- د بنسټیز انفراسټرکچر بیا رغونه
- د یو بریالي ملي دولت او اقتصادي مارکېټ په توګه د افغانستان بیا جوړول
- مېرمنو او انجونو ته د مرستې برابرول
- د امنیت پیاوړي کول او د پوځي مرستې برابرول

د بیا رغونې یو پراخ تعریف په بېلابېلو نړیوالو موافقو او ستراتیژیو کې هم موندل کېږي. په دوی کې یوه د *بون موافقه* ده (سیاسي او ټولنیزې اداري؛ 2001)[4]، د *افغانستان تړون* (اهداف: امنیت، حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه، اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا؛ او معیارونه؛ 2006)[5]، او د *افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي* (ANDS)[6]، (اهداف: معیارونه او ترجیحات؛ 2008). ټولې هغه فعالیتي کټګورۍ او بېلګې چې په دې لاسوندونو کې یادې کړای شوې دي د هغو سره نږدې تړاو لري چې د بهرنیو چارو د بهرنۍ مرستې په لایحه او د سیګار د توانولو په قانون سازۍ کې شاملې دي.

کانګرس، چې په عراق کې د بیا رغونې د 100 ملیارده ډالرو هڅې یې په ذهن کې دي، د افغانستان په صورت کې غوره وګڼله چې د سیګار د توانولو د ژبې دننه د بیا رغونې لپاره یو پراخ او پر هر څه راتاوېدونکی تعریف جوړ کړي. د دې تعریف له مخې، د بیا رغونې په ټولو اړخونو کې د افغان ټولنې بیا جوړول دي.

| |
|---|
| لدې امله، د بودیجو ټولې هغه سرچینې چې د افغان ټولنې په بیا جوړولو کې اغېز لري د سیګار د نظارت لاندې راځي. |

د بیا رغونې د نورو اصطلاحاتو تعریفونه په ضمیمه الف کې د لغاتو په فهرست کې موندل کېدای شي.

<u>د افغانستان تازه حال</u>

لاندې ضمني برخې په افغانستان کې نوي پرمختګونه او د بیا رغونې په اوسنیو هڅو د هغوی اغېز بیانوي.


**د افغانستان قومانده او کنټرول**

د 2008 کال د اکتوبر په 6مه د دفاع وزارت په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو (USFOR-A) اداره فعاله کړه، کومه چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د قوماندې او کنټرول د یو فعال مرکز په توګه جوړه شوې وه.[7] د USFOR-A هدف په افغانستان کې د متحده ایالاتو د فعالیت کوونکیو ځواکونو د یوې قوماندې لاندې پیاوړې کول وو. جنرال ډیویډ مکرنن، د متحده ایالاتو، د USFOR-A د قوماندان په توګه ټاکل شوی و.

جنرال مکرنن دا مهال د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د قوماندان په توګه کار کوي. د ایساف او د تلپاتې ازادۍ د عملیاتو (OEF) د قوماندې واګې خپلواکې پاتې دي. د متحده ایالاتو مرکزي قومانده (سینټکام) د متحده ایالاتو د تروریزم ضد او قېدیانو عملیاتو نظارت ته ادامه ورکوي.[8]

د برنسم د ګډو ځواکونو قومانده (JFC-Brunssum)، د شمالي اتلانټیک د تړون سازمان (ناټو) نظامي قومانده چې مرکز یې د هالېنډ په برنسم کې دی، ایساف لپاره د ناټو د تر ټولو لوړ مرکز په توګه کار کوي. د ایساف ستراتیژیکه قومانده او کنټرول د ناټو، او د بلجیم په مونس کې د اروپا د ایتلافي قوتونو د ستر مرکز (SHAPE) لخوا ترسره کېږي.[9] په اکتوبر 2008 کې د USFOR-A تر جوړېدا سینټکام د ګډ هدف ځواک (CJTF) او ګډ امنیتي انتقال د قوماندې-افغانستان (CSTC-A) د تر ټولو لوړې قوماندې په توګه کار کاوه. په افغانستان کې د ناټو او متحده ایالاتو د قوماندې او کنټرول د یو انځورې وضاحت لپاره وګورئ انځور 1.

**د افغانستان قومانده او کنټرول**




انځور 1 – د افغانستان قومانده او کنټرول[10]

**د بیا رغونې نوې ستراتیژۍ**

د افغانستان د بیا رغونې لپاره له 2001 راهیسې یو شمېر ستراتیژۍ په کار اچول شوې دي. خو، داسې کومه هراړخیزه ستراتیژي نشته چې د بیا رغونې د ټولو هڅو د لارښودنې لپاره عملي کړای شوې وي. په جون 2008 د پاریس په کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د خپل هېواد د بیا رغونې لپاره د ANDS ستراتیژي وړاندې کړه. د ANDS ستراتیژي د افغان دولت لخوا د نړیوالو په ګډون او ملاتړ جوړه شوې او منظور شوې وه.[11] په ANDS کې د امنیت، حکومتدارۍ، اقتصادي ودې، او د غربت د کمولو په لړ کې ستراتیژۍ شاملې دي. دا پلان په 2020م کال کې افغانستان لپاره د دولت لید وړاندې کوي او د درېو ستنو (امنیت، حکومتداري، او پرمختیا) دننه د هغو مشخصو اهدافو نقشه جوړوي چې په افغانستان ترون کې وړاندې شوې وه او په 2008-2013 کلونو کې به لاس ته راوړل کېږي. سیګار عقیده لري چې ANDS باید د افغانستان د بیا رغونې لپاره د نورو ستراتیژیو د جوړولو په لړ کې د اساسي ستراتیژۍ په توګه کار وکړي. خو، ANDS لا تر اوسه دې ته اړتیا لري چې د متحده ایالاتو او یا د ناټو د قوماندو لخوا په بشپړ ډول تطبیق او مربوطه کړای شي، او یا د بهرنیو چارو وزارت د کاري وړتیا د پلان د مشن دننه په افغانستان کې د امنیت او ثبات د قوماندو (ایساف او USFOR-A) په ملګرتیا په سم ډول په لاره واچول شي.

د 2008 په پای کې، د ملي امنیت شورا په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ټول کار په تناظر کې یوه پراخه کتنه پیل کړه. دا کتنه په خپل ځان کې یو شمېر دولتي ګډونوال رانغاړي، چې په هغې کې په پاکستان کې د متحده ایالاتو هغه علاقمندۍ شاملې دي چې ښایي پر افغانستان اغېز ولري.

**د بیا رغونې د ستراتیژي په وړاندې ننګونې**

د افغانستان په بیا رغونه کې د نړیوالو ګډونوالو ستره شمېره د دوی ترمنځ ستراتیژیکه همکاري یوه ننګونه جوړوي. ډېر هېوادونه، برسېره پر دې چې په بېلابېلو کچو بودیجې ورکوي، په دغو بودیجو داسې شرطونه هم ږدي چې کېدای شي د ستراتیژۍ په عملي کېدلو کې محدودیت پیدا کړي. سیګار عقیده لري چې په افغانستان کې د یوې هر اړخیزه، مربوطې ستراتیژۍ جوړول د افغانستان د بیا رغونې د بریالیتوب لپاره ضروري دي.

**د ولایتي بیارغونې په ټیمونو کې وړاندیز شوی ملکي زیاتوالی**

د ولایتي بیا رغونې ټیمونه (پي ار ټیمونه) د ملکي او نظامي پرسونل هغه ټیمونه دي چې مشن یې د افغانستان د مرکزي دولت اثرورسوخ غځول، د بیا رغونې په هڅو کې مرسته کول، او د محلي حکومت پیاوړي کول دي. پي ار ټیمونه په افغانستان کې په 2002 کې جوړ شوي وه او وروسته په عراق کې هم کارول شوي دي.[12] د پي ار ټیمونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره 4مه برخه وګورئ.

ایساف دا مهال په افغانستان کې د 26 پي ار ټیمونو قومانده کوي. ټول 14 هېوادونه د دې پي ار ټیمونو مشري کوي، چې متحده ایالات یې د 12 ټیمونو په لرلو سره مخکښ ملت دی. هر څو که د دفاع وزارت د جون 2008 *د افغانستان د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ په اړه راپور* ویلي چې USAID او د متحده ایالاتو د زراعت وزارت (USDA) دواړه د افغانستان په پي ار ټیمونو کې تر هغې کم پرسونل لري چې واک یې ورکړل شوی، خو د بهرنیو چارو وزارت وایي چې له یوې پرته نورې ټولې منظورې شوې چوکۍ دا مهال ډکې کړای شوې دي.[13]

| د ولایتي بیارغوني ټیم | ولایت | د ایساف سیمییزه قومانده | د امریکي د حکومت واک ورکړل شوي ملکي عمله | د امریکي د حکومت اوسنۍ ملکي عمله |
|---|---|---|---|---|
| اسعداباد | کونړ | ختیځ | 3 | 3 |
| باګرام | پروان او کاپیسا | ختیځ | 3 | 2 |
| فراه | فراه | ختیځ | 3 | 3 |
| ګردیز | پکتیا | ختیځ | 3 | 3 |
| غزني | غزني | ختیځ | 3 | 3 |
| جلال اباد | ننګرهار | ختیځ | 3 | 3 |
| خوست | خوست | ختیځ | 3 | 3 |
| مهترلام | لغمان | ختیځ | 3 | 3 |
| نورستان | نورستان | ختیځ | 3 | 3 |
| پنجشېر | پنجشېر | ختیځ | 3 | 3 |
| قلات | زابل | جنوب | 3 | 3 |
| شرنه | پکتیکا | لویدیځ | 3 | 3 |

چوکاټ 1 – د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار ټیمونه.[14]

په نومبر 2008 کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفارت په افغانستان کې د ولایتي بیا رغوني ټیم (PRT) د یو نوي موډول او د OEF لپاره د متحده ایالاتو په ملکي ملاتړ کې د زیاتوالي وړاندیز وکړ، چې په هغې کې د څلورو نویو د لایتي بیا رغوني ټیمونو جوړول، د ولسوالۍ د ملاتړ د ټیمونو (DS ټیمونو) جوړول او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د حکومت ملکي حضور تر 200 تنو پرسونل زیات غځول شامل وو. د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې دا وړاندیزونه به د متحده ایالاتو د تروریزم ضد هڅو په بریالیتوب کې ډېر مهم وي.

د سفارت وړاندیز د ولایت او ولسوالۍ په کچه د کار کولو پر ضرورت تاکید کوي. د بهرنیو چارو وزارت د بهرنیو چارو د وزارت، USAID، او USDA څخه د پرسونل د زیاتولو سپارښتنه کوي څو دا خبره باوري کړای شي چې ټول د ولایتي بیارغوني ټیمونه د متحده ایالاتو د حکومت استازیتوب ولري او پر دې زیاته د څلورو نورو ولایتي بیارغوني ټیمونو د زیاتولو سپارښتنه کوي چې هغه به په پروان، کابل ښار، دای کندي، او نیمروز کې وي. شپږ د قومي ترون ټیمونه، چې د قومي\کولتوري ترون د ماهرینو نه به جوړ شوي وي، به اساساً په پښتنو سیمو کې جوړول کېږي د دې لپاره چې په همکارۍ او په قومي مشرتابه ښه پوهېدنه کې مرسته وکړي. د کورنیو چارو وزارت د قانون د حاکمیت د ماهرینو په یو شمېر ستراتیژیکو ولایتي بیارغوني ټیمونو کې د اچولو مشوره ورکوي د دې لپاره چې د قانون د حاکمیت پر مخ وړلو کې د د ولایتي بیارغوني ټیم د وړتیاو څخه لا زیات ښېر کار واخلي.

د بهرنیو چارو وزارت همداراز د نویو و لسوالۍ د ملاتړ ټیمونو د تطبیق وړاندیز کوي. په دې ټیمونو کې به د بهرنیو چارو د وزارت او USAID پرسونل شامل وي چې په محلي توګه په کار ګومارل شوي افغان عملې سره به کار کوي او کار به یې په داسې سختو ولسوالیو کې وي چیرته چې د هغو ملکیانو کار چې په حکومتدارۍ، پرمختیا، او د معلوماتو په کرښو کار کوي د تروریزم ضد هڅو کې تر ټولو زیات ارزښتناک وي. دا ټیمونه به په هغو سیمو کې د ولسوالۍ او ټولنې د مشرتابه سره په کار کولو او د هغوی په روزلو کې مهم وي کومو ته چې د غرونو او پرسونل له امله رسېدل ډېر مشکل دي.

دا وړاندیز د یو نه تر درې ملکیانو (بهرنیو چارو وزارت\USDA\USAID) څخه د څلورو پروازي ټیمونو د جوړولو مفکوره هم ورکوي، چې د هر ټیم جوړښت به د هغې د موقعیت د مشخصو غوښتنو سره برابر جوړ شوی وي. د نظامي یونټونو (د بېلګې په ډول، د ملکي چارو د ټیمونو) سره په ګډه، دا پروازي ټیمونه به د فعالیت د دولتدارۍ او پرمختیا د کرښو دننه کار پیل کوي، د پرمختګ لپاره به د نورو غوښتنو ارزونه کوي او د PRT/DST د دوامداره کار لپاره به

میکانیزم جوړوي او یو ځل چې دا هڅې بشپړې شي نو د هغې ملاتړ به کوي. دا پروازي ټیمونه به د لیرې موقعیت د فعالیت مرکزونو ته سفر کوي او د اونیو یا میاشتو د مودې لپاره به په دغه موقعیت کې پاتې کیږي، او بیا به یو مرکزي ځای (PRT/DST، هدف ځواک، سیمییزې قوماندې، یا کابل) ته ستنیږي.

د سفارت د وړاندیز لاندې، ټولې منل شوې د USAID، بهرنیو چارو، او USDA د ولایتي بیارغوني ټیم چوکۍ به ډکولې شي، او یو شمیر په ستراتیژي ډول غوره شوي پې ار ټیمونه، او په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت هم، به د دې ادارو څخه اضافي پرسونل ترلاسه کوي. USAID به د څلورو سیمییزو قوماندو څخه په هره یوه کې د تخنیکي استازو ټیمونه جوړوي. په دې وړاندیز کې دا مشوره هم ورکړل شوې چې یو د قانون د حاکمیت ماهر او یو د USAID او USDA استازی دې د متحده ایالاتو اوسنیو کنډکونو ته ورزیات کړای شي، چې ټول راتلونکي کنډکونه به څلور تنه د بهرنیو چارو د وزارت پرسونل او څلور تنه د USAID تخنیکي مشاورین ولري. د بهرنیو چارو وزارت به په افغانستان کې خپل حضور نور هم د ولایتي حکومتدارۍ او پرمختیا د دفترونو (PGDO) په جوړولو سره پراخوي تر څو دا خبره یقیني کړای شي چې زیاتو باثباته ولایتونو ننګرهار، بامیان او پنجشیر ته لا زیاته اقتصادي\پرمختیایي پاملرنه وکړای شي؛ دا دفترونه به خپل کار د ولایتي بیا رغوني د ټیمونو د کار سره ضمیمه کوي. د بېلګې په توګه، د ننګرهار PGDO به په جلال اباد او د هغې په احاطه کې د حکومتدارۍ\پرمختیا په مسلو تمرکز کوي، په داسې حال کې چې د دغه ولایت پې ار ټي به پرېږدي چې په نورو ولسوالیو کې کار وکړي.

په مجموع کې، په افغانستان کې د ولایتي بیارغوني ټیم (PRT) د موډل د پراخولو په لړ کې د امریکا د سفارت په سپارښتنو کې به شامل وي 215 نوې چوکۍ: چې په هغو کې به 82 د بهرنیو چارو د وزارت، 105 د USAID، او 28 د USDA څخه وي. د دې نوي پرسونل څخه زیاتره به یې د نړیوالو ځواکونو سره وصل او د هغوی لخوا به یې ملاتړ کیږي، همدا لامل دی چې د بهرنیو چارو وزارت د متحده ایالاتو د ایتلافي شریکوالو سره د دوه طرفه پوهاوي د بیانیو د جوړولو سپارښتنه کړې ده. د ملکي پرسونل د زیاتولو په اړه د دې وړاندیز د تطبیقولو وخت د اضافي سرچینو په پېژندلو او راخیلولو باندې اتکاء لري.

**د 2009 کال لپاره د متحده ایالاتو متوقع پوځي زیاتونې**

لکه چې دا خبره په پراخ ډول راپور شوې، د ټولو پوځونو ستر مشر په دسمبر 2008 کې وویل چې تر 30000 اضافي پوځونه به افغانستان ته ولیږل شي، چې په افغانستان کې به د امریکا د ټول ځواک شمیره 60000 ته ورسوي.[15] تمه ده چې د ځواکونو دا لوړوالی د 2009 په مېنځ کې رامنځته شي. د دې لوړوالي موخه دا ده چې په افغانستان کې د امنیت د مخ پر زیاتېدونکي خطر سره جګړه وکړي او د بیا رغوني د هڅو لپاره د سیمې په خوندي کولو کې مرسته وکړي. لږ تر لږه دوه د جګړې کنډکونه د دې لپاره غوره کړای شوي چې د 2009 په پیل کې به په افغانستان کې وي.[16] دا مهال، یو اضافي کنډک د ختیځ سیمییزې قوماندې (سیمه ایزه قومانده ختیځ) ته ورزیاتول کیږي، چې هلته به د کنډکونو ټول شمېر درېو ته زیات کړي. دا کنډک غوره شوی چې افغانستان ته په جنوری 2009 کې څه وخت راورسیږي.[17] د سپتمبر 2008 په پای کې، د دفاع سکرتر وویل چې د بحري ځواکونو یوه ډله به په نومبر کې او یو پوځي کنډک په جنوری کې افغانستان ته روان شي، خو په افغانستان کې د ځای پر ځای کولو لپاره به نور سرتېري د 2009 د پسرلي یا دوبي پورې موجود نه وي.[18] جنرال مکرنن غوښتنه کړې ده چې څلور اضافي کنډکونه دې په افغانستان کې ځای پر ځای کړای شي.[19] د دفاع سکرتر او جنرال مکرنن دواړو ویلي چې په افغانستان کې به امریکایي ځواکونه تر راتلونکو درېو یا څلورو کلونو پورې " دوامداره ژمنتیا" ولري، خو د ټولو ځواکونو کومه مشخصه شمېره یې نده ښودلې.[20]

# برخه 2 – د افغانستان د نظارت د پیل کرښه

پېژندګلوی

د دې راپور یو مهم هدف د افغانستان د بیا رغونې د نظارت لپاره د پیل د کرښې بنسټ ایښودل دي. په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو په انسجام کې د مرستې لپاره، سیګار د نظارت د نورو ادارو موندنو او سپارښتنو او دې ته کتنه کوي چې کوم سموونکي اقدامات شوي دي. سیګار به د هغو معلوماتو معاینه کوي چې د بېلابېلو ادارو څخه ترلاسه شوي وي، چې په دې توګه به د نظارت او پلټنې په کار کې کمی او زیاتی معلوم کړي، او په همدې توګه به د ښو پایلو لپاره مسلسل چیلنجونه وپېژني. د دې معلوماتو په کارولو سره به سیګار معلومه کړي چې د کومو برخو په مناسبه طریقه معاینه شوې ده او کومې د کتنې یا تعقیب لپاره اړتیا لري.

سیګار د بهرنیو چارو د عمومي مفتش، د دفاع وزارت د عمومي مفتش، د USAID د عمومي مفتش، او د حکومت د احتساب دفتر څخه د 2002 راهیسې د نظارت ټول خپاره شوي راپورونه غوښتلي دي. د دې راپورونو د موندنو او سپارښتنو په اړه د سیګار ابتدایي ارزونې د راپور په دې برخه کې موندل کېدای شي. د پوځ د پلټنې ادارې، FBI، د پوځ محکمې، سینټکام، د USAID د سرچینې سمبالښت، د OSD تګلارې، OSD کنټرولر، او د متحده ایالاتو د انجینرانو قول اردو (USACE) هم د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه ویلي دي. هغه معلومات چې د دې ادارو لخوا ورکړل شوي تحلیل به یې کېږي او په راتلونکیو راپورونو کې به وړاندې کېږي.

په افغانستان کې د نظارت اداري

د نظارت په لړ کې د خپلو چارو د ترسره کولو په اوږدو کې سیګار د هغو نورو مرکزي ادارو سره په ارتباط کې وي چې د افغانستان په عملیاتو کې رول لري او د نورو ادارو د هغو عمومي مفتشانو سره چې هغوی هم په افغانستان کې د نظارت وظیفه لري. د نظارت مهمې اداري د دفاع د وزارت عمومي مفتش، د بهرنیو چارو عمومي مفتش، د USAID د عمومي مفتش دفتر، او د حکومت د احتساب دفتر دي. د نظارت نورې ادارې هم په افغانستان کې مسوولیتونه لري (چې په هغوی کې د پوځ د پلټنې اداره، USACE، د دفاع د قرارداد د پلټنې اداره، او بېلابېل نظامي عمومي مفتشان شامل دي، خو تر دې محدود نه)، خو دا راپور به پر هغو څلورو مرکزي ادارو تمرکز کوي چې بره یادې شوې دي.

**د متحده ایالاتو د حکومت د احتساب دفتر (GAO)**

GAO یوه خپلواکه، ناپېیلې اداره ده چې د مرکزي حکومت د لګښتونو نظارت کوي. د GAO مشن "د کاري وړتیا په بهترولو کې مرسته کول او دا یقیني کول دي چې د امریکا د خلکو د ګټې لپاره د مرکزي حکومت احتساب یقیني شي."[21] د GAO لخوا بشپړ شوي کارونه عموماً د کانګرس له لورې وي. د GAO نه دا غوښتنه هم کېدلای شي چې په هغو مسلو تحقیق وکړي چې واک یې عامه قوانینو ورکړی وي، او یا ښایي هغه کار واخلي چې بنسټ یې د کمپټرولر جنرال د واک د لاندې د کانګرس پر پراخ-بنسټه علاقمندۍ وي. GAO له ډېرو لارو د کانګرس د نظارت ملاتړ کوي، داسې لکه د پلټنې د ادارې په فعالیتونو، د غېر قانوني هلو ځلو د تورونو تحقیق کول، د حکومت د پروګرامونو او تګلارو په وړتیا او اغېزمنتیا راپور ورکول، تګلاره تحلیلول، د کانګرس د غور لپاره غوراوي جوړول، او حقوقي پرېکړې او نظرونه ورکول.

**نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې (USAID) د عمومي مفتش دفتر**

د USAID د عمومي مفتش دفتر د USAID، د میلینم چیلنج کارپوریشن، د متحده ایالاتو د افریقا د پرمختیا د سازمان، او د بین الامریکایي سازمان لپاره د نظارت مسوولیت لري. د عمومي مفتش دفتر د دې سازمانونو د پروګرامونو او فعالیتونو په

اړه پلټني او تحقیقات ترسره کوي او نظارت یې کوي. د دې مشن د دې په کاري مېدان کې د سازمانونو "د ټولو فعالیتونو د مربوطی، وړتیا، او اغېزمنتیا کې ونډه لرله او مرسته یې کول دي."[22] د USAID د عمومي مفتش دفتر څلور فعالیتي یونټونه لري: پلټنه، د میلینم چیلنج کارپوریشن، تحقیقات، او سمبالښت. شپږ سمندرپورې د کاري مېدان دفترونه، چې د هر یو مشري یو سیمییز عمومي مفتش کوي، یې په قاهره، مصر؛ سان سالواډور، ایل سالواډور؛ بغداد، عراق؛ مانیلا، فلپاین (کوم چې د افغانستان نګراني کوي)؛ ډاکار، سینیګال؛ او پریټوریا، جنوبي افریقا، کې موقعیت لري. د USAID د عمومي مفتش دفتر په کابل کې هم یو ګرځنده دفتر جوړوي، چې د دوو مامورینو عمله به لري. د USAID د عمومي مفتش دفتر یوه د تماس شمېره لري چې په هغې د مامورینو، د پروګرام د ګډونوال، او عامه ولس څخه شکایتونه ترلاسه کوي.

**د دفاع وزارت عمومي مفتش**

د دفاع وزارت عمومي مفتش د دفاع وزارت په پروګرامونو او فعالیتونو کې د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د مخنیوي سره په تړلیو معاملاتو کې د دفاع د سکرتر د اساسي مشاور په توګه کار کوي. دا دفتر په شپږو برخو ویشل شوی دی: پلټنې، تحقیقات، تګلاره او نظارت، استخبارات، ځانګړي پلانونه او فعالیتونه، اداره او سمبالښت، او مخابرات او کانګرسي ارتباط. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د دفاع د تماس شمېره د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د راپورولو لپاره د یوې مهمې ذریعې په توګه کاروي. تر دې تاریخه دې شمېرې تر ۲۲۸۰۰ زیات تلیفونونه او خطونه ترلاسه کړي، او اټکل شوی چې 425 ملیونه ډالر یې بچ کړي یا راستانه کړي دي.[23] دا عمومي مفتش د تروریزم په وړاندې د نړیوالې جګړې په ملاتړ کې د تروریزم په وړاندې د نړیوالې جګړې او جنوب لویدیځې اسیا د عملیاتو د نظارت په وړاندې کولو سره ستر رول لوبوي، د جنوب لویدیځې اسیا لپاره د پلټنې بشپړ پلان جوړوي او خپروي، او د جنوب لویدیځې اسیا د ګډ پلان جوړولو د درې میاشتنۍ ډلې کوربه توب کوي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش عملې د افغانستان د نظامي عمومي مفتش د پرسونل د روزنې په پروګرامونو کې برخه اخیستې ده.[24]

**د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر**

د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش د دفتر مفکوره د دې وزارت او د مشرتابه د پلاوي د نشریاتي ډلې (BBG) دننه اغېزمن سمبالښت، احتساب او مثبت بدلون ته وده ورکول دي.[25] د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر د متحده ایالاتو په هر سفارت، ډیپلوماتیکه چوکۍ، نړیوالو نشریاتي تنصیباتو، او همدارز په دې وزارت کې په شاوخوا 40 بیوروګانو او دفترونو، او په BBG کې په نورو ادارو کې د پروګرامونو او فعالیتونو د نظارت مسوولیت پر غاړه لري. د عمومي مفتش د دفتر مشن دی چې خپلواکې پلټنې، معاینې، تحقیقات د دې لپاره ترسره کړي چې "مربوطی، وړتیا، اغېزمنتیا، او اقتصاد ته وده ورکړي؛ ضیاع، دوکه، ناسم استعمال، او ناسم سمبالښت معلوم کړي او مخه یې ونیسي؛ کمزورۍ وپېژني او د تعمیري حل لارو سپارښتنه وکړي؛ د وزارت او BBG د فعالیتونو د بهترولو لپاره ماهرانه مرسته وړاندې کړي؛ داسې معلومات په وخت ورسوي چې پرېکړه کول اسان کړي او حد کوونکې لاسته راوړنې ولري؛ او وزارت، BBG، او کانګرس په بشپړ ډول د تازه حال نه خبر وساتي."[26]

<u>د نظارت د راپورونو په اړه د سیګار ابتدایي ارزونه</u>

د 2008 کال د دسمبر په 1 نېټه، سیګار هغو ادارو ته د معلوماتو یوه غوښتنه ولېږله چې د افغانستان په بیا رغونه کې ونډه لري. د معلوماتو د دې غوښتنې هدف سیګار په دې توانول وو چې په افغانستان کې د نظارت د هڅو د پیل کرښه کېږدي. د معلوماتو دې غوښتنې په افغانستان کې د بیا رغونې د ټولو پیسو د مالي معلوماتو د ترلاسه کولو د یوې ذریعې په توګه هم کار وکړ. په غوښتل شویو معلوماتو کې لاندې شامل وو:

- د افغانستان د نظارت د هغو ټولو راپورونو عمومي لنډیزونه چې د مالي کال 2001 څخه راوروسته خپاره شوي دي

- د افغانستان د نظارت په اړه هغه ټولې رسمي سپارښتنې چې د مالي کال 2001 راهیسې معرفي شوې دي، په ګډون د هغو هم چې بنایي په تعقیبي راپورونو کې عملي کړای شوي وي
- ټول تعقیبي اقدامات چې د مالي کال 2001 راهیسې راپور شوي او یا پلي شوي وي، چې بنسټ یې پر موندنو او\یا سپارښتنو و

- د نظارت د ناترسره شویو او پلان شویو اقداماتو یو لست، په ګډون د هغوی د بشپړېدو د غوره کړای شویو نېټو

- د پېسو هغه اختصاصونه، ورکړې، او ضمني ورکړې چې د مالي کال 2005 راهیسې تر دې وخته د افغانستان د بیا رغونې سره تړلې وي

ټولو ادارو چې تماس ورسره نیول شوی و د معلوماتو پوښتنې ته ځواب ووایه. سیګار دا راپورونه راغونډ کړي دي او د موندنو تحلیل یې پیل کړی دی. لکه چې پورته یې بحث وشو، دا راپور به د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر، USAID د عمومي مفتش دفتر، او GAO پر معلوماتو تمرکز کوي. چوکاټ 2 د هغو راپورونو، سپارښتنو او پلان شویو راپورونو شمېر ښیي چې د اداري لخوا مونږ ته راکړل شوي دي.

| اداره | خپاره کړي راپورونه | کړې سپارښتنې | د 2009 کال لپاره پلان شوي راپورونه |
|---|---|---|---|
| **د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر** | 4 | 61 | 15 |
| **د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر** | 39 | 177 | 86 |
| **د USAID د عمومي مفتش دفتر** | 25 | 68 | 8 |
| **د حکومت د احتساب دفتر (GAO)** | 14 | 18 | 7 |

چوکاټ 2 – د اداري راپورونه او سپارښتنې

د دې راپورونو تحلیل یوه روانه هڅه ده. د ورکړل شویو راپورونو د موندنو، سپارښتنو او تعقیبونو د یوې ابتدایي ارزونې په توګه، سیګار د دې ادارو شریک موضوعات او د اندېښنې برخې راتلخیص کړې دي. راتلونکي برخې داسې چوکاټونه وړاندې کوي چې د اداري لخوا د نظارت بشپړ کړي او پلان کړي راپورونه د دغو ادارو د موندنو او سپارښتنو په اړه د سیګار د ابتدایي ارزونې سره انځوروي. برسېره پر دې، د دې ادارو لخوا د ترسره شویو د ورکړل شویو تعقیبي اقداماتو او راپورونو یوه لنډه عمومي کتنه هم پکې شامله کړای شوې ده.

د هرې یوې اداري لخوا د ورکړل شویو راپورونو لستونه د موضوعاتو د هغو ډولونو یوه ابتدایي کتنه وړاندې کوي چې مخکې یې تحقیق یا پلټنه شوې وه، او د بېلابېلو ادارو لخوا د راپور ورکولو تسلسل څرګندوي. دا چوکاټونه داسې جوړ شوي چې د راپورونو حواله په تېزۍ سره ورکړل شي؛ برسېره پر دې، د دې راپورونو د برېښنایي نقلونو د لینکونو لست په ۲ ضمیمه کې دی.

[1] د دفاع وزارت د عمومي مفتش په راپورونو او پروژو کې بیلابیلې برخې لکه پوځي او کاروباري عملیات شامل دي کوم چې په افغانستان او عراق کې د دفاع وزارت د هڅو ملاتړ کوي. د پلان شوي راپورونو په شمېر کې پلان شوي او روان راپورونه دواړه شامل دي.

د بهرنيو چارو د نظارت راپورونه

| اداره | د راپور سرليک | نېټه | د راپور لمبر |
|---|---|---|---|
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د دولت د ملکيت شخصي جايدادونه چي د منتخبو قرارداديانو لخوا نيول شوي | سپتمبر 7، 2008 | AUD/IQO-07-48 |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د قانون د حاکميت پروګرام | جون 3، 2008 | ISP-I-08-09 |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش – د دفاع وزارت عمومي مفتش** | په افغانستان کي د مخدره موادو د ضد پروګرام بين الاداري ارزونه | جولای 7، 2007 | ISP-I-07-34 (د دفاع وزارت د عمومی مفتش د دفتر لمبر IE-2007-005) |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | د افغانستان د پوليسو د روزني او چمتووالي بين الاداري ارزونه | نومبر 2006 | ISP-IQO-07-07 IE-2007-001 (د بهرنيو چارو د عمومي مفتش لمبر) |

چوکاټ 3 – د بهرنيو چارو د نظارت بشپړ شوي راپورونه

| اداره | د راپور سرليک |
|---|---|
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | د اقتصادي ملاتړ بوديجې – افغانستان |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په ګرده نړی کي د شخصي تحفظ د خدمتونو د شخصي تحفظ د تفصيل (WPPS) قراردادونه – بليک واټر (افغانستان) |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د ديپلوماتيک امنيت رول، عمله، او اغيزمنتيا |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په بغداد او کابل کي د سفارتونو د بيړني اقدام پلان |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په ګرده نړی کي د شخصي تحفظ د خدمتونو د شخصي تحفظ د تفصيل (WPPS) قراردادونه – بليک واټر (افغانستان) (د لاسته راوړني او مالي اړوند) |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د ماينونو د ليری کولو پروګرامونه |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د مخدره موادو ضد پروګرامونو اغيزمنتيا |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | د افغانستان د حکومتداری او بشري حقونو د پروګرامونو کتنه |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | د افغانستان د کډوالو د پروګرام کتنه |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د عامه ديپلوماسی پروګرامونه |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د پوليسو د روزني تعقيبي تکاملي جاج |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | د افغانستان د قانون د حاکميت د پروګرامونو تعقيبي تکاملي جاج |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کي د امنيتي مرستي اغيزمنتيا |

| | |
|---|---|
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کې د امنيتي پروګرامونو سمبالښت |
| **د بهرنيو چارو عمومي مفتش** | په افغانستان کې د نړيوالي همکارۍ د اداري ملاتړ خدمتونه |

چوکاټ 4 - 2009 کې د بهرنيو چارو د عمومي مفتش پلان شوي راپورونه

**موندني**

د بهرنيو چارو عمومي مفتش دفتر د نظارت راپورونو عموماً دا خبره موندلي چي پروګرامه ښه پلي شوي وو، خو دا چي يوې دوامداره، اوږدمهاله هڅې ته اړتيا وه. د داسي پروګرامونو لکه د پوليسو روزنه او د قانون د حاکميت د اقداماتو په اړه موندل شوې وه چي د دې لپاره يې دوامداره ملاتړ ته اړتيا لرله چي ښودل شوي اهداف يې لاس ته راوړل شي. د عمومي مفتش د دفتر لخوا په اضافي موندنو کې لاندې شامل وې:

- د ستراتيژيو د تعريفولو اړتيا
  - بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر د متحده ايالاتو د حکومت د قانون د حاکميت د پخوانيو پروګرامونو عارضي نوعيت ياد کړی.[27]
  - بېلګه: وزارت وموندله چي په افغانستان کې د متحده ايالاتو د حکومت د ادارو د عمومي اهدافو سره د مخدره موادو ضد ستراتيژۍ تړون ناواضح و.[28]
- د پروګرام د اغېزمنتيا د تکاملي چاج نشتوال
  - بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر ويلي دا واضحه نه ده چي ايا د قانون د حاکميت د پروګرامونو د اغېزمنتيا اندازه اخيستل کېږي که نه.[29]
- د مناسبو داخلي پروسيجرونو نشتوال
  - بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر وموندله چي د قراردادیانو لخوا د نيول شوي جايداد د نظارت معياري پروسيجرونه موجود نه وو. دې د جايداد په لړ کي د احتساب، واکمنۍ، او مسووليت نشتوالی رامنځته کړی.[30]

د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر په غير اداري، بين الاداري، او نړيوال انسجام کې هم ننګوني په ګوته کړې. دې دفتر د مناسبې عملي په ترلاسه کولو، لکه د مخدره موادو او قانون د تنفيذ (INL) د نړيوالي بيورو په پروګرامونو،[31] او د عملي د "جاري" بدلون، لکه د قانون د حاکميت په پروګرامونو کې،[32] مشکلات په ګوته کړي.

**سپارښتني**

د بهرنيو چارو د عمومي مفتش د دفتر لخوا ورکړل شوې ډېري سپارښتني په لاندې ډول وې:

- د محکمي عمله پراخول
  - بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر ډېر ځله د نويو چوکيو د جوړولو وړانديز وکړ، داسي لکه د قرارداد د افسر استازی چي د پوليسو د روزني سره به کار کوي.[33]
  - بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر د پوليسو د کورنيو چارو په وزارتونو کې د پرسونل د ورزياتولو سپارښتنه وکړه.[34]

- د يو سازمان د قوماندې په جوړښت کې بدلونونه يا وضاحتونه

- o بېلګه: د افغانستان د مخدره موادو ضد پروګرام بين الاداري ارزوني سپارښتنه وکړه چې د متحده ایالاتو د حکومت د مخدره موادو پروګرامونه دي د سمبالښت يو نوی موډل د دې لپاره خپل کړي چې پلان جوړول، نګراني، او انسجام بهتر کړي.[35]
- o بېلګه: د افغانستان د مخدره موادو ضد پروګرام بين الاداري ارزوني دا سپارښتنه هم وکړه چې په کابل کې دې سفارت د مخدره موادو ضد هڅو لپاره يو وزير-مشاور وټاکي.[36]

- د يو ستراتيژيک پلان پرمختيا او تطبيق
  - o بېلګه: د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر سپارښتنه وکړه چې د کابل سفارت دې يو داسي پلان جوړ کړي چې د قانون د حاکميت اداري د پوليسو د روزني او د اصلاحاتو د اقداماتو سره وصل کړي.[37]
  - o بېلګه: د دې سپارښتنه هم شوې وه چې د کابل سفارت دې د قانون د حاکميت د پروګرامونو لپاره يو داسي پنځه کلن ستراتيژيک پلان جوړ کړي چې د افغانستان د دولت د عدلي سکټور د ستراتيژۍ سره په ارتباط کې وي.[38]

د معياري تګلارو او پروسيجرونو، داسي لکه د قراردادیانو لخوا د جايداد د نيولو د کتني او نظارت د هغې، د جوړولو او تطبيقولو سپارښتنه هم شوې وه.[39]

**تعقيبوني**

لکه چې د جنوب لويديځې اسيا د پلټنې د پلان د مالي کال 2009 په تازه حال کې يې راپور ورکړل شوی، د بهرنيو چارو وزارت په ګڼ شمېر پخوا راپور شويو موضوعاتو د تعقيبونو پلان لري، په ګډون د پوليسو د روزني او د قانون د حاکميت د پروګرامونو. INL سيګار ته د هغو سپارښتنو تازه حال ورکړ چې د INL د پروګرامونو په اړه دي. د INL د پروګرامونو په اړه د بهرنيو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر لخوا د 12 سپارښتنو څخه له يوې پرته نورو ټولو په اړه بيورو راپور ورکړی چې تړل شوي او يا حل شوې ګڼل شوې دي.

<u>د دفاع وزارت د عمومي مفتش د نظارت راپورونه</u>

| اداره | د راپور سرليک | نېټه | د راپور لمبر |
|---|---|---|---|
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د صادراتو د تنفيذ په فعاليتونو کې د ډي او ډي ګډون | مارچ 28، 2003 | D-2003-070 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د ايتلاف د ملاتړ بوديجې | جنوري 16، 2004 | D-2004-045 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د دفاع د معلوماتو د سيستمونو اداري ته د مالي کال 2004 عاجله ضميمه يي بوديجه | اپريل 29، 2005 | D-2005-053 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د دفاع د لوژيستيکو د اداري لپاره عاجله ضميمه يي بوديجه | مي 9، 2005 | D-2005-045 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د افغانستان د ګډو ځواکونو د قوماندې د سمبالښت د پرېکړې موډل، د مرستي سفر | جولای 7، 2005 | IE-2005-A004 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د دفاع وزارت د مريض د حرکت سيستم | جولای 7، 2005 | D-2005-095 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د هغې مرستي تکاملي جاج چې د متحرک پوځ ملي محافظ او د متحده ایالاتو د پوځ ريزرو يونټونو ته ورکړل شوې وه | اګست 5، 2005 | IE-2005-A004 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | هغه قراردادونه چې د متحده ایالاتو د انجينيرانو د قول اردو لخوا د تروريزم پر وړاندې نړيواله جګړه کې د | اکتوبر 14، 2005 | D-2006-007 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | مرستي لپاره ورکړل شوي | | |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش-د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر** | د افغانستان د پولیسو د روزني او چمتووالي بین الاداري ارزونه | نومبر 14، 2006 | IE-2007-001 (د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر لمبر ISP-IQO-07-07) |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې دننه د ځای پر ځای کړای شویو ځواکونو د تجهیزاتو حالت | جنوري 25، 2007 | D-2007-049 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | په افغانستان کي د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام تطبیق | فبروري 28، 2007 | D-2007-064 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د متحده ایالاتو په اروپایي قوماندې کي د مخکي نه پر ځای کړای شویو وسلو سمبالول | مي 3، 2007 | D-2007-090 |
| **د دفاع وزارت عمومي مفتش** | د زغره والو موټرو لپاره د ترلاسه کولو تګلاره | جون 27، 2007 | D-2007-107 |
لکه چې په لاندې چوکاټ 15 کې ښودل شوي، د نامصرف شویو اختصاصي بودیجو ټول رقم 5.625 ملیارده ډالره دی، یا د هغو ټولو بودیجو 17% چې له 2001 راهیسې اختصاص شوي دي. د دفاع وزارت، د عدلیې وزارت په ملاتړ سره، د 2.238 ملیونه ډالرو، یا د خپل پروګرام د هدف د 11% حساب لري. د بهرنیو چارو وزارت د 816.1 ملیونه ډالرو، یا 44%، په داسې حال کې چې USAID تر دې نېټې د پروګرام د اهدافو لپاره د 1.862 ملیارده، یا 30% حساب لري. د USDA او د خزانې د وزارت د بشري مرستې ورکړې په بشپړ ډول مصرف کړای شوې دي او سیګار ته دا څرګنده کړای شوې ده چې په افغانستان کې د کډوالو\په داخل کې د بې ځایه شویو خلکو لپاره ښایي د نړیوالو اختصاصونو څخه بودیجې تاکل شوې وي، او همدا اساسي لامل دی چې مصرف د راغونډو شویو اختصاصونو څخه لوړ دی.[83] د پروګرام د ملاتړ ډالرې د ټولو ادارو نه د پاتې 784.4 ملیونه ډالرو، یا 52% د پروګرام د هدف د نامصرف شویو پیسو حساب لري. هغه اداري چې د پروګرام د ملاتړ د بودیجو سره مربوطې دي پکې شاملې دي د دفاع وزارت، بهرنی چارې، USAID، عدلیه، خزانه، USDA، او FBI.

| د پروګرام اهداف (په ملیونونو ډالرو کې) | اداري | اصلي ټول | مصرف شوي ټول | اوس ټولې نامصرف | اوس ټولې نامصرف |
|---|---|---|---|---|---|
| سوله او امنیت | د دفاع وزارت او عدلیه | 20,964.5 | 18,726.3 | 2,238.1 | 11% |
| حکومت کول په انصاف او دموکراتیک ډول | بهرنی چارې | 1,862.3 | 1,046.2 | 816.1 | 44% |
| په خلکو او اقتصادي وده کې پانګونه | USAID | 6,140.6 | 4,277.8 | 1,862.7 | 30% |
| بشري مرسته | USDA او خزانه | 1,686.3 | 1,776.0 | -89.7 | -5% |
| د پروګرام ملاتړ | ټولې اداري | 1,530.4 | 732.1 | 798.4 | 52% |
| ټول | ټولې اداري | 32,184.0 | 26,558.4 | 5,625.6 | 17% |

چوکاټ 15 – ترکیبي نامصرف شوې اختصاص شوې بودیجې[84]

لکه چې په لاندې ورکړل شوي چوکاټ 16 کې ښودل شوي، د نامصرف شويو بوديجو فيصدي له 2005 وروسته په تېزۍ سره لوړه شوه. د نامصرف شويو اختصاصي بوديجو ټول رقم تر 5.625 مليارده ډالرو پاتې دی، خو په دې موده کې د ټولو نامصرف شويو اختصاصي بوديجو فيصدي 30% ده. د دفاع وزارت، د عدليې وزارت څخه د لږ تر لږه مرستې سره په اړوندو اهدافي پروګرامونو کې، 16% ته لوړه شوه؛ د بهرنيو چارو وزارت 78% ته؛ او USAID 64% ته. د پروګرام د ملاتړ تقريباً 798.4 مليونه ډالر، يا 94%، نامصرف شوي يا نامنل شوي پاتې دي.

| د پروګرام اهداف له 2006 (په مليونونو ډالرو کې) | اداري | اصلي ټول | مصرف شوي ټول | اوس ټولي نامصرف | اوس ټولي نامصرف |
|---|---|---|---|---|---|
| سوله او امنيت | د دفاع وزارت او عدليه | $13,820.96 | $11,582.84 | $2,238.12 | 16% |
| حکومت کول په انصاف او دموکراتيک ډول | بهرنی چارې | $1,040.04 | $223.95 | $816.09 | 78% |
| په خلکو او اقتصادي وده کې پانګونه | USAID | $2,920.00 | $1,057.29 | $1,862.71 | 67% |
| بشري مرسته | USDA او خزانه | $307.72 | $397.42 | -$89.70 | -29% |
| د پروګرام ملاتړ | ټولې اداري | $845.12 | $46.76 | $798.36 | 94% |
| ټول | ټولې اداري | $18,933.84 | $13,308.25 | $5,625.59 | 30% |

چوکاټ 16 - له 2006 راهيسې نامصرف شوې اختصاص شوې بوديجې[85]

له 2003 راهيسې، ادارو په تسلسل سره راپور ورکړی چې لګښت د لاندې مسلو له امله ځنډول شوی دی:

- تقريباً هغه ټول تجهيزات او مواد چې ورته اړتيا وه په محلي توګه نه ترلاسه کېدل
- د مهمو موقعيتونو له ماينونو پاکول
- د امنيتي پېښو زياتوالی
- وارد شوي سامانونه او مواد د ګاونډيو هېوادونو د ګمرک د چارواکيو لخوا نيول شوي وه
- د خراب موسم د پيل له امله د تېزو شويو اهدافو د ترلاسه کولو توان اغېزمنول

سيګار داسې معلومات ترلاسه کړي چې وايي لاندې سببونه ښايي په لګښت کې د ځنډ لاملونه وو:

- په افغانستان کې رخصتۍ
- د افغان ملي اردو قوماندانانو د قراردادي نه غوښتنه چې د هغوی د اصلي قرارداد د ساحې څخه بهر کار وکړي
- د قراردادي لخوا د قراردادیانو د تعقیبولو د د دفاع وزارت د پروګرام د هم مهالي مخکې له ځای پر ځای کېدو او فعاليتي تعقيبوونکي په ډکولو کې ځنډ
- د قراردادي لخوا د دفاع د مرکز د بيمې د قانون په ترلاسه کولو کې ځنډ

- د قراردادي لخوا د تحریکي کمپ د جوړولو د هڅې پر مهال د محلي خلکو سره مسلې
- د کاري مېدان د انجینیر د ناتجربه کارۍ له امله ځنډېدنې
- د اخري کاروونکي یا مؤکل لخوا د قرارداد له ورکول کېدو وروسته خو د قراردادي له کار پیلولو وړاندې بدلونونه کول
- د ځمکې شخړې
- د تحریکولو هڅې په وخت سره نه پلي کېدل
- په پروګرام شویو پیسو د لوړو وړاندیزونو له امله د پیسو بیا غوښتل
- امنیتي ستونزې
- بې اتباره ضمني قراردادیان

سیګار به د هغو لاملونو معاینه وکړي چې ولې بودیجې نامنل شوې او نامصرف شوې پاتې دي.

# برخه 4 – د سیګار د ارزونې اساسي ځایونه

<u>د کتنې ځایونه</u>

سیګار د راتلونکي کال د کتنې لپاره درې مرکزي ځایونه پېژندلي دي:

- د داخلي کنټرولونو ارزونې او د متحده ایالاتو د ادارې (د بېلګې په توګه USAID، INL، CJTF-101 او CSTC-A) د سترو قرارداد کولو د آلاتو احتساب او کاري وړتیا کتل
- د داخلي کنټرولونو ارزونې او د مهمو افغان وزارتونو احتساب
- د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو د اغېزمنتیا او سمبالښت کتنې

<u>د سیګار د نظارت طریقې</u>

د سیګار د نظارت هڅې پنځه اساسي اهداف لري:

1. د متحده ایالاتو د اختصاص کړیو او نورو هغو بودیجو د سمبالښت او احتساب بهترول چې د متحده ایالاتو او افغانستان ادارو او د هغوی قراردادیانو ته د منلو او\یا مصرفولو لپاره په لاس ورکړل شوي
2. د ضعیفو داخلي کنټرولونو په پېژندلو او د مهم فساد او نورو غلطیو په تحقیق پلټنه کولو سره د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال مخنیوی کول
3. د بیا رغونې د عمومي ستراتیژۍ او د دې د جزوي پروګرامونو د اغېزمنتیا بهترول
4. د دقیق او متوازن معلوماتو، مشاهداتو، او سپارښتنو برابرول
5. په بل ډول په بیا جوړېدونکي افغانستان کې د متحده ایالاتو ګټې پر مخ وړل

سیګار د نظارت لپاره درې له یو بل سره تړلي آلې – پلټنې، معاینې، او تحقیقات – لري چې په مجموعي ډول به لاندې اهدافو ته ځواب وایي.

1. پلټنې د ثبوت سیستماتیکي معاینې دي، چې په عمومي توګه د حکومت لخوا د پلټنې کولو د منل شویو معیارونو په کارولو سره ترسره کېږي کوم چې د کمپټرولر جنرال لخوا تشریح شوي دي. (دې ته زیاتره وخت د "زیر کتاب" معیارونه ویل کېږي.) د دې معیارونو سره سم به د پلټنو په ترسره کولو سره سیګار د خپلو موندنو، پایلو، او سپارښتنو اعتبار ته پراختیا ورکوي. د سیګار نږدې ټولې پلټنې به د کاري وړتیا د کتلو هغه پلټنې وي چې د پروګرامونو او فعالیتونو د اقتصاد، وړتیا، اغېزمنتیا او نتیجو ارزونه به کوي. د کاري وړتیا دا پلټنې به ګڼ شمېر مسلې بحث کوي، چې په هغو کې د پروګرام پراخه اغېزمنتیا او لا زیاتې په پام کې نیول شوې قراردادي مسلې شاملې دي.
2. معاینې به ډېرې هماغه مسلې بحث کوي لکه پلټنې. معاینې د هغو تورونو په تېزۍ سره د ځوابولو لپاره ډېرې ښې دي چې د تماس د شمېرې یا نورو سرچینو له لارې ترلاسه شوې وي، ځکه معاینې په تېزۍ سره معلومولی شي چې ایا په لګول شوي تور کې وزن شته که نه او د یو تور د حل کولو ښه طریقه څه ده. برسېره پر دې، معاینې د

انفراسټرکچر د روانو او بشپړو شويو پروژو، او همداراز په هغو منتخبو موقعيتونو کې د فعاليتونو تکاملي جاج اخلي، چيرته چې معاينه کوونکي د پروژې يا فعاليت ارزونه د دې لپاره کولی شي چې د اصولو د نه تعقيب هغه ځايونه وپېژني کوم چې حل کولو ته اړتيا لري. معاينې به همدارنګه کله چې مناسب وي سمدستي سمونکي اقدامات هم پيل کوي د دې لپاره چې د قواعدو تعقيب يقيني کړي او ادارو او سازمانونو سره د حقوقي او راپور ورکولو د شرطونو په پوره کولو کې مرسته وکړي.

3. تحقيقات د فساد، غير قانوني فعاليت، يا نورو غلطيو د مهمو مثالونو کتنه کوي د دې لپاره چې لاربنودو مقاماتو ته د پرېکړو او اقداماتو لپاره يو ښه بنياد برابر کړي. تحقيقات به څرنګه چې لازمي وي وروسته داسي قضيې جوړوي چې د اړوندو چارواکيو لخوا يې محاکمه ترسره شي.

د سيګار هغه عمله چې پلټنې، معاينې، او تحقيقات ترسره کوي به د يو بل له اقداماتو او فعاليتونو سره په نږدې ارتباط کې وي.سيګار تمه لري چې د تحقيقاتو بنسټ به يې يوه برخه پر هغو اشارو وي چې د پلټنې او معاينې د ټيمونو لخوا ورکړل شوې وي. د پلټنې او معاينې عمله به د دې لپاره کار کوي چې د تحقيقاتو عملي ته ثبوت برابر کړي او هغه د برياليو محاکمو په ترسره کولو وتوانوي. برسېره پر دې، د هغو مسلو انتخاب چې پلټنه يې کېږي به يوه برخه د معاينو د موندنو پر بنسټ کېږي. عمومي مفتش او عمله به يې د قضيې پر قضيې بنسټ دا پرېکړې کوي چې د نظارت کومه آله يا د آلاتو جوړښت ډېر مناسب دی.

په داسي حال کې چې دا خپلې د نظارت هڅو ته دوام ورکوي، سيګار به:

- د خپل دې واک څخه کار اخلي چې د متحده اياالاتو د ګڼ شمېر ادارو سره کار وکړي؛
- خپل کار به د نورو عمومي مفتشانو او GAO د پخوانيو او روانو کارونو سره يو ځای او ښه کړي؛
- د پراخه کاري ساحې پلټنې او معاينې به ترسره کړي، کومې چې به په احتمالي ډول د پروګرام د بهتر تطبيق لپاره د سپارښتنو نتيجه ورکړي؛ او
- لا زياتې د دقيق تمرکز کتنې به ترسره کړي، کومې چې به د دې لپاره جوړې شوې وي چې د ضعيفو داخلي کنټرولونو مثالونه او د بوديجو ناغېزمن استعمال وپېژني، چې په هغې کې د ضياع، دوکې، او ناسم استعمال بېلګې شاملې دي.

کله چې پلټنې د پام وړ دوکې مثالونه معلوم کړي، نو سيګار به د داسي اقداماتو سپارښتنه وکړي چې د دې مسلې بيا پېښېده له منځه يوسي او يا يې کم کړي. برسېره پر دې، د نور اقدام لپاره به ثبوت د سيګار د تحقيقاتو عملي ته په لاس ورکړای شي.

سيګار به د خپلو پلټنو او معاينو له لارې په دې اړه معلومات وړاندې کوي چې ايا پروګرامونه خپل اهداف ترلاسه کوي او که نه. دا به د يو داسي چاپېريال په جوړولو کې مرسته وکړي کوم چې به د متحده اياالاتو په پروګرامونو او د افغانستان په هغو ادارو کې چې د متحده اياالاتو بوديجې ترلاسه کوي د فساد مخه نيسي او احتساب ته به وده ورکوي.

**د نظارت د سروی شالید**

د نظارت د پيل هغو کړنو ته ورته چې د دې راپور په برخه 2 کې ورته کتنه شوې، يوه د افغانستان د قرارداد کولو سروی د دې لپاره اړينه ده چې د بيا رغونې په منظره د داخلي کنټرول او د کاري وړتيا له نظره ځان وپوهول شي. د دې کار د پيلولو لپاره سيګار اراده لري چې د بيا رغونې د هرې سترې ادارې (د بېلګې په ډول USAID، INL، CSTC-A، او CJTF-101) او، په پړاوونو کې، د داخلي کنټرولونو نه د هر پروګرام د کاري وړتيا د پرمختګ په اړه د ټولو سترو

قراردادونو سروی ترسره کړي. د پلټنې د دې سروی بشپړېده به نورو دې سره یو ځای کېدونکو پلټنو، معاینو، او تحقیقاتو ته، څرنګه چې ورته لازم وي، لاره هواره کړي.

د پلټنو او معاینو لپاره د عمومي مفتش مرستیالان به، په افغانستان او مرکز کې او د بین الاداري پلټنې د ټولنې سره د مشاورتونو له لارې، خپلې لومړنۍ مهمې پلټنې او معاینې پیل کړي. تمه ده چې دا به د مالي کال 2009 په دویمه درې میاشتنۍ کې پیل شي. د سیګار په هڅو کې بنايي لاندې خبرې شاملې وي:

- د بیا رغوني ستراتیژیو او سرچینو جوړولو ته کتنه
- د هغو تجربو چې په عراق کې زده شوي د افغانستان په بیا رغونه کې تطبیقېدل
- د مهمو افغان وزارتونو (د مالیې وزارت او امنیتي وزارتونو) دننه د کنټرولونو او احتساب ارزوني چې کمزورۍ وپېژندل شي او د داسې اقداماتو سپارښتنه وشي چې افغان چارواکي یې د متحده ایالاتو د پروګرامونو په ملاتړ سره د دغو کمزوریو د له منځه وړلو لپاره ترسره کولی شي.
- د متحده ایالاتو د بیا رغوني لپاره د هغو بودیجو چې له 2004 راهیسې مصرف شوي په تړاو د انفراسټرکچر د اوسنۍ انرژۍ ارزونه
- د ANDS سره سم د مهمو دولتي سکټورونو، لکه عدلي سیسټم او د قانون حاکمیت، د جوړولو او پیاوړي کولو د بین الاداري هڅو ارزوني
- د CERP د هغو بودیجو د استعمالولو پلټنې او معاینې چې د پي ار ټیمونو لخوا کارول شوي، په ګډون د داخلي کنټرولونو او د احتساب د میکانزمونو د ارزونو
- د دې پرتلیزې ارزوني چې څرنګه د متحده ایالاتو بېلابېلې اداري د بودیجو د استعمال نګراني د دې لپاره کوي چې ښه کارونه او ضعیف لینکونه وپېژني
- د نامنل شویو بودیجو او د منل شویو د نه مصرفېدو معاینې
- د ولایتي بیا رغوني ټیمونو ارزوني
- د بیا رغوني د تر ټولو سترو قراردادونو سروی ګاني څو مشخص قراردادونه او ضمني قراردادونه وپېژندل شي

د سیګار د مهمو هڅو لست به هغه وخت پکې ځای کړای شي چې د کاري ساحې لومړني سفرونه بشپړ کړای شي.

<u>د ولایتي بیا رغوني ټیمونه</u>

د دې راپور 2مه برخه په نظارت کې یو څه خاص خلاوې راښکاره کوي. پي ار ټیمونو ته د افغانستان د بیا رغوني دننه د یو مهم جزو په توګه کتل کېږي. لدې امله چې دا ګڼ اداري جوړښتونه دي، نو پي ار ټیمونه اساساً د یوې ادارې د نظارت د سازمانونو د نظارت د هڅو مخه نیسي. خو سیګار په داسې ناشنا ډول جوړ شوی چې د ټولو ادارو د حدونو نه تېرېږي او د


پي ار ټي د فعالیت د مهمو اجزاو ارزونه او کتنه کوي، چې په هغو کې قومانده او کنټرول، عامه ستراتیژي، عام معیارونه، مناسبې سرچینې، او ورسره د تړلیو قراردادونو داخلي کنټرولونه شامل دي.

د پي ار ټیمونو په اړه لاندې معلومات د هغو برخو څخه د یوې د بېلګې په توګه کار ورکوي چې سیګار به پرې تمرکز کوي.

**تاریخ**

پي ار ټیمونه ګډ ملکي-نظامي یونټونه دي او د دې لپاره جوړ شوي دي چې د افغانستان د دولت د اثرورسوخ او واک په پراخولو سره د افغانستان په بیا رغونه او امنیت کې مرسته وکړي. پي ار ټیمونه یو پوځي جزو د یو ملکي عنصر سره یو ځای کوي، او په دې توګه ملکیانو ته اجازه ورکوي چې په ناخوندي سیمو کې د بیا رغونې هڅې ترسره کړي. پي ار ټیمونه اصلاً په افغانستان کې د تلپاتې ازادۍ د عملیاتو پر مهال عملي کړای شوي وو، کله چې د متحده ایالاتو ځواکونو د ایتلافي بشري ارتباط مرکزونه جوړ کړل، چې عمله یې د پوځ د ملکي چارو سرتېري وو، او وظیفه یې بشري ستونځو ته ځواب ویل د بیا رغونې کوچنۍ پروژې عملي کول وو.[86] د 2002 په پای کې، دا ټیمونه د لومړیو پي ار ټیمونو په جوړولو سره پیاوړي کړای شول؛ په نویو ټیمونو کې د تحفظ پیاوړی ځواک او د متحده ایالاتو د حکومت د ادارو عمله دواړه شامل وو. متحده ایالاتو خپل لومړنی پي ار ټي په ګردېز کې په 2002 کې جوړ کړ او وروسته یې نور پي ار ټیمونه په بامیان، کندز، مزار شریف، کندهار، او هرات کې د 2003 په پیل کې.[87] د پي ار ټیمونو په اصلي اهدافو کې یو د افغانستان د مرکزي حکومت اثرورسوخ پراخول وو. څرنګه چې پي ار ټیمونه زیات پاخه شول، نو د هغوی په اهدافو کې هم د محلي حکومتدارۍ پیاوړي کول او د ټولنې پرمختیا شامله شوه.

څرنګه چې ایساف په افغانستان کې په 2003 کې خپل واک پراخ کړ، نو دې هم پي ار ټیمونه جوړول پیل کړل، چې 8 یې د 2003 او 2006 ترمنځ جوړ کړل. په همدې موده کې، د OEF ځواکونو 17 نور پي ار ټیمونه جوړ کړل.[88] څرنګه چې د متحده ایالاتو ځینو پي ار ټیمونو بنسټ زیات پوخ شو، نو متحده ایالاتو د هغوی قومانده خپلو ایتلافي او د ایساف شریکوالو ته ورکول پیل کړل. ایساف ته د OEF د ټولو پي ار ټیمونو د کنټرول انتقال د 2006 د اکتوبر په 5مه بشپړ شو، کله چې ایساف د ختیځ افغانستان قومانده په لاس کې واخیستله.[89] دا مهال 14 هېوادونه په افغانستان کې د ټولو 26 پي ار ټیمونو مشري کوي، چې متحده ایالات یې د 12 ټیمونو په لرلو سره تر ټولو مخکې ملت دی.[90] د پي ار ټي د موقعیتونو د نقشې لپاره، وګورئ انځور 4؛ د اوسنیو پي ار ټیمونو او د هغوی د ملتونو د لست لپاره، وګورئ چوکاټ 17.




انځور 4 – د پي ار تي د موقعیتونو نقشه[91]

| پي ار تي | مخکښ ملت |
|---|---|
| اسعداباد | متحده ایالات |
| باګرام | متحده ایالات |
| بامیان | نیوزي لینډ |
| چغچران | لیتوانیا |
| فراه | متحده ایالات |
| فیض اباد | المان |
| ګردیز | متحده ایالات |
| غزني | متحده ایالات |
| هرات | ایتالیه |
| جلال اباد | متحده ایالات |
| کندهار | کاناډا |
| خوست | متحده ایالات |
| کندز | المان |

| پي ار تي | مخکښ ملت |
|---|---|
| لښکرګاه | برتانیه |
| لوګر | چیک جمهوریت |
| مزار شریف | سویډن |
| مهترلام | متحده ایالات |
| میمنه | ناروی |
| نورستان | متحده ایالات |
| پنجشیر | متحده ایالات |
| پول خمري | هنګري |
| قلعه نو | هسپانیه |
| قلات | متحده ایالات |
| شرنه | متحده ایالات |
| ترین کوټ | هالینډ |
| وردک | ترکیه |

چوکاټ 17 – د پي ار تي د موقعیتونو لست[92]

**عامه ستراتیژي**

څرنګه چې پي ار ټیمونه د متحده ایالاتو او د دې د ناټو او ایتلافي ملګرو لخوا جوړ شوي وو او ملاتړ یې کېده، نو د پي ار ټیمونو ګڼ شمېر جلا جلا موډولونه جوړ شوي وو چې په هغو کې امریکایي، برتانوي، او الماني موډولونه وو (وګورئ چوکاټ 18).

| د پي ار ټي موډولونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مخکښ ملت | اوسط پرسونل | مشرتابه | مشن | د عملیاتو سیمه |
| متحده ایالات | 50-100 (3-5 ملکیان) | نظامي قوماندان | د تېز اغېز په پروژو تاکید | عموماً ناکراره سیمې |
| برتانیه | 100 (30 ملکیان) | ملکي مشرتابه | د ظرفیت په لوړولو تاکید | په ناکراره سیمو کې د کار کولو توان |
| المان | 400 (20 ملکیان) | دوه ګوني مشرتابه (یو نظامي، یو ملکي مشر) | د اوږدمهاله دوام په پرمختیا تاکید | عموماً زیاتي اساني سیمې |

چوکاټ 18 – د پي ار ټي موډولونه[93]

د مرستي ورکوونکیو هېوادونو وړتیاوې او سیاسي ترجیحات د یو پي ار ټي په کار او فعالیت درووند اثر غورځوي.[94] هغه عمومي لارښودنه چې ایساف د پي ار ټي په لاسکتاب کې ورکړل شوې رهبري هېواد ته د دې اسانتیا اجازه ورکوي چې د سیمییزو شرایطو سره سمه پي ار ټي برابر کړي. د 2006 په افغانستان کې د پي ار ټیمونو بین الاداري ارزوني د دې اسانتیا ګټې بحث کړي، خو دې ته یې "دوه سری تلوار" ویلی؛ دې ارزوني د لارښودني د کموالي له امله رامنځته شوی ذهني ګډوډي داسي تشریح کړې چې "پي ار ټي د څه په اړه دی، دا باید د څه په اړه وي، او د دې محدودیتونه باید څه وي." د متحده ایالاتو د سولې د اداري یو راپور معلومه کړې چې د پي ار ټي په لارښودنو کې د مشخصیت نشتوالي رهبري ملتونو ته اجازه ورکړې چې د خپلو ملي ګټو او سیمییزو شرایطو سره سم دغه لارښودني ترجمه او عملیات ترسره کړي، چې په دې توګه یې په افغانستان کې د امنیت او بیا رغوني چارو ته یوه نامربوطه، او عارضي لاره نیولې ده.[95]

هر رهبري ملت د خپل پي ار ټي لپاره په خپله د ستراتیژۍ پرېکړه کوي. د پي ار ټیمونو لخوا اخیستل کېدونکي او ورسره مرسته کېدونکي پروژې د هر پي ار ټي لخوا په خپل سر پرېکړه کېږي. په ANDS کې، افغان دولت پي ار ټیمونه هڅوي چې خپلې هڅې د دغه سند د ترجیحاتو او پروسو سره برابر کړي او دولت ته د ټولو فعالیتونو راپور ورکړي، څو د کارونو د دویم ځلي کولو څخه ډډه وشي. خو، د ووډراو ولسن سکول اف پبلک اینډ انټرنیشنل افیرز لخوا د پي ار ټیمونو په اړه یو تحلیل دا نتیجه رااېستلې چې "د ګڼ شمېر پي ار ټیمونو اهداف او موخې نه خو په واضح ډول منظم شوي او نه ورته معیارونه ټاکل شوي دي."[96]

د پي ار ټي د سیستم له اصلي اهدافو څخه یو د افغانستان د مرکزي دولت اثرورسوخ پراخول وو.[97] څرنګه چې پي ار ټیمونه زیات پاخه شول، نو د هغوی په اهدافو کې هم د ټولنې پرمختیا شامله او د محلي حکومتدارۍ پیاوړي کول شامل شو. په اپریل 2008 کې د متحده ایالاتو د خلکو د استازو د وسله والو خدمتونو د کمېټې د نظارت او پلټنو په اړه ضمني کمېټې راپور ورکړ چې نه د دفاع او نه د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د هر پي ار ټي لپاره کومه اوږدمهاله ستراتیژي، مشن او اهداف جوړ کړي وو. په جون 2008 کې د افغانستان د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ په راپور کې د دفاع وزارت د متحده ایالاتو د پي ار ټیمونو لپاره د مشن لاندې بیان ورکړی:

> "د ولایتي بیا رغوني ټیمونه به د افغانستان د اسلامي جمهوریت سره د هغې د واک په غځولو کې مرسته کوي، د دې لپاره چې د عملیاتو په پېژندل شویو برخو کې د یو باثباته او خوندي چاپېریال په پرمختیا کې اسانتیا برابره کړي، او د امنیت د سکټور ریفورم او بیا رغوني هڅې وتوانوي."

د دفاع وزارت ویلي چې د متحده ایالاتو پي ار ټیمونه د ایساف لخوا د ورکړل شوي عمومي لارښودني لاندې کار کوي او د "عملیاتو څلور مهمې کړنې" يې وړاندې کړې چې د پي ار ټیمونو د مشخصو فعالیتونو لارښودنه کوي:


- د مشروعو مقاماتو اغېزمنتیا زیاته کړي؛
- د نامشروعو مقاماتو اغېزمنتیا کمه کړي؛
- د مشروعو مقاماتو مشروعیت زیات کړي؛ او
- د نامشروعو مقاماتو مشروعیت کم کړي.

د دفاع وزارت راپور پي ار ټیمونه په افغانستان کې د دې د تروریزم ضد هڅې د برخې په توګه تشریح کړي. د پي ار ټیمونو هڅې چې د ولایتي کچې د دولتي چارواکیو روزنه کوي ښې حکومتدارۍ ته وده ورکوي، کومه چې په بدل کې د قانون د حاکمیت لپاره په سیمییزه توګه درناوی قوي کوي.

**قومانده او کنټرول**


په افغانستان کې ټول پي ار ټیمونه د ایساف تر کنټرول لاندې دي، خو هره پي ار ټي د خپل رهبري ملت د تاکتیکي کنټرول لاندې دی؛ د يو پي ار ټي رهبري ملت د دې د سایز، جوړښت، او مشن پرېکړه کوي.[98] د بېلګې په ډول، په افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ ټول پي ار ټیمونه د سیمییزې قوماندې ختیځ د CJTF-101 لخوا انسجام کېږي، پرته د زابل له پي ار ټي، کومه چې ثبات لپاره د متحده ایالاتو د قوماندې د جنرال د مرستیال د رارسېدو سره سیمییزې قوماندې جنوب ته هم راپور ورکوي. هره سیمییزه قومانده د ایساف قوماندان ته راپور ورکوي. برسېره پر دې، د متحده ایالاتو د ملکي پي ار ټي پرسونل، کوم چې د پوځي قوماندې د لاندې نه راځي، د اداري معاملاتو لپاره د کابل په سفارت کې د متحده ایالاتو اړوندې ادارې ته راپور ورکوي.

ټول پي ار ټیمونه په کابل کې د دفتر لرونکي پي ار ټي عمومي اداري کمېټې (PRT ESC) لخوا هم د تګلارې لارښودنه ترلاسه کوي، د کومې چې په دوو مسوولینو کې يو د ایساف قوماندان (څوک چې د USFOR-A د قوماندان په توګه هم دوه ګونی مسوولیت لري) او دویم د افغانستان د کورنیو چارو وزیر دی، او نور یکې په کابل کې د متحده ایالاتو سفیر، د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی، د سرتېرو د ورکوونکو ملتونو سفیران، د افغانستان د مالیې وزیر، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی، او د ناټو لوړرتبه ملکي استازی شامل دي. د پي ار ټي کمېټه خپلې فعالیتي مسلې د پي ار ټي يوې ماتحتې کاري ډلې ته سپاري، په کومه کې چې د ملګرو ملتونو او اړوندو سفارتونو استازي شامل دي. په افغانستان کې د پي ار ټي د قوماندې او کنټرول د جوړښت د يو انځور لپاره، وګورئ انځور 5.




انځور 5 – د پي ار ټي قومانده او کنټرول[99]

د پنجشېر له پي ار ټي پرته، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نورو ټولو پي ار ټیمونو مشري پوځي پرسونل کوي؛ خو، د پوځي مشرۍ قومانده د غیر د دفاع وزارت ملکي جزو سره نده. د متحده ایالاتو په مشرۍ د 12 نه په 10 پي ار ټیمونو کې، پوځي رهبري د عملیاتو د ترسره کولو پاره د 4-کسیز بین الاداري سمبالښت د ټیم سره کار کوي. په ډېرو پي ار ټیمونو کې د بین الاداري سمبالښت د ټیم درې ملکیان په پي ار ټي کې د متحده ایالاتو یواځیني ملکیان وي؛ په یو د متحده ایالاتو په مشرۍ او دوه د نړیوالو په مشرۍ پي ار ټیمونو کې یو اضافي د USAID استازی دی ځوک چې د بدیل پرمختیا د پروګرام مسوولیت په غاړه لري. د متحده ایالاتو د یو تشکیلي چارټ لپاره وګورئ انځور 6.




--- ملکي چارواکي کورنیو ادارو ته راپور ورکوي

سرچینه: د GAO لخوا د دفاع، بهرنیو چارو د وزارتونو، USAID او USDA د معلوماتو تحلیل

انځور 6 – افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د پي ار ټیمونو جوړښت[100]

د متحده ایالاتو پي ار ټیمونه عموماً د 50 نه تر 100 تنو پرسونل څخه جوړ شوي دي، په ګډون د 3 نه تر 5 د متحده ایالاتو د حکومت ملکیانو او\یا قراردادیانو. د متحده ایالاتو پي ار ټیمونه عموماً د نظامي پولیسو د یو یونټ، د رواني عملیاتو د یو یونټ، د چاودېدونکو توکیو\ماینونو د لیرې کولو د یو یونټ، د یو استخباراتي ټیم، معالجینو، د ځواک د ساتنې د یو یونټ، او د اداري او ملاتړي پرسونل څخه جوړ وي. په ځینو پي ار ټیمونو کې څلور یا پنځه افغانان هم شامل وي چې د ترجمانانو، د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت د استازو په توګه کار کوي، او یا پکې د USAID اضافي عمله وي.

د متحده ایالاتو هر پي ار ټي ته واک ورکړل شوی چې د بهرنیو چارو د وزارت، USAID، او USDA څخه د عملي یو یو غړی شامل کړي؛ د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکوي چې دا مهال له یو پرته ټولې چوکۍ ډکې دي (وګورئ چوکاټ

19). د خلکو د استازو د وسله والو خدمتونو د کمېټي د نظارت او تحقيقاتو ضمني کمېټي راپور ورکړی چې دواړه ملکي اداري او د دفاع وزارت د داسي بااستعداده او اړوندو مهارتونو او تجربو لرونکو کسانو په موندلو کې مشکلات لري چې په پي ار ټيمونو کې يې شامل کړي.[101]

| پي ار تي | نظامي | | ملکي | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | بهرنۍ چارې | | USAID | | USDA | |
| | واک | او\ایچ | واک | او\ایچ | واک | او\ایچ | واک | او\ایچ |
| اسعداباد | 69 | 89 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| باګرام | 63 | 63 | 0 | 0 | 2 | 1 | 1 | 1 |
| فراه | 99 | 99 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| ګردېز | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| غزني | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| جلال اباد | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| خوست | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| مهترلام | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| نورستان | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| پنجشېر | 55 | 55 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| قلات | 99 | 99 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| ښرنه | 88 | 88 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| **ټول** | **1021** | **1021** | **11** | **11** | **13** | **12** | **12** | **12** |

چوکاټ 19 - افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار ټيمونو کې ملکي او نظامي پرسونل[102]

متحده ایالات د امريکايي حکومت 20 تنه ملکيان په نړيوالو پي ار ټيمونو کې په کار کولو هم لري؛ د جنوري 2009 سره سم، د USAID 11 او د بهرنيو چارو د محکمې 9 تنه پرسونل په غير امريکايي پي ار ټيمونو کې کار کوي.[103] برسېره پر دې، د بهرنيو چارو محکمې، USAID، او USDA په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او مشن ته هم 12 تنه پرسونل ورکړی چې د پي ار ټيمونو مرسته وکړي.

د ملي امنيت د ولسمشرۍ فرمان 44 (دسمبر 2005) په واضح ډول د بهرنيو چارو وزارت ته د متحده ایالاتو پس له جګړې د بيا رغونې د هڅو د انسجام لپاره د رهبري اداري صلاحيت ورکوي. خو، د دفاع وزارت فرمان 3000.05 (نومبر 2005) د ثبات عملياتو ته د "جګړې د عملياتو په پرتله د متحده ایالاتو د پوځي مشن عمده ترجيح" اعلانوي. دواړه اداري، او ورسره USAID هم، په افغانستان کې مشخصي علاقمندۍ او واکونه لري. د پي ار تي اړوندو فعاليتونو بين الاداري انسجام د کاري مېدان او هېواد په کچه ترسره کېږي، خو د اداري کچې پلان جوړوني عموماً د اداري لخوا په واشنګټن کې ترسره کېږي او لېږل کېږي. داسي کوم ولاړ، د اداري کچې بين الاداري سازمان نشته چې په مشخص ډول د پي ار تي د بين الاداري فعاليتونو ارتباط يا نګراني وکړي.[104]

**سرچيني برابرول**

د پي ار تيمونو د فعاليت لګښتونه د رهبري ملت مسووليت دی. د متحده ایالاتو د مشرۍ پي ار تيمونو لپاره، تقريباً د ټولو فعاليتونو د لګښتونو، لکه امنيت، د ژوند ملاتړ، دوامداري، او د کور چارې، لپاره د دفاع وزارت بوديجه ورکوي. د د دفاع وزارت له مخې، د پي ار تي لګښتونه په افغانستان کې د فعاليت د نورو لګښتونو څخه جلا نه کتل کېږي او د متحده ایالاتو د حکومت هغه ملکي اداري چې د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار تيمونو ته پرسونل ورکوي د دفاع وزارت ته د هغوی د مامورينو د مرستي پيسي بېرته نه ورکوي.[105] د اګست 2007 سره سم، په افغانستان کې د يو پي ار تي په سر د متحده ایالاتو کلنی لګښت شاوخوا 20 مليونه ډالر دی.[106]

د پي ار ټي د بيا رغوني د هڅو لپاره په ټول افغانستان کې د بوديجو بهير نشته؛ د پي ار ټي د عملياتو بوديجه هم د رهبري ملت لخوا انسجام کېږي. د متحده ايالاتو په مشرۍ پي ار ټيمونو په اصل کې د د دفاع وزارت د سمندرپورې بشري مصيبت او ښاري مرستي (OHDACA) د بوديجي څخه پيسي کارولې. خو اوس، د متحده ايالاتو په مشرۍ پي ار ټيمونه د اقتصادي ملاتړ د بوديجي (ESF) او د د دفاع وزارت د CERP څخه بوديجي ترلاسه کوي. GAO سپارښتنه کړې چې د پي ار ټيمونو لخوا کارول کېدونو بوديجو کانګرسي نظارت دې زيات کړای شي، او د اپرېل 2008 د يو راپور له مخې، د خلکو د استازو د وسله والو خدمتونو د کمېټې د نظارت او تحقيقاتو ضمني کمېټې د GAO څخه غوښتنه کړې چې د پي ار ټي د لګښتونو د معلوماتو په اړه يوه مطالعه ترسره کړي.[107]

په افغانستان کې د پي ار ټي د لګښت زياتره پېسي د عاجل اغېز پروژو (QIP) ته ځي، کومي چې لنډمهاله، د کوچنۍ کچې پروژې وې او د دې لپاره جوړې شوې وې چې د USAID د پي ار ټي د عاجل اغېز د پروګرام د برخې په توګه "په ټولو ولايتونو کې د دولت لاسرسی او اغېز پراخ کړي او د بهترې ازادۍ او اقتصادي فعاليت يو چاپېريال جوړ کړي".[108] د USAID له مخې، د عاجل اغېز زياتي پروژې د انفراسټرکچر کوچنۍ پروژې دي، داسي لکه د اوبه خور سيستمونه، د پاکو اوبو رسول، د سرکونو بهترول، د برېښنا کوچني سيستمونه، او د دولتي ودانيو، ښوونځيو، او کلينکونو جوړول يا نوي کول؛ د عاجل اغېز د پروژو بوديجي برسېره پر دې د دولت د ظرفيت د لوړولو، د وظيفو پيدا کولو، کوچنيو مالي مرستو، د جنس اړوند فعاليتونو، او د رسنيو د پروژو د ملاتړ لپاره کارول شوې دي.[109]

په اکتوبر 2006 کې، USAID د عاجل اغېز د پروژو په ځای يو بل پروګرام، د سيمييزې حکومتدارۍ او ټولنې د پرمختيا (LGCD) پروژه پېل کړه، او په سپتمبر 2007 کې، LGCD د عاجل اغېز د پروژو په ځای په افغانستان کې د ESF د مرستو د لګولو د اساسي مصرفوونکي په توګه رامخې ته شو. LGCD اوس هم د انفراسټرکچر کوچنيو پروګرامونو ته بوديجه ورکوي لکه د عاجل اغېز پروژو چې ورکولې، خو د دې تاکيد د سيمييزو حکومتونو د ظرفيت پياوړي کولو، په سيمييزه حکومتدارۍ کې د ټولني فعاله ونډې اخيستلو ته هڅولو، او د هغو پرمختيايي مسلو حل کولو ته بدل شوی دی چې په سيمييزه توګه د بې ثباتۍ او د ياغيتوب د ملاتړ لپاره کار کوي.[110]

د CERP بوديجي د کانګرس لخوا په پي ايل 108-106 کې په عراق او افغانستان کې د نظامي قوماندانانو د سمدستي بوديجې د سرچينې په توګه جوړې شوې وې تر څو "د عاجلې بشري اسانتيا او د بيا رغوني غوښتو" ته ځواب ووايي او د متحده ايالاتو د پي ار ټي د بوديجو يواځينی پروګرامي سرچينه ده.[111] د د دفاع وزارت د مالي سمبالښت د قاعدې جلد 12، باب 27، په مشخص ډول د CERP د بوديجو قانوني کاروني ښيي، چې په هغې کې لاندې برخې شاملې دي: اوبه او نالى ويستل؛ د خوړو توليد او تقسيم؛ کرنه؛ برېښنا؛ روغتيا؛ زده کړې؛ تليفوني مخابرات؛ اقتصادي، مالي او د سمبالښت بهتروني؛ ترانسپورت؛ د قانون حاکميت او حکومتداري؛ اوبه خور؛ د ښاري پاکولو فعاليتون؛ د ښاري ملاتړ موټرې؛ د ښاري او کولتوري اسانتياو ترميم؛ او نورې عاجلې بشري او د بيا رغوني پروژې. قوماندانان د دې نه منع کړای شوي دي چې د CERP بوديجي د متحده ايالاتو د پرسونل مربوط يا غيرمربوط ګټې؛ تفريح؛ د وسلو د اخيستلو د پروګرامونو، او يا د نورو وسلو او مهماتو د اخيستلو؛ د جايزو د پروګرامونو؛ د ناچاودېدلو آلو د ليرې کولو؛ د هغو خدمتونو د نقل چې د ښاروالې د حکومتونو لخوا موجود وي؛ يا د افغان پوځي يا ملکي حکومت د پرسونل د معاشونو لپاره استعمال کړي. تر 25،000 ډالرو پروژو منظوري قوماندانان ورکولی شي؛ د CERP هغه پروژې يا فعاليتونه چې له 25،000 ډالرو زياتي بوديجي ته اړتيا لري لازمه ده چې د قوماندان د مشرانو لخوا منظورې شي.

**اغېزمنتيا**

د پي ار ټيمونو په اړه په اپرېل 2008 کې د خلکو د استازو د وسله والو خدمتونو د کمېټې د نظارت او تحقيقاتو د ضمني کمېټې راپور څرګنده کړې چې هر څو که په افغانستان کې د پي ار ټيمونو د مثبتو اغېزو بياني ثبوت شته، خو د پي ار ټي پروګرام د اغېزمنتيا د معلومولو لپاره کومه معياري پيمانه نشته. د متحده ايالاتو د ستراتيژيکو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره د پي ار ټيمونو د پرمختګ د تکاملي جاج اخيستلو لپاره نه د بهرنيو چارو او نه د دفاع وزارت کوم معياري پروسيجرونه

جوړ کړي دي. دې راپور دا هم څرګنده کړې چې د پي ار ټیمونو او د هغوی د هڅو د معیار، اغېز، او ګټورتیا په اړه د معلوماتو برابرولو لپاره کوم معیارونه ندي جوړ شوي. هر څو که پي ار ټیمونو د خپلو بشپړو کړو پروژو او مصرف کړو ډالرو ډاټا راغونډه کړې ده، خو دا احصایې د پي ار ټي د اغېزمنتیا د معلومولو لپاره کفایت نه کوي.

د جنوري 2009 سره سم، د بهرنیو چارو محکمې راپور ورکړی چې په سیمییزه قومانده-ختیځ کې د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار ټیمونه وخت په وخت د عملیاتو په درېو کرښو (حکومتداري، امنیت، او پرمختیا) باندې په ولسوالیو او ولایتونو کې د پرمختګ په اړه راپور ورکوي.[112] دا راپورونه د کنډک هدف ځواکونو ته او بیا د سیمییزې وزارت-ختیځ د قوماندې جنرال او د متحده ایالاتو د سفارت عملي ته ورکول کېږي. دا راپورونه د پي ار ټي د هڅو یو بشپړ انځور نه وړاندې کوي خو د ولایتونو او ولسوالیو یوه پراخه ارزونه وړاندې کوي.

د بهرنیو چارو اداره برسېره پر دې راپور ورکوي چې دا مهال د سیمییزې قوماندې-ختیځ، ایساف مرکز، CSTC-A، USFOR-A، او د متحده ایالاتو د سفارت د ادارو لخوا داسې هڅې رواني دي چې د قوماندانانو د فعالیتي ارزونې دا لنډ راپورونه د ملکي ادارو ارزونو او نتیجو ته وغځوي. اوس لا زیات تاکید د بهترو "نتیجو" ښودونکو په راوړلو کېږي ځکه چې د اوسنیو ښودونکو زیات دروند تمرکز په سرسري خاکو (لکه پروژې بشپړې شوې، ډالر مصرف شول، او داسې نور) دی.[113]

لکه د متحده ایالاتو د سولې د ادارې پس له جګړې د سولې او ثبات د عملیاتو د مرکز مشر پروګرام افسر رابرټ پیریټو چې د 2007 د اکتوبر په 18مه کانګرس ته په خپله ګواهۍ کې وویل چې، "له موافقه شویو اهدافو پرته، د اغېزمنتیا قضاوت کول ګران دي. د پي ار ټیمونو لپاره د یو جلا، موافقه شویو اهدافو د سیټ اړتیا ده، په داسې حال کې چې د هغوی د کاري وړتیا د پیمانه کولو لپاره د نورو موافقه شویو پیمانو ضرورت دی. د داسې کومې ذریعې په غیاب کې چې ایا پي ار ټیمونه اغېزمن دي که نه، د دې پرېکړه کول مشکل دي چې ایا متبادل میکانزمونه به زمونږ اهداف په بهتره طریقه لاس ته راوړي شي که نه."

**د عراق د پي ار ټیمونو سره پرتله**

په داسې حال کې چې د عراق او افغانستان پي ار ټیمونه یو بل ته ورته مشنونه لري، خو د هغوی جوړښتونه عموماً مختلف دي. هر څو که دا ستاینه په عراق کې د متحده ایالاتو پخواني سفیر زلمي خلیلزاد ته ځي چې په افغانستان کې د سفیر په توګه د خپلې پخوانۍ وظیفې په توګه یې په عراق کې پي ار ټیمونه معرفي کړل، خو د عراق پي ار ټیمونه خپلو افغان سیالانو ته ډېر ورته والی نه لري.[114] د پي ار ټي مفکوره همداسې د افغانستان نه عراق ته نه وه انتقال کړای شوې، بلکې سیمییزې وضعې سره د برابرولو لپاره پرې بیا غور شوی و. د پي ار ټي د دواړو پروګرامونو ترمنځ تر ټولو غټ توپیرونه د قوماندې او جوړښت دي. په افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د پي ار ټیمونو مشري د نظامي پرسونل لخوا کېږي، او د امنیت جزو د ټیم برخه ده. خو په عراق کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د پي ار ټیمونو مشري د بهرني خدمت د افسر لخوا کېږي، او د پي ار ټي د امنیت عنصر د پي ار ټي برخه نده. په افغانستان کې د پي ار ټیمونو لپاره د متحده ایالاتو موډل تقریباً په بشپړ ډول په نظامي پرسونل جوړ دی، چې یواځې یو کوچنی ملکي عنصر لري، په داسې حال کې چې د عراق پي ار ټیمونه د متحده ایالاتو د حکومت زیات ملکیان کاروي. د افغانستان او عراق د پي ار ټیمونو ترمنځ د توپیرونو د یوې عمومي کتنې لپاره وګورئ چوکاټ 20.

| | افغانستان | عراق |
|---|---|---|
| د متحده ایالاتو په مشرۍ پي ار ټیمونو شمېره | 12 | 28 |
| د نړیوالو په مشرۍ پي ار ټیمونو شمېره | 14 | 3 |
| د متحده ایالاتو د پي ار ټیمونو ډولونه | 12 د ولایتي کچې پي ار ټیمونه | – 11 د ولایتي کچې پي ار ټیمونه<br>– 13 د محلي کچې وصل پي ار ټیمونه (اي پي ار ټیمونه) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | – 4 کوچني د ولایتي ملاتړ ټیمونه (پي ایس ټي) چي د امنیتي ستونځو له امله د اړوند ولایت څخه بهر فعالیت کوي | |
| د مشرۍ ټیم | د دفاع وزارت: د هوایي ځواک ډګرمن یا د بحریې سي ډي ار | بهرنیو چارو وزارت: د بهرني خدمت افسر | |
| د متحده ایالاتو د یوې یوې پي ار ټي عمله | 102-58 (3-5 ملکیان) | پي ار ټیمونه – 45-10<br>اي پي ار ټیمونه – 20-10 | پي ایس ټیمونه – تر 10 |
| د متحده ایالاتو د پي ار ټي ټوله عمله | 1055 | 450 | |
| استازيتوب لرونکي امریکايي اداري | د بهرنیو چارو وزارت<br>USAID<br>USDA | د بهرنیو چارو وزارت<br>USAID<br>USDA | انصاف<br>تجارت |
| امنیت | د ټیم د نظامي یونټونو لخوا نیول کیږي | د نظامي یونټونو او شخصي امنیتي قراردادیانو لخوا ورکول کیږي | |

چوکاټ 20 – د افغانستان او عراق د پي ار ټي پرتله

لنډیز


په راتلونکیو میاشتو کي، سیګار پلان لري چي د سیګار د قرارداد د پلټني او د پي ار ټي د فعالیت په مخکي بحث شویو برخو تمرکز وکړي. تر دي نېټي، سیګار په دي درجه کي ندی چي په دي اړه د راپورونو وختونه او نېټي ورکړي. په افغانستان کي د دفتر له جوړېدو سره، سیګار کولی شي د کار د ځای او سیمییزو موقعیتونو څخه خپلي هڅي راغونډې کړي او په دې هڅو کي مخکي لاړ شي.

د پي ار ټیمونو په برخه کي د لومړنیو هڅو په ترڅ کي سیګار پنځو پي ار ټیمونو ته سفرونه کړي دي. په هر سفر کي د پي ار ټي د ستراتیژۍ، قوماندې او کنټرول، او سرچینې پیدا کولو، او همداراز محلي والیانو سره د لیدني یوه کتنه شامله کړای شوې وه تر څو د محلي دولتدارۍ د اهدافو او ننګونو سره د پي ار ټیمونو په چوکاټ ځان وپوهول شي. دا هڅي به هغه وخت نورې هم تېزې شي چي په افغانستان کي د سیګار مستقیم دفتر په بشپړ ډول فعال شي.

# برخه 5 – د سيګار تازه معلومات

د سيګار تشکيلاتي ډيزاين


د سيګار ترکيبي جوړښت داسې شوی چې په افغانستان کې د بيا رغوني د هڅو په اړه د نظارت په وخت او جامع راپورونه برابر کړي. د سيګار ډي.سي. د داسې برخو نه جوړ دی چې سيګار ته معلومات ورکوي؛ پلټنې، معاينې او تحقيقات ترسره کوي؛ او د سيګار د حقيقت موندنې په اړه غوښتل شوي راپورونه تياروي. سيګار ته د دوکې، ضياع، او ناسم استعمال تورونه په يو شمېر طريقو رسېږي، چې په هغې کې د زياتي يادونې وړ د تماس شمېره ده کومه چې اوس په متحده اياالاتو او افغانستان دواړو کې کار کوي. لدې امله چې په افغانستان کې پرسونل ډېر ځي راځي، دا مهمه ده چې د پلټونکو، معاينه کوونکيو، او تحقيق کوونکيو يو فعال ټيم په متحده اياالاتو او افغانستان دواړو کې وسائل شي څو د موجودو معلوماتو څخه کار واخلي. د سيګار تشکيلي ډيزاين لاندې ښودل شوی دی.




انځور 7 – د سيګار تشکيلاتي چارټ

د سیګار افغانستان دفتر

د سیګار افغانستان دفتر به د پلټن، معاینو، او تحقیقاتو د برخو څخه جوړ وي، په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت او په هېواد کې په درېو نورو ځایونو کې ټیمونو سره به مربوط وي. په افغانستان کې د سیګار د دې مستقیم دفتر لومړني عناصر په جنوري 2009 کې ځای پر ځای شوي دي. د دې دفتر مشري د سیګار د عمومي مفتش اساسي مرستیال (PDIG) کوي او تمه کېږي چې په راتلونکو څلورو میاشتو کې به دومره وده وکړي چې درې سټلایټ دفترونه پکې شامل شي کوم چې به په ټول افغانستان کې موقعیت ولري. په افغانستان کې د سیګار د دفتر جوړښت لاندې ښودل شوی دی:




انځور 8 - د افغانستان دفتر تشکیلاتي چارټ

برسېره پر پلټنو، معاینو، او تحقیقاتو، په افغانستان کې د سیګار د نظارت د فعالیتونو یوه بله مهمه برخه د تماسونو ترلاسه کول او د هغوی مخ پر وړاندې وړلو سیستم دی. دا شمېره به شکایتونه او تورونه ترلاسه کوي، ثبتوي، او پر مخ وړي. د تماس د شمېرې عمله به د دې لپاره لومړنۍ ارزوني کوي چې معلومه کړي نور اقدام ورته پکار دی که نه. د افغانستان د تماس شمېره د کورنۍ شمېرې سره پیوسته ده او په افغانستان کې هر څوک – که هغه محلي تن وي، د ایتلاف د شریکوال مامور وي، د امریکا د حکومت مامور وي، او که قراردادي وي – په دې توانوي چې سیګار ته د دوکې، ضیاع یا ناسم استعمال یا نورو غلطیو شکایتونه وکړي.

د سیګار بودیجه

د متحده ایالاتو کانګرس د مالي کال 2008 د څلورمي درې میاشتنۍ لپاره 2 ملیونه ډالر اختصاص کړل او 5 ملیونه اضافي ډالر یې د مالي کال 2009 لپاره د مالي کال 2008 د ضمیمه یې اختصاصونو څخه ورکړل. سیګار د مالي کال 2009 لپاره خپله د بودیجې اندازه د 23.2 ملیونه ډالرو په اندازه داخل کړه. سیګار وروسته د ټولو 16 ملیونه ډالرو اختصاصي بودیجو لپاره د 2009 د ځواکمن امنیت، د مصیبت د مرستې، او د دوامداره اختصاصونو د قانون څخه 9 ملیونه ډالر نور اختصاص کړل.

| اختصاصونه | عامه قانون | اختصاص شوي | ورکړل شوي | وخت ختمېږي | رقم |
|---|---|---|---|---|---|
| د مالي کال 2008 لپاره ضمیمه یي اختصاصونه، ایچ ار2642 | پي.ایل. 110-252 | 2008\30\6 | 2008\30\6 | 2009\30\9 | 2،000 ډالر |
| د مالي کال 2008 لپاره ضمیمه یي اختصاصونه، ایچ ار2642 | پي.ایل. 110-252 | 2008\30\6 | 2008\30\6 | 2009\30\9 | 5،000 ډالر |
| د ځواکمن امنیت، د مصیبت د مرستي، او د دوامداره اختصاصونو د قانون، 2009 | پي.ایل. 110-329 | 2008\30\9 | 2008\30\9 | 2010\30\9 | 9،000 ډالر |
| | | | | | |
| ټول | | | | | 16،000 ډالر |

چوکاټ 21: د سیګار د بودیجو لنډیز (په ملیونونو کي)

په داسي حال کي چي دا 16 ملیونه ډالر به سیګار ته اجازه ورکړي چي شاوخوا 37 تنه مستقیم مامورین په کار وګوماري او د ملاتړ د خدمتونو، ځای، او لوژیستیکي ضرورتونو لپاره پیسي ورکړي، دا د هغو 23.2 ملیونه ډالرو څخه کمي دي چي په اول کي یي غوښتنه د دې لپاره شوي وه چي د نظارت په فعالیتونو کي د دې دفتر چارې په اغېزمن ډول عملي کړای شي.

دې 16 ملیونو په هغو تفصیلي ارزونو، تکاملي جاجونو او تحلیلونو محدودیت کېښود چي په اغېزمنه توګه د هغو 32 ملیارده ډالرو بشري او د بیا رغوني مرستي نګراني وکړي چي د متحده ایالاتو لخوا ورکړل شوي دي. د 2008 د دسمبر په 3مه سیګار په رسمي توګه د مالي کال 2009 د ضمیمه یي بودیجي لپاره د سمبالښت او بودیجي دفتر ته د 7.2 ملیونه ډالرو یوه غوښتنه وړاندي کړه تر څو د تشکیلاتي سرچینو کمی پرې بشپړ کړای شي.

**د ګډي اعلامیي بیانیه**

د 2008 د اکتوبر په 21مه د سیګار د ګډي اعلامیي بیانیه په ترتیب سره د د بهرنیو چارو د وزارت د مرستیال سکرتر او د دفاع د وزارت د مرستیال سکرتر لخوا لاسلیک شوه. دې بیانیي د سیګار جوړېدل د قانون په توګه او د افغانستان د نظارت د یوې خپلواکي او مقصدي اداري په توګه یاد کړ، چي په درې میاشتو کي به کانګرس ته راپور ورکوي. دواړو محکمو د سیګار لپاره خپل ملاتړ یاد کړ. په بیانیه کي د ادارو دننه ماتحتو محکمو ته دا لارښودنه شامله کړای شوې وه چي د سیګار په تطبیق کي همکاري او مرسته وکړي. دغه بیانه په ضمیمه 4 کي ورکړل شوې ده.

په دې بیانیه کي د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال سکرتر او د دفاع د وزارت مرستیال سکرتر څرګنده کړې چي:[115]

> "د بهرنیو چارو د محکمي او د دفاع د محکمي دننه ټول اجزاء به خپله پوره همکاري او مرسته له سیګار سره کوي چي دا په دې توګه د افغانستان د بیا رغوني د فعالیتونو د نظارت او احتساب د وړاندې بوتلو لپاره خپل مشن د قانون سره سم پوره کړي."

د 2008 د عمومي مفتش د ريفورم قانون

سيگار د 2008 د اکتوبر په 14مه د ايي جي د ريفورم د قانون د لاسليک کولو مننه کوي. د سيگار د راتلونکو فعاليتونو او واکونو لپاره د يو لارښود په توگه دغه قانون په ضميمه 4 کي ورکړل شوی دی.

د سيگار د افغانستان سفرونه

سيگار د دې راپور د مودې دننه افغانستان ته څلور سفرونه ترسره کړي دي. د دې سفرونو پر مهال د سيگار د عملي غړيو د افغانستان د دولت مهمو چارواکيو سره اړيکي جوړې کړې، د متحده ايالاتو د حکومت د ادارو د هغو افرادو سره يې وليدل چې د افغانستان د بيا رغوني په هڅو کي کار کوي، او هغه معلومات يې تيار کړل چې د دې درې مياشتني راپور سره اړوند وو. برسېره پر دې، په کابل او د افغانستان په نورو ځايونو کي د سيگار د مستقيمو دفترونو د جوړولو په لړ کي د لا زيات تياري په لور پرمختگ وکړای شو.

په هغو مهمو رهبرانو کي چې د سيگار افسرانو ورسره وليدل شامل دي:

- لوی څارنوال
- د کنټرول او پلټني د دفتر محتسب
- د افغانستان د سترې محکمي عالي منتظم
- د افغانستان د سترې محکمي قاضي القضاة
- د سيمييزې حکومتدارۍ د خپلواک رياست رييس
- د کرني وزير
- د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې وزير
- د دفاع وزير
- د دفاع د وزارت عمومي مفتش
- د معارف وزير
- د انرژی وزير
- د ماليي وزير
- د کورنيو چارو وزير
- د عدليي وزير
- د عامي روغتيا وزير

برسېره پر دې، د سيگار ټيم د لاندې امريکايي ادارو د استازو سره هم وليدل:

- د CSTC-A قوماندان
- د ايساف قوماندان
- DEA
- د دفاع د اتاشي دفتر
- د دفاع د جنايي تحقيق خدمت
- انصاف، لوړپوړي قانوني مشاورين
- FBI
- د USAID د مشن مسوول
- د بهرنيو چارو وزارت، INL
- د بهرنيو چارو وزارت، د پي ار ټي مسوول
- په افغانستان کي د قرارداد کولو د مسووليت اساسي مرستيال
- افغانستان ته د متحده ايالاتو سفير
- د متحده ايالاتو د پوځ د جنايي تحقيق قومانده
- د متحده ايالاتو د سفارت د سمبالښت مشاور
- د متحده ايالاتو د سفارت د سيمييز امنيت افسر
- USAID
- USAID، د دموکراسی او حکومتدارۍ دفتر
- USAID، سيمييز ايي جي
- USACE، د پي ار ټي مسوول
- USFOR-A، د POLMIL مسوول

دې ټيم د يو شمېر ايتلافي شريکوالو سره هم کتلي، چې په هغوی کې شامل دي:

- د برتانيي سفارت، د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې مرستيال مسوول، د برتانيي سفارت
- د عمومي منشي د ځانګړي استازي مرستيال، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې مشن

د سيګار ټيمونو د لاندې ځايونو څخه ليدنه وکړه:

- د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د انصاف مرکز
- د ګردېز پي ار ټي
- د خوست پي ار ټي
- د کجکي بند
- د لښکرګاه پي ار ټي
- د مزار شريف پي ار ټي
- د ترين کوټ پي ار ټي

<u>د سيګار د مرستې شمېره</u>

سيګار د مهمي ضياع، دوکې او ناسم استعمال د راپور ورکولو لپاره يوه د تماس شمېره جوړه کړې ده. د دې لپاره چې د عامه ولس، د متحده ايالاتو د حکومت د مامورينو، قراردادیانو، او په محلي توګه په کار ګومارل شوي افغان عملي څخه معلومات راغونډ کړای شي، د سيګار د تماس شمېره يوه وقف او وړيا امريکايي 800 لمبر والا تليفوني شمېره، وړيا فاکس شمېره، په افغانستان کې د تليفون شمېره، په افغانستان کې د متحده ايالاتو شمېره، د برېښناليک پته، او د سيګار د وېبپاڼې لينک لري. د يوې رسمي دعوې د داخلولو لپاره کاروونکي hotline.sigar.mil ته برېښناليک کولی او يا دې وېبپاڼې ته ورتللی شي http://www.sigar.mil/hotline/Default.aspx.

سيګار سره د تماس د معلوماتو په وېبپاڼه د خپرولو برسېره، يو د تماس پوستر هم جوړ کړای شوی دی. د سيګار د تماس پوستر په انګليسي کې په متحده ايالاتو کې د متحده ايالاتو په هغو ادارو، سازمانونو، او قراردادیانو د وېشلو لپاره جوړ کړای شوی و چې د افغانستان د بيا رغونې په هڅو کې ونډه لري. يو دويم پوستر چې په درېو ژبو (دري، پښتو، او انګليسي) کې به وي به په ټول افغانستان کې د وېشلو لپاره جوړ کړای شي. برسېره پر دې، د افغانستان په تلويزونونو او راديوګانو د تماس د دې معلوماتو په اړه اعلانونه راروان دي.

<u>د سيګار د انسجام هڅې</u>

پي ايل 110-118 سيګار ته مسووليت ورکوي چې په افغانستان کې د نظارت د مسووليتونو دننه د هڅو د کوارډيناتور په توګه کار وکړي. د بيا رغونې د هڅې د پراخه او ستري کچې په پام کې نيولو سره، نګراني په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ماليه ورکوونکيو د بوديجو او د ويش او د قرارداد د عملي کولو او سمبالښت د وړتيا او اغېز لپاره مهمه ده. سيګار دې ته هم ژمن دی چې په راتلونکي موقع (اپرېل 2009) کې *جنوب لويديځې اسيا لپاره د 2009 د قوي پلټنې د پلان* لاسليک کوونکی جوړ شي.

سيګار د افغانستان د بيا رغوني په تړاو د نظارت د بېلابېلو پروګرامونو لپاره د کوارډيناټور د رول د ترسره کولو په مهم ارزښت پوهېږي. د دې لپاره چې د خپل دفتر د نظارت او انسجام مسووليتونه سر ته ورسوي، د سيګار د عملي لوړپوړو افسرانو د نظارت د مهمو ادارو د لوړپوړو چارواکيو سره ليدلي دي، چې په هغوی کې شامل دي:

- د بهرنيو چارو د وزارت د د عمومي مفتش دفتر لوړپوړې عمله
- د USAID د د عمومي مفتش دفتر لوړپوړې عمله
- د دفاع وزارت عمومي مفتش لوړپوړې عمله
- د دفاع د تماس د شمېرې لپاره د د دفاع وزارت رييس، دا هغه شمېره ده چې د د دفاع وزارت د ټولو مهمو شکايتونو، پېښو او معلوماتو لپاره کارول کېږي
- د GAO لوړپوړې عمله
- په افغانستان کې د متحده ايالاتو د پوځ د جنايي تحقيق د قوماندې د يونټ مسوول ځانګړی اجنټ

سيګار اراده لري چې د انسجام دې هڅو ته ادامه ورکړي. سيګار به د سينټکام د عمومي مفتش او په افغانستان کې د USAID د سيمييز عمومي مفتش سره د ليدلو لپاره وختونه برابر کړي. د سيګار هغه عمله چې افغانستان کې ځای پر ځای شوې به د متحده ايالاتو د حکومت د عمومي مفتش د عملې سره هم په تماس کې وي.

<u>د سيګار د معلوماتو غوښتنه</u>

د 2008 په فبروری کې به سيګار د اړوندو ادارو څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي څو کانګرس ته د راتلونکي راپور لپاره ترې مرسته واخلي. د دې معلوماتو د غوښتنې تمرکز به هغه اقدامات پېل کول وي چې د دې راپور په برخو 2، 3، او 4 کې لا د مخه وړاندې شوي دي. په مشخص ډول غوښتل شويو معلوماتو کې دا شامل دي:

- اداري لخوا د ټولو اختصاصونو، ژمنو او مصرفونو د دوامداره حالت تازه حال
- د د دفاع وزارت د عمومي مفتش، د بهرنيو چارو د وزارت د عمومي مفتش، د USAID د عمومي مفتش د دفتر او GAO لخوا د افغانستان د بيا رغونې په اړه د نظارت د خپرو کړيو راپورونو د تعقيبي اقداماتو په اړه تصفيه شوي معلومات
- له 2005 راهيسې د افغانستان د بيا رغونې لپاره د اداري (USAID، INL، د دفاع وزارت، او بهرنيو چارو د وزارت) د نامنل شويو، ضمني نامنل شويو، او نامصرف شويو اختصاصي بوديجو تفصيلي وضاحتونه
- د هغو پيسو او د هغو غټو قراردادونو د ورکولو د پروسې لست کول چې پيسې يې د هغه حد نه اوړي چې وروسته به يې پرېکړه کېږي
- د هغو سترو قراردادونو، قرارداديانو، او همکارانه موافقو (ټوليزو) لست کول چې د متحده ايالاتو د حکومت د هرې اداري لخوا کارول شوي او د غټو اختصاصي بوديجو د ضمني ټاکني د بوديجو تفصيلي ډاټا.

# ضميمې

**ضميمه 1** – منتخب اصطلاحات او تعريفونه

**ضميمه 2** – د نظارت راپورونو او وېبپاڼو ته لينکونه

**ضميمه 3** – د ګډې اعلاميې بيانيه

**ضميمه 4** – د 2008 د عمومي مفتش د ريفورم قانون

**ضميمه 5** – لنډيزونه او مخففات

**ضميمه 6** – پاليليکونه

# ضميمه 1
## منتخب اصطلاحات او تعريفونه

**د افغانستان تړون**
په جنوري 2006 کې، 64 هېوادونو او 11 نړيوالو سازمانونو په افغانستان باندې د لندن په کنفرانس کې ګډون وکړ او د افغانستان تړون منظوري يې ورکړه، دا يوه سياسي ژمنتيا وه چې ښودل يې نړيواله ټولنه بايد څرنګه د افغانستان بيا رغونې ته پيسې ورکړي. دې تړون د راتلونکو پنځو کلونو لپاره افغانستان سره د نړيوالې همکارۍ لپاره يوه لايحه جوړه کړه. د تړون موخه دا وه چې افغانستان په دې وتوانوي چې لا زيات پر ځان متکي شي، او هغه نړيوالې ټولنې سره په داسې همکارۍ کولو چې د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا لپاره برابر شرايط جوړ کړي. دې تړون د فعاليت لپاره درې مهمې او پر يو بل متکي ستنې وپېژندلې: چې هغه امنيت، حکومتداري (د قانون حاکميت او او بشري حقونه) او اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا دي. يو بل مهم جزو يې د مخ پر زياتېدونکي مخدره موادو د صنعت د له منځه وړلو ضرورت هم وپېژنده.

**2002 د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA)**
ای ايف ايس ای په بنسټيزه توګه د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو اقتصادي، دموکراتيکه او نظامي مرسته زياته کړه. دې د متحده ايالاتو د هغو اهدافو د ملاتړ لپاره مادي وټاکلې چې خاکه يې د بون په موافقه کې وړاندې شوې وه او په افغانستان کې د متحده ايالاتو د حکومت اهداف د يو داسې دموکراتيک رياست جوړول وړاندې کوي چې د نړيوال تروريزم، د مخدره موادو د قاچاق او کر په وړاندې مبارزه کوي، د خپلو ګاونډيانو سره په سوله وي؛ او د دې توان ولري چې خپل داخلي او خارجي امنيت وساتي.

**د افغانستان د بين الاداري عملياتو ډله (AIOG)**
دا ډله په افغانستان کې د متحده ايالاتو د حکومت لخوا بوديجې ورکړل شوې د ولايتي بيا رغونې ټيمونو د انسجام لپاره مهمې پرېکړې کوي. په دې ډله کې د بهرنيو چارو د وزارت، نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې، د دفاع د وزارت، او د هغو نورو ادارو استازي شامل دي چې مرستې ورکوي. دا رسمي بين الاداري کمېټه ولسمشر ته د پاليسۍ د کچې د پرېکړو د جوړولو او خبر ورکولو او د ادارو ترمنځ د معلوماتو د شريکولو لپاره مربوطه پروسه برابروي. په افغانستان کې، د متحده ايالاتو مرسته د متحده ايالاتو د سفارت د دغه هېواد د ټيم له لارې انسجام کېږي، هر څو که ځينې خاصې د بوديجې ورکولو پروسې، داسې لکه CERP، ښايي د قوماندان په خوښه عملي کړای شي.[116]

**د افغانستان د بيا رغونې د اعتبار بوديجه (ARTF)**
ای ار ټي ايف د ګڼو مرستندويانو د اعتبار بوديجه ده چې د افغانستان د بيا رغونې د هڅو په ملاتړ کې د نړيوال بانک لخوا اداره کېږي. په 2002 کې د دې له جوړېدو راوروسته، ای ار ټي ايف د افغانستان د دولت د تسلسلي بوديجې لپاره د مالي مرستې مرکزي سرچينه ده، خو د دولت د بيا رغونې په پروګرام کې يې ترجيحي پانګونو ته هم زياته مرسته ورکړې ده.

**د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ANDS)**
د 2008 د اپرېل په 21مه د ولسمشر حامد کرزي لخوا لاسليک شوې ANDS د "افغانستان د پرمختيا اصلي نقشه ده؛" دا د امنيت، حکومتدارۍ، اقتصادي ودې، او د غربت د کمولو په برخه کې د بهترۍ ستراتيژۍ لري. دا د پاليسۍ سند د افغان دولت لخوا جوړ شوی و او بنسټ يې د ملګرو ملتونو د زرکلنې پرمختيا پر اهدافو او پر افغانستان تړون دی؛ دا د افغانستان د غربت د کمولو د ستراتيژۍ د سند په توګه هم کار کوي. ANDS په 2020 کال کې افغانستان لپاره د حکومت ليد وړاندې

کوي او د هغو درېو ستنو دننه چې په افغانستان تړون کې يې خاکه وړاندې شوې وه مشخص اهداف وړاندې کوي چې په کلونو 2008-2013 کې به لاس ته راوړل کېږي.

---

**اختصاص**

دا د مرکزي حکومت د ادارو لپاره قانوني واک دی چې د مشخصو اهدافو لپاره ژمني ترلاسه کړي او د خزانې څخه پېسې راوباسي. د خلکو د استازو د دواړو جرګو د قواعدو له مخې، د اختصاص يو قانون بايد د واک ورکړې قانون سازی عملي کول تعقیب کړي. د اختصاص د قوانينو ستر ډولونه عادي، ضميمه يي، کمبښتي، يا دوامي دي. د اختصاص عادي قوانين هغه ټول اختصاصي قوانين دي چې ضميمه يي، کمبښتي، يا دوامي نه وي. دا مهال، عادي کلني اختصاصي قوانين چې د مرکزي محکمو، ادارو، او مختلفو حکومتي فعاليتونو د دوامي فعاليت لپاره بوديجې ورکوي په کلني ډول پرې د کانګرس لخوا غور کېږي. وخت په وخت د ضميمه يي اختصاص قوانين هم فعالېږي. کله چې د مالي کال له پیل کېدا مخکې په عادي اختصاصي بلونو اقدام بشپړ نشي، نو په يو بل کې يو دوامي قرارداد يا ګډ قرارداد ښايي د دې لپاره فعال کړای شي چې د اغېزمنو شويو ادارو لپاره د ټول کال لپاره، تر مشخصې نېټې پورې، او يا تر هغه وخته چې د هغوی عادي اختصاصونه فعال شي، بوديجې ورکړي. يو د کمبښتي اختصاص قانون د هغې بوديجې واک ورکوي چې هغه ژمنې پوره کړي چې د ترلاسه کېدونکې بوديجې د واک څخه اوړي.[117]

---

**د بون موافقه**

د بون کنفرانس د افغانستان د سياسي بيا رغونې لپاره د يوې داسې پروسې د جوړولو نتيجه ورکړه چې د يو نوي اساسي قانون منل پکې شامل وو او د افغانستان د سياست د بېلابېلو ډلو ترمنځ د يوې مهمې موافقې د برخې په توګه يې د دموکراتيکو ټولټاکنو غوښتنه وکړه.

---

**د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP)**

CERP د دې لپاره جوړ شوی و چې په عراق او افغانستان کې سيمييز قوماندانان په دې وتوانوي چې د خپل مسووليت د سيمو دننه د داسې پروګرامونو په ترسره کولو چې په سمدستي توګه ځايي خلکو سره مرسته وکړي عاجلې بشري مرستې او د بيا رغونې ضرورتونو ته ځواب ووايي.

---

**ژمنتيا**

د ټاکل شويو بوديجو، او يا د نورو بوديجو، د هغوی د ژمنتيا په تمه اداري ساتنه. د مرکزي ملکيت په حساب کې، يوه ژمنتيا ښايي د شتمنيو د خرڅ لپاره اراده هم څرګنده کړي (د بېلګې په ډول دولت ته د ټولنيزې بيمې د ګټې ورکولو لپاره).[118]

---

**د دفاع د قرارداد د پلټنې اداره (DCAA)**

د دفاع د دويم سکرتر (کمپټرولر) د واک، لارښودنې او کنټرول د لاندې د دفاع د قرارداد د پلټنې اداره د دفاع د وزارت د ټولو قراردادي پلټنو او د د دفاع وزارت د ټولو هغو اجزاو د قراردادونو او ضمني قراردادونو په تړاو د حساب او مالي مشورې خدمتونه ورکوي کوم چې د قرارداد د ترلاسه کولو او اداري مسووليت پر غاړه لري. دا خدمتونه د قراردادونو او ضمني قراردادونو د مذاکراتو، اداري، او حل کولو په تړون کې ورکول کېږي. ډي سي ای ای د حکومت ځينو نورو ادارو ته هم د قرارداد د پلټنې خدمتونه برابروي.

---

**مصرفوني**

هغه پېسې چې د مرکزي ادارو لخوا، نغدې يا د نغدو برابر، د مالي کال پر مهال د حکومت د ژمنتياو د پوره کولو لپاره مصرف شي. د "مصرفولو" د اصطلاح په ځای د "لګښت" اصطلاح هم کارول کېږي. د بوديجې په استعمال کې، اصلي مصرفوني د هغو پيسو چيکونو ته چې خپاره شوي وي او يا هغو نغدو او نورو پيسو ته چې ورکړل شوې وي، او هغه چې لږې پکې بېرته ترلاسه شوې وي، وايي. اوس مصرفوني هغه اصلي مصرفوني دي چې د اختصاصي بوديجې حساب ته يې

لږ عاید راغونډ شوي او ورکړل شوي وي، داسې لکه هغه پیسې چې د ورکړل شویو سامانونو او خدمتونو په بدل کې ترلاسه شوي وي.[119]

**مالي کال**

د وخت یوه موده چې په تجارتونو او نورو ادارو کې د مالي بیانونو د کلني حساب کتاب لپاره کارول کېږي. په ډېرو ځایونو کې د حساب او ماليې په اړه نافذ قوانین په هرو دولسو میاشتو کې یو ځل داسې راپورونه غواړي، خو دا نه لازمي چې ګنې هغه موده چې راپور پرې جوړ وي دې د کلیز کال وي (لکه د جنورۍ نه تر دسمبره). مالي کالونه په بېلابېلو تجارتونو او هېوادونو کې بېلابېل وي. مالي کال د مرکزي حکومت د حساب موده ده. دا د اکتوبر په 1 نېټه پیلېږي او د سپټمبر په 30مه پای ته رسي. د بېلګې په ډول، مالي کال 2003 د 2002 د اکتوبر په 1 پیلېږي او د 2003 د سپټمبر په 30مه پای ته رسي.[120]

**د بهرنۍ مرستې لایحه**

د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د اوسنۍ مرستې بنسټ د بهرنۍ مرستې پر لایحه دی، چې دا بهرنۍ پرمختیا لپاره د بودیجو ورکولو یوه لایحه ده. لکه څرنګه چې 2008 لپاره د بهرنیو چارو د وزارت د کانګرس د بودیجې په جواز کې تاکل شوي، د بهرنۍ مرستې د لایحې لارښودنه د بودیجو ورکولو په لاندې پنځو اهدافو کېږي: سوله او امنیت، حکومت په انصاف او دموکراتیک ډول کول، په خلکو کې پانګونه کول، اقتصادي وده، او بشري مرسته. دا لایحه د هغو دموکراتیکو او په ښه ډول حکومت کوونکیو ریاستونو په پرمختیا کې د مرستې د هدف ملاتړ کوي چې د خپلو خلکو ضرورتونو ته ځواب وایي، پراخه غربت کموي او په نړیوال سیستم کې خپل مسوولیت ترسره کوي.[121]

**نړیوال سوله ساتی ځواک (ایساف)**

ایساف په افغانستان کې د ناټو مشن دی. د ایساف په مهمو نظامي اهدافو کې شامل دي افغان دولت سره په ټول هېواد کې د دې د واکمنۍ په پراخولو کې مرسته کول، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو سره په همکارۍ د ثبات او امنیت عملیات ترسره کول؛ د افغان ملي اردو روزنه او ملاتړ کول؛ او د ناقانونه وسله والو ډلو په بې وسلې کولو کې د افغان دولت د پروګرامونو مرسته کول.[122]

**ژمنې**

یوه معلومه ژمنتیا چې حکومت ته دا قانوني توان ورکوي چې د هغو سامانونو یا خدمتونو پیسې ورکړي چې امر یې شوی وي یا ترلاسه شوي وي، او یا د متحده ایالاتو لخوا داسې قانوني مسوولیت چې د متحده ایالاتو له کنټروله بهر د دویمې ډلې لخوا د اقداماتو په برکت د قانوني توان حق جوړ شي. پیسې کېدلای شي چې سمدست یا په راتلونکې کې ورکړای شي. یوه اداره یوه د پیسو ژمنه کوي، د بېلګې په ډول، کله چې دا یو امر ږدي، یو قرارداد کوي، بودیجه ورکوي، خدمت اخلي، یا داسې نور اقدامات وکړي چې په حکومت دا لازموي چې ولس ته او یا د حکومت د یو حساب نه بل ته د هغې پیسې ورکړي.[123]

**د سمبالښت او بودیجې دفتر (OMB)**

د OMB له مخکې ټاکل شوی مشن ولسمشر سره د مرکزي بودیجې د تیارولو په نظارت کې مرسته کول او د انتظامي څانګې د ادارو په اداره کې نګراني کول دي. د ولسمشر د لګښتونو د پلانونو په جوړولو کې په مرسته کولو سره، او ایم بي د ادارې د پروګرامونو، پالیسیو، پروسیجرونو د اغېزمنتیا تکاملي جاج اخلي د ادارو ترمنځ د بودیجو د غوښتنو د مقابلې ارزونه کوي، او د بودیجو ترجیحات ټاکي. او ایم بي دا خبره یقیني کوي چې د ادارې راپورونه، قواعد، ګواهي، او وړاندیز شوې قانون سازي د ولسمشر د بودیجې او د ادارې د تګلارو سره په مناسبت کې دي. برسېره پر دې، او ایم بي د ادارې د شیانو د ترلاسه کولو، مالي سمبالښت، معلوماتو، او اصولي تګلارو د نظارت او انسجام چارې ترسره کوي. د دې برخو څخه په هره یوه کې د او ایم بي رول د اداري سمبالښت په بهترولو، د کاري وړتیا د بهترو پیمانو په جوړولو او د انسجام په میکانزمونو، او په ولس د غېر ضروري بار په کمولو کې مرسته کول دي.[124]

**د ولایتي بیا رغوني ټیمونه**

د بیا رغونې د هڅو یو تاکتیک چې په یوه مربوطه طریقه په کاري ساحه کې نظامي امنیت د بهرنیو چارو د وزارت او USAID د عملي سره یو ځای کوي. دا ټیمونه د دې لپاره جوړ شوي وو چې په هغو سیمو کې د امنیت او بیا رغونې دواړه کارونه وکړي چرته چې امنیتي مسلې مرسته کارکوونکي له کار کولو منع کوي.

**د عاجل اغېز پروژه (QIP)**

د عاجل اغېز د پروژې د پروګرام هدف د ولایتي بیا رغونې په ټیمونو کې د USAID افسرانو ته دا توان ورکول وو چې داسې کوچنۍ پروژې (چې د هرې پروژې له 90 فیصده زیات لګښت له 350،000 ډالرو څخه کم وي) تطبیق کړي کومې چې د ثبات، بیا رغونې او د افغانستان د مرکزي حکومت لپاره د مرستې د جوړولو بنسټیز اهداف پر مخ بوځي. تر اګست 2007 پورې، تر 440 زیاتو پروژې بشپړې شوې دي. په دوی کې زیاتې نسبتاً کوچنۍ د انفراسټرکچر پروژې دي، داسې لکه ځایي خلکو لپاره د اوبه خور سیسټمونه، د پاکو اوبو رسول، د سړکونو بهتروالی، د برېښنا کوچني سیسټمونه، او د دولتي ودانیو، ښوونځیو او کلینکونو جوړول یا ترمیمول. برسېره پر انفراسټرکچر، د عاجل اغېز د پروژو بودیجې د دولت د ظرفیت د لوړولو، د وظیفو د پیدا کولو، د کوچنیو مالي مرستو، د جنس اړونده فعالیتونو، او د رسنیو د پروژو د ملاتړ لپاره هم کارول شوې دي.[125]

**ضمیمه یي اختصاص**

د بودیجې واک چې د اختصاصونو په قانون کې پر هغو عادي یا دوامي اختصاصونو ورکړل شي چې لا د مخه ورکړل شوي وي. ضمیمه یي اختصاصونه عموماً د دې لپاره ورکول کېږي چې په بېړنیو شرایطو کې کار وکړي، داسې لکه په مصیبت کې مرسته، یا نورې اړتیاوې چې دومره عاجلې وي چې د بل کال د عادي اختصاصونو د قانون د فعالېدو تر وخته نشي ځنډول کېدلای.[126]

**ناتړاکل شوی توازن**

هغه بودیجې چې منظورې شوې یا موجودې وي، خو تر اوسه پورې د کوم ځانګړي هدف لپاره نه وي تړاکل شوې.[127]

# ضمیمه 2

## د نظارت د راپورونو او وېبپاڼو لینکونه

**د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر**

http://oig.state.gov/

| اداره | د راپور سرلیک | نېټه | د راپور لمبر | د وېب پته |
|---|---|---|---|---|
| د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر | په افغانستان کې د دولت د ملکیت شخصي جایدادونه چې د منتخبو قراردادیانو لخوا نیول شوي | سپتمبر 7، 2008 | AUD/IQO-07-48 | http://oig.state.gov/documents/organization/98767.pdf |
| د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر | په افغانستان کې د قانون د حاکمیت پروګرام | جون 3، 2008 | ISP-I-08-09 | http://oig.state.gov/documents/organization/106946.pdf |
| د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر- دفاع وزارت عمومي مفتش | په افغانستان کې د مخدره موادو د ضد پروګرام بین الاداري ارزونه | جولای 7، 2007 | ISP-I-07-34 (د دفاع وزارت عمومي مفتش لمبر IE-2007-005) | http://oig.state.gov/documents/organization/90158.pdf |
| د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر | د افغانستان د پولیسو د روزنې او چمتووالي بین الاداري ارزونه | نومبر 2006 | ISP-IQO-07-07 IE-2007-001 (د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر لمبر) | http://oig.state.gov/documents/organization/76103.pdf |

**د دفاع وزارت عمومي مفتش**

http://www.dodig.osd.mil/

| اداره | د راپور سرليک | نېټه | د راپور لمبر | د وېب پته |
|---|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د صادراتو د تنفيذ په فعاليتونو کې د دفاع وزارت ګډون | مارچ 28، 2003 | D-2003-070 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د ايتلاف د ملاتړ بوديجې | جنوري 16، 2004 | D-2004-045 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د دفاع د معلوماتو د سيستمونو ادارې ته د مالي کال 2004 عاجله ضميمه يي بوديجه | اپريل 29، 2005 | D-2005-053 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د دفاع د لوژيستيکو د ادارې لپاره عاجله ضميمه يي بوديجه | مي 9، 2005 | D-2005-045 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د افغانستان د ګډو ځواکونو د قوماندې د سمبالښت د پرېکړې موډل، د مرستې سفر | جولای 7، 2005 | IE-2005-A004 | http://www.dodig.mil/Inspections/IE/Reports/Management%20Decision%20Model%20(Afghanistan).pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د د دفاع وزارت د مريض د حرکت سيستم | جولای 7، 2005 | D-2005-095 | http://www.dodig.osd/mil/Audit/report/FY05/05-095.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د هغې مرستې تکاملي جاج چې د متحرک پوځ ملي محافظ او د متحده اياﻻتو د پوځ ريزرو يونټونو ته ورکړل شوې وه | اګست 5، 2005 | IE-2005-A004 | http://www.dodig.mil/Inspections/IE/Reports/r_Redacted-ie2005_003.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | هغه قراردادونه چې د متحده اياﻻتو د انجينيرانو د قول اردو لخوا د تروريزم پر وړاندې نړيواله جګړه کې د مرستې لپاره ورکړل شوي | اکتوبر 14، 2005 | D-2006-007 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy06/06-007.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش-د بهرنيو | د افغانستان د پوليسو د روزنې او چمتووالي بين الاداري ارزونه | نومبر 14، 2006 | IE-2007-001(د بهرنيو چارو د عمومي مفتش دفتر لمبر ISP-IQO- | http://www.dodig.mil/IGInformation/IGInformationReleases/Interagency%20Assessment%20of%20Afghanistan%20Police%20Training%20&%20Readiness.pdf |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| چارو د عمومي مفتش دفتر | | | (07-07 | |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندي دننه د ځای پر ځای کړای شویو ځواکونو د تجهیزاتو حالت | جنوري 25، 2007 | D-2007-049 | http://www.dodig.osd.mil/Audit/reports/FY07/07-049.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | په افغانستان کي د قوماندان د بیرني ځواب د پروګرام تطبیق | فبروري 28، 2007 | D-2007-064 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY07/07-064.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د متحده ایالاتو په اروپایي قومانده کي د مخکي نه پر ځای کړای شویو وسلو سمبالول | مي 3، 2007 | D-2007-090 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د زغره والو موټرو لپاره د ترلاسه کولو تګلاره | جون 27، 2007 | D-2007-107 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش-د بهرنیو چارو د عمومي مفتش دفتر | په افغانستان کي د مخدره موادو ضد پروګرام بین الاداري ارزونه | جولای 2007 | IE-2007-005 (د بهرنیو چارو د د عمومي مفتش دفتر لمبر ISP-I-07-34) | http://www.dodig.mil/Inspections/IE/Reports/Counternarcotics_Pgr_Afghan%20_Final%20Rpt.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د بودیجو ویشل او د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجو د سمبالښت لپاره د مسوولیتونو اعتبار – 1 پراو | نومبر 5، 2007 | D-2008-012 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-012.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د دفاع وزارت لخوا د تروریزم پر ضد د نړیوالي جګړي د هغو ضمیمه یي بودیجو استعمال چي د لاسته راوړني او تحقیق، پرمختیا، ازمویني، او تکاملي جاج لپاره ورکړل شوي وي | نومبر 21، 2007 | D-2008-027 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-027.pdf |
| د دفاع وزارت | د کالیو، شخصي تجهیزاتو، آلاتو، او اداري اکمالاتو د | دسمبر 5، 2007 | D-2008-029 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-029.pdf |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عمومي مفتش | اکمالاتو د سمبالښت زنځیر | | | |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د تروریزم پر وړاندې د نړیوالي جګړې په ملاتړ کې د پوځ د منځنیو تاکتیکي ګاډیو مشروط منل او ساتنه | دسمبر 21، 2007 | D-2008-038 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-038.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د ناټو د نړیوال سوله ساتي ځواک لپاره د د دفاع وزارت ملاتړ | فبروري 5، 2008 | D-2008-039 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-039.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د تروریزم پر وړاندې نړیوالې جګړې د ملاتړ لپاره د کارول کېدونکي طبي ملاتړ لپاره ضمیمه یي بودیجې | مارچ 6، 2008 | D-2008-059 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/FY08/08-059.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | په افغانستان کې په لاس جوړو شویو چاودېدونکیو آلو ته د ماتې ورکولو د ګډ سازمان قراردادي ملاتړ | مارچ 7، 2008 | D-2008-056 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د یوې برخې قرارداد ته د لاسرسي لپاره د بایومیتریک پېژندګلو د سیستم په اړه د دفاع د تماس د شمېرې تورونه | مارچ 18، 2008 | D-2008-064 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-064.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | په د دفاع وزارت کې د بدن د زغرو ترلاسه کول، ویشتل او کارول | مارچ 31، 2008 | D-2008-067 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د منځنیو تاکتیکي موټرونو د کورنۍ لپاره د زغرو د غوښتنې پلان جوړول | مي 9، 2008 | D-2008-098 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-067.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د هغو پوځیانو لپاره د د دفاع وزارت\وي ای د علاج د انتقال پروسه چې په او ایي ایف\او اي ایف کې ټپیان شوي | جون 12، 2008 | IE-2008-005 | http://www.dodig.mil/IGInformation/IGInformationRelease/DoD%20VA%20Care%20Transition%20Process%20Service%20Members%20Injured%20OIF%20OEF%2020508%20tagged%20version.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | په هغو پیسو داخلي کنټرولونه چې په عراق، کویت، او مصر کې ورکړل شوي دي | مي 22، 2008 | D-2008-098 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-098.pdf |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-107.pdf | D-2008-107 | جولاى 3، 2008 | د هغو قراردادونو په اړه د دفاع د تماس د شمېرې تورونه چې د متحده ايالاتو د پوځ تي اى سي او ايم د ژوند د منډې د سمبالښت د قوماندې لخوا د بي اى اي د سيستمونو څمکي او وسلو، د څمکي د سيستمونو ډويژن ته ورکړل شوي | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-086.pdf | D-2008-086 | جولاى 18، 2008 | د هغو مسلو لنډيز چې د عراق د ازادى او د تلپاتې ازادى عمليات اغېزمن کوي او راپور يې د نظارت د سترو سازمانونو لخوا ورکړل شوى د مالي کال 2003 نه په پيل سره تر 2007 | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| نشته | D-2008-131 | سپتمبر 19، 2008 | د راډيو د فريکونسى په پېژندګلو امنيت | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| نشته | D-2008-132 | سپتمبر 26، 2008 | د پاور ټريک په کارولو سره د ترانسپورت لپاره پيسې ورکول | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-135.pdf | D-2008-135 | سپتمبر 29، 2008 | د هغو اکمالاتو لپاره قراردادونه چې د راډيو د فريکونسى د پېژندګلو کارول پکې شرط وي | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy08/08-119.pdf | D-2008-119 | سپتمبر 29، 2008 | د راتلونکي د ساختماني قراردادونو مشکل پروسيجرونه چې د عراق\افغانستان د قرارداد جوړولو د ګډې قوماندې لخوا پلي شوي | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy09/09-003.pdf | D-2009-003 | اکتوبر 9، 2008 | د پوځ په عمومي بوديجه، نغدي او نورو د پيسو د هغو شتمنيو داخلي کنترولونه چې د متحده ايالاتو د وچې څخه بهر وي | د دفاع وزارت عمومي مفتش |
| http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy09/09-003.pdf | D-2009-005 | اکتوبر 10، 2008 | د قراردادي د عام لاسرسي د کارت د ژوند په دوري کنترولونه | د دفاع وزارت عمومي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مفتش | | | | |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د تروریزم پر وړاندې د نړیوالي جګړې په ملاتړ کې د کوچنیو وسلو د مهماتو د بودیجې سمبالښت | اکتوبر 20، 2008 | -2009-006 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy09/09-006.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د افغانستان د باګرام په هوايي مېدان کې د ناتکتیکي موټرونو لاس ته راوړل او کارول | اکتوبر 31، 2008 | D-2009-007 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy09/09-007.pdf |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | په جګړه کې د لېږدون او ژغورنې هلیکوپټر | دسمبر 8، 2008 | D-2009-027 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د ماینونو مقاومتي او د کمین نه ساتل شویو موټرو لپاره د بیان د پروسې د عاجلې کایناتي اړتیا تطبیق د بحري ځواکونو لخوا | دسمبر 8، 2008 | D-2009-030 | نشته |
| د دفاع وزارت عمومي مفتش | د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه پړاو 3 – د هوايي ځواک د اصلي جایداد احتساب | دسمبر 29، 2008 | D-2009-031 | http://www.dodig.mil/Audit/reports/fy09/09-031.pdf |

**د USAID د عمومي مفتش دفتر**

http://www.usaid.gov/oig/

| اداره | د راپور سرلیک | نېټه | د راپور لمبر | د ویب پته |
|---|---|---|---|---|
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان لخوا د سمبالېدونکو سترو فعالیتونو د خطر ارزونه | مارچ 11، 2003 | 5-306-03-001-S | http://www.usaid.gov/oig/public/fy03rpts/5-306-03-001-s.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د هغه سرک د پروژې کتنه چې مالي بودیجه د USAID\افغانستان د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړوني د پروګرام لخوا ورکړل شوې وه | نومبر 13، 2003 | RIG/M Memorandum 04-002 | http://www.usaid.gov/oig/afghan_docs/memorandum_manila_04-0021.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د هغه سرک د پروژې دویمه کتنه چې مالي بودیجه د USAID\افغانستان د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړوني د پروګرام لخوا ورکړل شوې وه | مارچ 31، 2004 | RIG/M Memorandum 04-003 | http://www.usaid.gov/oig/afghan_docs/memorandum_manila_04-00303-31-04.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان لخوا د سمبالېدونکو سترو فعالیتونو د خطر ارزونه | اپریل 15، 2004 | 5-306-04-002-5 | نشته |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان له وظیفې د شړلو د فعالیتونو پلټنه | جنوري 10، 2006 | 5-306-06-04-001-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-001-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | په USAID\افغانستان کې د دوامداره اقتصادي تګلارې او اداري اصلاح د ملاتړ (سیفرز) د پروګرام پلټنه | اګست 17، 2004 | 5-306-04-005-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy04rpts/5-306-04-005-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د کابل کندهار د لویې لارې د بیا رغونې د هغو فعالیتونو پلټنه چې مالي بودیجه یې د USAID\افغانستان د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړوني د پروګرام لخوا ورکړل شوې وه | سپتمبر 21، 2004 | 5-306-04-006-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy04rpts/5-306-04-006-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د ښوونځي او کلینک د بیا رغونې د پروګرام پلټنه | مارچ 14، 2005 | 5-306-05-003-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy05rpts/5-306-05-003-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د بنیادي زده کړې د پروګرام پلټنه | اپریل 14، 2005 | 5-306-05-005-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy05rpts/5-306-05-005-p.pdf |
| د USAID عمومي | د هغو بودیجو پلټنه چې د کانګرس لخوا په افغانستان کې د بې ځایه | دسمبر 23، 2005 | 9-306-06-004-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/9-306-06-004- |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مفتش دفتر | شویو خلکو د مرستې لپاره ټاکل شوي د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړونې | | | p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان له وظیفې د شړلو د فعالیتونو پلټنه | جنوري 10، 2006 | 5-306-06-001-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-001-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د زراعتي بازارونو د بیا جوړولو د پروګرام پلټنه | مارچ 28، 2006 | 5-306-06-002-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-002-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړونې د پروګرام لاندې د USAID\افغانستان د کندهار-هرات د لویې لارې د بیا جوړولو پلټنه | مي 18، 2006 | 5-306-06-005-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-005-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د کلیوالي پراختیا په لړ کې د افغانستان د ټولنې پر بنسټ د روغتیا (REACH) د پروګرام پلټنه | اګست 16، 2006 | 5-306-06-007-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-007-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د ښوونځي او روغتیایي کلینک د بیا رغونې د فعالیتونو پلټنه | اګست 18، 2006 | 5-306-06-008-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy06rpts/5-306-06-008-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د بدیل معیشت پروګرام – ختیځه سیمه – پلټنه | فبروري 13، 2007 | 5-306-07-002-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy07rpts/5-306-07-002-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د اقتصادي اسانتیاو او خدمتونو (REFS) د بیا جوړونې د پروګرام لاندې د برق د مهم سکتور د فعالیتونو پلټنه | مي 21، 2007 | 5-306-07-004-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy07rpts/5-306-07-004-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د ښاري اوبو او لښتیو د پروګرام پلټنه | جون 7، 2007 | 5-306-07-006-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy07rpts/5-306-07-006-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د اقتصادي پروګرام د انتخاب تعقیبي فعالیتونو پلټنه | اګست 31، 2007 | 5-306-07-009-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy07rpts/5-306-07-009-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د زراعت، کلیوالي پانګونې او د کاروبار د پیاوړتیا پروګرام پلټنه | جنوري 22، 2008 | 5-306-08-001-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy08rpts/5-306-08-001-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د بدیلي پرمختیا د پروګرام – جنوبي سیمه – پلټنه | مارچ 17، 2008 | 5-306-08-003-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy08rpts/5-306-08-003-p.pdf |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د کوچني او منځني کاروبار د پرمختيا د فعاليت پلټنه | جون 23، 2008 | 5-306-08-006-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy08rpts/5-306-08-006-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د تېز دوامي زراعت د پروګرام پلټنه | اګست 8، 2008 | 5-306-08-009-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy08rpts/5-306-08-009-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د ظرفيت د پرمختيا د پروګرام پلټنه | سپتمبر 30، 2008 | 5-306-08-012-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy08rpts/5-306-08-012-p.pdf |
| د USAID عمومي مفتش دفتر | د USAID\افغانستان د لوړو زده کړو د پروژې پلټنه | دسمبر 4، 2008 | 5-306-09-002-P | http://www.usaid.gov/oig/public/fy09rpts/5-306-09-002-p.pdf |

**د حکومت د احتساب دفتر (GAO)**

http://www.gao.gov/

| اداره | د راپور سرلیک | نېټه | د راپور لمبر | د وېب پته |
|---|---|---|---|---|
| GAO | بهرنۍ مرسته: د ستراتیژیک تمرکز نشتوالی او د زراعت په راستنولو کې ځنډونه د افغانستان ثبات ته خطر دی | جون 30، 2003 | GAO-03-607 | http://www.gao.gov/new.items/d03607.pdf |
| GAO | بهرنۍ مرسته: په بوسنیا، کوسوا، او افغانستان کې له شخړې وروسته مرستې په اړه مشاهدات | جولای 18، 2003 | GAO-03-980T | http://www.gao.gov/new.items/d033980t.pdf |
| GAO | د افغانستان بیا رغونه: مخ په خرابېدونکي امنیت او محدودو سرچینو د پرمختګ مخه نیولې؛ د متحده ایالاتو په ستراتیژۍ کې بهتریو ته اړتیا ده | جون 2، 2004 | GAO-04-403 | http://www.gao.gov/new.items/d04403.pdf |
| GAO | د افغانستان امنیت: د پوځ او پولیسو د جوړولو هڅو پرمختګ کړی دی، خو د راتلونکي پلانونو لا بنه کار ته اړتیا لري | جون 30، 2005 | GAO-05-575 | http://www.gao.gov/new.items/d05575.pdf |
| GAO | د افغانستان بیا رغونه: د یو څه پرمختګ باوجود، مخ پر خرابېدونکی امنیت او نور ځنډونه د متحده ایالاتو د اهدافو د لاس ته راوړلو په وړاندې خطر دی | جولای 28، 2005 | GAO-05-742 | http://www.gao.gov/new.items/d05742.pdf |
| GAO | د افغانستان د مخدره موادو کنټرول: د بهترو هڅو باوجود، مخ په خرابېدو امنیت د متحده ایالاتو د اهدافو بریالیتوب ته خطر دی | نومبر 15، 2006 | GAO-07-78 | http://www.gao.gov/new.items/d0778.pdf |
| GAO | نظامي عملیات: په عراق او افغانستان کې د دفاع د وزارت لخوا د سولاګیا او خواخوږۍ د پیسو استعمال | مي 23، 2007 | GAO-07-699 | http://www.gao.gov/new.items/d07699.pdf |
| GAO | د افغانستان امنیت، ثبات، او بیا رغونه: د کانګرس د نظارت لپاره مهمي مسلې | مي 24، 2007 | GAO-07-801SP | http://www.gao.gov/new.items/d07801sp.pdf |
| GAO | د هغي تاریخچې په اړه پوښتنې چې په افغانستان او عراق کې د مرکزي حکومت د ځای پر ځای شویو ملکي مامورینو د | اکتوبر 16، 2007 | GAO-08-155R | http://www.gao.gov/new.items/d08155r.pdf |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | طبي علاج د ګټو په اړه ده | | | |
| GAO | د افغانستان امنيت: د متحده ايالاتو دا هڅې چې په افغانستان کې باستعداده پوليس ځواکونه جوړ کړي د ننګونو سره مخ دي او يو داسي منسجم، تفصيلي پلان ته اړتيا لري چې د احتساب په يقيني کولو کې مرسته وکړي | جون 18، 2008 | GAO-08-883T | [http://www.gao.gov/new.items/d08883t.pdf](http://www.gao.gov/new.items/d08883t.pdf) |
| GAO | د افغانستان امنيت: د کانګرس نور اقدام بنايي د دې لپاره اړين وي چې د يو داسي تفصيلي پلان بشپړېده يقيني کړي چې باستعداده افغان امنيتي ځواکونه جوړ کړي او وساتي | جون 18، 2008 | GAO-08-661 | [http://www.gao.gov/new.items/d08661.pdf](http://www.gao.gov/new.items/d08661.pdf) |
| GAO | د افغانستان بيا رغونه: د سرکونو په جوړولو کې پرمختګ شوی، خو د اغېز د معلومولو ارزونو او د ساتلو يو دوامداره پروګرام ته اړتيا ده | جولای 8، 2008 | GAO-08-689 | [http://www.gao.gov/new.items/d08689.pdf](http://www.gao.gov/new.items/d08689.pdf) |
| GAO | په افغانستان او عراق کې د ولايتي بيا رغوني ټيمونه | اکتوبر 1، 2008 | GAO-09-86R | [http://www.gao.gov/new.items/d0986r.pdf](http://www.gao.gov/new.items/d0986r.pdf) |
| GAO | د راتلونکي قرارداد کول: د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت، او USAID قراردادونه او په عراق او افغانستان کې قراردادي پرسونل | اکتوبر 1، 2008 | GAO-09-19 | [http://www.gao.gov/new.items/d0919.pdf](http://www.gao.gov/new.items/d0919.pdf) |

# ضميمه 3

## د ګډې اعلاميې بيانيه

21 اکتوبر 2008

ياداښت لپاره د: وګورئ ويش

موضوع: د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عمومي مفتش

د مالي کال 2008 لپاره د ملي دفاع د صلاحيت ورکولو قانون (اين ډي اې اې) (پي.ايل. 110-181) 1229مې برخې د افغانستان د بيا رغونې لپاره د عمومي مفتش (سيګار) دفتر جوړ کړ. د 2008 د مي په 29مه، ولسمشر تورنجنرال ارنلډ فيلډز، يو ايس ايم سي (متقاعد) په دغه چوکۍ وټاکه. په دې رول کې به ښاغلی فيلډز د بهرنيو چارو او دفاع د محکمو سکرتريانو دواړو ته راپور ورکوي.

سيګار ته د اقتصاد، وړتيا، او اغېزمنتيا ته د ودې ورکولو؛ د ضياع، دوکې، او ناسم استعمال د معلومولو او مخنيوي لپاره خپلواک او مقصدي مشرتابه، انسجام او سپارښتنې برابرې کړي، او د بهرنيو چارو او د دفاع سکرتريان په بشپړ ډول او تازه حال سره د هغو ستونځو، کمزوريو، او سموونکيو اقداماتو څخه د خبر ساتلو لپاره خپلواکه او مقصدي ذريعه برابر کړي چې د هغو اختصاصونو يا نورو بوديجو سره اړوند وي چې د افغانستان د بيا رغوني لپاره ورکړل شوي وي.

په دې رول کې به سيګار داسې پلټنې ترسره کوي، نګراني به يې کوي او مربوطوي به يې چې د هغو بوديجو د اخيستلو، سمبالولو او مصرفولو په تړاو وي کومې چې د افغانستان د بيا رغوني لپاره په لاس ورکړل شوې وي او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو لپاره چې د داسې بوديجو د کارولو لپاره ترسره شوي وي. سيګار به د عمومي مفتشانو هغه وظيفې، مسوولیتونه، او واکونه هم لري چې د 1978 د عمومي مفتش د قانون لاندې تشريح شوې دي او نورې هغه وظيفې هم چې د مالي کال 2008 لپاره په اين ډي اې اې کې ورکړل شوې دي. د دې مسووليتونو په سر ته رسولو کې به سيګار د بهرنيو چارو د وزارت، د دفاع د وزارت، او نړيوالې پرمختيا لپاره د د متحده ايالاتو د ادارې سره همکاري کوي او همکاري به ترې ترلاسه کوي.

برسېره پر دې، سيګار به د پلټنې او معاينو لپاره د عمومي مفتش مرستيالان ټاکي، او کولای شي چې نور پرسونل، ماهرين او مشاورين انتخاب کړي، وټاکي، او يا په کار ولګوي، او يا څرنګه چې ضروري نور قراردادونه او موافقې وکړي. برسېره پر دې، سيګار کولی شي چې د مرکزي حکومت له هر ادارې وي چې معلومات او مرسته وغواړي، تر کومه حده چې د عمل وړ وي او د کوم موجود قانون سره په تضاد کې نه وي. د بهرنيو چارو د وزارت او د دفاع د وزارت کوم چارواکی حق نلري چې سيګار د دې وظيفو له پيلولو، ترسره کولو او بشپړولو څخه منع کړي يا يې مخنيوی وکړي.

په سيګار لازمه ده چې د کانګرس اړونده کمېټو ته درې مياشتني راپورونه ورکړي چې خپل فعاليتونه پکې وښيي او د هغو ټولو ارقامو چې منل شوي، لګول شوي او عايداتو تفصيلي بيانونه برابر کړي چې د افغانستان د بيا رغوني او بيا جوړولو د فعاليتونو سره تړلي وي. سيګار به همدغه درې مياشتني راپورونه د بهرنيو چارو او دفاع سکرتريانو ته ورکوي، چې هغوی بيا ښايي د کانګرس اړوندو کمېټو ته په هغو مسلو تبصرې ورکړي چې په راپور کې بحث شوې وي.

د سيګار د ملاتړ لپاره، د بهرنيو چارو وزارت او د دفاع وزارت بايد په اړوندو ځايونو متحده ايالاتو، افغانستان او نورو ځايونو کې د سيګار لپاره اړوند او مناسب دفتري ځايونه او هغه ضروري سامان، اکمالات، او خدمتونه برابر کړي

چې د داسې دفترونو د چلولو لپاره ضروري وي. د دفاع د وزارت دننه، د پوځ سکرتر ته دلته مسوولیت ورکول کېږي چې سیګار ته هغه ضروري اداري، لوژیستیکي او د قرارداد کولو مرسته برابره کړي چې خپل مشن ترسره کړي. د د دفاع وزارت د اجزاو د مشرانو څخه غوښتنه کېږي چې د د دفاع وزارت د لارښودنې 4000.19 سره سم د پوځ سکرتري ته د دې رول په عملي کولو کې اضافي ملاتړ او مرسته برابره کړي. د بهرنیو چارو وزارت باید د سیګار ټاکل شوي حساب ته د هغو اختصاصونو څخه د بودیجو د اغېزمن انتقال لپاره ضروري اقدامات ترسره کړي چې د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر ته په مشخصه توګه سیګار ته د انتقال لپاره ورکړل شوې وي.

د دې لپاره چې د سیګار د مشن د مرستې ظرفیت لوړ کړی شي، د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت به سیګار ته د دې یاداښت د خپرېدو په 30 ورځو کې دننه، هغه کسان ورپېژني کوم چې د تفصیل ورکولو لپاره موجود وي او هغوی چې دا مهال د پلټنې، تحقیق، یا معاینې وظیفې ترسره کوي، چې ځانګړې پاملرنه یې هغو کسانو ته شوې وي چې دا مهال داسې فعالیتونه ترسره کوي چې د افغانستان د بیا رغونې د پروګرامونو سره تړلې وي. د سیګار په غوښتنه سره، داسې اړوند انتظامات به کولی شي چې داسې کسانو ته معلومات ورکړل شي چې د دې فعالیتونه په امریکا او د کار په ځای دواړو کې قوي کړي.

سیګار به د بهرنیو چارو او دفاع د محکمو سره د موافقې اړوند یادښتونه لاسلیک کوي کوم چې دا د ملاتړ او پرسونل ضروري اقدامات سند او اغېزمن کړي.

څرنګه چې سیګار په افغانستان کې د بیا رغونې د فعالیتونو په اړه د نظارت او احتساب په اړه خپل مشن مخ په وړاندې بوځي نو د بهرنیو چارو د وزارت او د دفاع د وزارت دننه اجزا به سیګار ته خپله بشپړه همکاري او مرسته د دې قانون سره برابر ورکوي.

لاسلیک
جان نیګروپونټی، د بهرنیو چارو مرستیال سکرتر

لاسلیک
ګورډن انګلینډ، د دفاع مرستیال سکرتر

ویش:

<u>د دفاع وزارت</u>
د نظامي محکمو سکرتریان
د ګډې قوماندې ستر درستیز
د دفاع دویم سکرتریان
د دفاع مرستیال سکرتریان
د دفاغ د وزارت کونسل جنرال
د فعالیتي ازموینې او جاچ مسوول
د دفاع د وزارت عمومي مفتش
د دفاع د سکرتر مرسیتالان
د ادارې او سمبالښت مسوول
د پروګرام د تحلیل او جاچ مسوول
د اوسنی ارزونې مسوول
د دفاعي ادارو مسوولین
د د دفاع وزارت د کاري ساحې د فعالیتونو مسوولین

<u>د بهرنیو چارو وزارت</u>
د بهرنیو چارو د وزارت عمومي سکرتر

# ضميمه 4
# د 2008 د عمومي مفتش د ريفورم قانون

**عامه قانون 110-409 – اکتوبر 14، 2008**

## د 2008 د عمومي مفتش د ريفورم قانون

**122 بیان 4302** **عامه قانون 110 – 409 – اکتوبر 14، 2008**

**عامه قانون 110 – 409**

**110م کانګرس**

**یو قانون**

اکتوبر 14، 2008
[ایچ.ار. 928]

د 1978 د عمومي مفتش د قانون د بدلولو لپاره چې د عمومي مفتشانو خپلواکی ته پراختیا ورکړای شي، د مربوطیت او ورتیا لپاره د عمومي مفتشانو د یوې شورا د جوړولو لپاره، او د نورو اهدافو لپاره.

د 2008 د عمومي مفتش د ریفورم قانون.
5 یو ایس سي کاریال 1 یادابښت

*دا به په جمع شوي کانګرس کې د متحده ایالاتو د سنا او د خلکو د استازو د جرګې لخوا فعالیږي،*

**برخه 1. لنډ سرلیک.**

د دې قانون حواله ښایي د "د 2008 د عمومي مفتش د ریفورم د قانون" په توګه ورکړای شي.

**برخه 2. د عمومي مفتشانو ټاکنه او تعلیمي استعدادونه**

د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 یو.ایس.سي. کاریال) برخه 8ج(ت) په پای کې په دې ورزیاتولو سره بدلیږي "هر عمومي مفتش باید د کومې سیاسي سرپرستۍ پرته او یواځې په حساب، پلټنه، مالي تحلیل، قانون، د سمبالښت د تحلیل، عامه ادارې، او تحقیقاتو کې د ښودلي استعداد او مربوطیت پر بنسټ وټاکل شي."

**برخه 3. د عمومي مفتشانو لیرې کول**

ولسمشر.
ضرب الاجل.

(أ) اداري جوړښتونه. - د 1978 د عمومي مفتش د قانون برخه 3(ب) (5 یو.ایس.سي. کاریال) د دویمې فقرې په لیرې کولو سره او د دې په ورزیاتولو سره بدلیږي "که یو عمومي مفتش له خپلې وظیفې ګوښه کړای شي او یا د جوړښت دننه بلې چوکۍ یا بل ځای ته ولیږل شي، نو ولسمشر باید د کانګرس دواړو جرګو ته د داسې ګوښه کولو یا لیږلو وجوهات په لیک کې ولیږي، خو د لیرې کولو یا لیږلو څخه د 30 ورځو نه زیات وروسته نه. د دې ضمني برخې هیڅ شی باید له لیږلو او یا لیرې کولو پرته د پرسونل د داسې کوم اقدام مخنیوی ونکړي چې د قانون لخوا یې واک ورکړل شوی وي."

(ب) ټاکل شوې مرکزي اداري. – د 1978 د عمومي مفتش د قانون برخه 8ج(د) (5 یو.ایس.سي. کاریال) د دې فقرې په لیرې کولو چې "باید د کانګرس دواړو جرګو ته د داسې لیږلو یا لیرې کولو وجوهات په سمدستي توګه ولیکي"

او د دې په ورزياتولو سره بدلېږي چې " بايد د کانګرس دواړو جرګو ته د داسې ګوښه کولو يا لېږلو وجوهات په ليک کې وليږي، خو د ليرې کولو يا لېږلو څخه د 30 ورځو نه زيات وروسته نه. د دې ضمني برخې هيڅ شی بايد له لېږلو او يا ليرې کولو پرته د پرسونل د داسې کوم اقدام مخنيوی ونکړي چې د قانون لخوا يې واک ورکړل شوی وي."

**برخه 4. د عمومي مفتشانو معاش.**

(أ) په عامه ترتيب کې د 3مې کچې عمومي مفتشان –

(1) په عموم کې. – د 1978 د عمومي مفتش قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) 3مه برخه په پای کې د لاندې په ورزياتولو سره بدلېږي:

"(د) د يو عمومي مفتش د بنسټيز معاش کلنی بيه (لکه چې د 12(3) د برخي لاندې تعريف شوې) بايد هغه بيه وي چې په 3مه کچه د عمومي ترتيب د برخي 5314 د سرليک 5 لاندې، د متحده ايالاتو کوډ، جمع 3 سلنه."

(2) تخنيکي او د مطابقت بدلونونه. – د متحده ايالاتو د کوډ د برخي 4315 سرليک 5 د لاندې چوکيو په اړوند د مادې په ليرې کولو سره بدلېږي:

(أ) عمومي مفتش، د زده کړې وزارت.
(ب) عمومي مفتش، د انرژۍ وزارت.
(ت) عمومي مفتش، د روغتيا او بشري خدمتونو وزارت.
(ث) عمومي مفتش، د کرنې وزارت.
(ج) عمومي مفتش، د کور جوړونې او ښاري پراختيا عمومي مفتش.
(ح) عمومي مفتش، د ترانسپورت وزارت.
(خ) عمومي مفتش، د پوځي تجربو د ماهرانو د چارو وزارت.
(د) عمومي مفتش، د کورني امنيت وزارت.
(ذ) عمومي مفتش، د دفاع وزارت.
(ر) عمومي مفتش، د بهرنيو چارو وزارت.
(ز) عمومي مفتش، د تجارت وزارت.
(س) عمومي مفتش، د کورنيو چارو وزارت.
(ش) عمومي مفتش، د انصاف وزارت.
(ص) عمومي مفتش د خزانې وزارت.
(ض) عمومي مفتش، د نړيوالې پرمختيا د ادارې وزارت.
(ط) عمومي مفتش، د د چاپېريال ساتنې د وزارت اداره.
(ظ) عمومي مفتش، د صادراتو-وارداتو بانک.
(ع) عمومي مفتش، د مرکزي بيړنې سمباليښت اداره.
(غ) عمومي مفتش، د عمومي خدمتونه اداره.
(ف) عمومي مفتش، د ملي طيارو جوړولو او فضا اداره.
(ق) عمومي مفتش، د اتومي مسلو کميسيون.
(ك) عمومي مفتش، د پرسونل د سمباليښت دفتر.
(ل) عمومي مفتش، د اورګاډو د تقاعد پلاوی.
(م) عمومي مفتش، د کوچنۍ کاروبار اداره.
(ن) عمومي مفتش، د ټېنسي درې واک.
(ه) عمومي مفتش، د مرکزي بيمې اداره.
(و) عمومي مفتش، د استخباراتو مرکزي اداره.

(ي) عمومي مفتش، د اجتماعي امنیت اداره.
(أأ) عمومي مفتش، د متحده ایالاتو پوستي خدمت.

(3) په نورو عمومي مفتشانو يې تطبیق.-
(أ) په عموم کې. – د قانون د بلې هرې مادې د یادونې سره، د استخباراتو د مرکزي ادارې د ځانګړي عمومي مفتش، د عراق د بیا رغونې د ځانګړي عمومي مفتش، او د افغانستان د بیا رغونې د ځانګړي عمومي مفتش د بنسټیز معاش کلنی بیه به د هغسې عمومي مفتش نه وي چې د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 یو.ایس.سي. کاریال) د 12(3) برخې د لاندې تعریف شوې ده (څنګه چې يې د دې قانون په برخه 7(ا) کې بدلون راغلی دی).
(ب) د نغدو مراعاتو یا جایزو ممانعت. – د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 یو.ایس.سي کاریال) برخه 3(ف) (څرنګه چې د دې قانون په برخه 5 کې بدله شوې) به د پراګراف (ا) لاندې په تشریح شویو عمومي مفتشانو تطبیقېږي.
(4) اضافي تخنیکي او د مطابقت بدلون. – د 1990 د ملي او ټولنیز خدمت قانون (42 یو.ایس.سي. 12651د(ب)) برخه 194(ب) د پراګراف پ(3) په لیرې کولو سره بدلېږي.

5 یو ایس سي کاریال 3 یادونه

(ب) د ټاکل شویو مرکزي ادارو عمومي مفتشان. -

(1) په عموم کې. – د قانون د بلې هرې مادې د یادونې سره، د مرکزي ادارې د هرې ټاکل شوې ادارې عمومي مفتش (لکه چې دغه شرایط د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 یو.ایس.سي. کاریال) د برخې 8ج د لاندې تعریف شوي دي) به، د معاش او نورو ټولو اهدافو لپاره، يې د درجې، کچې، او منصب په ټاکنه سره، څنګه چې حالت وي، درجه بندي کېږي چې په دغه ټاکل شوې اداره کې د لوړې کچې د زیاتو عمومي مسوولینو سره سم یا لوړ وي (داسې لکه کونسل جنرل، د بشري پانګې مشر افسر، یا د لاسته راوړلو مشر افسر). د یوې ټاکل شوې مرکزي ادارې د یو عمومي مفتش معاش به (لکه چې دغه شرایط د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 یو.ایس.سي. کاریال) د برخې 8ج د لاندې تعریف شوي دي) به د دغې ټاکل شوې ادارې د لوړې کچې د مسوولینو د ټولې اوسط حق الزحمې (په ګډون د مراعاتو) څخه کم نه وي چې شمېرنه يې په کلني بنسټ شوې وي.
(2) پر مطابقت محدودیت. -
(أ) په عموم کې. – په هغه صورت کې چې د یوې ټاکل شوې مرکزي ادارې د عمومي مفتش معاش د پراګراف (1) د لاندې مطابق راغلی وي، نو په معاش کې ټول زیاتوالی په هر مالي کال کې چې وي چې د دغه تطابق په نتیجه کې راځي بښایي د ټولې حق الزحمې (په ګډون د مراعاتو) د دغې ادارې د عمومي مفتش د تېرو درېو مالي کلونو د 25 سلنې څخه وانه وړي.
(ب) د محدودیت پرېوانه.- د ضمني پراګراف (ا) لاندې محدودیت پر هر هغه تطابق نه تطبیقېږي چې په مالي کال 2013 او یا تر هغې وروسته په بل کوم مالي کال کې شوی وي.
(ت) د نویو ټاکل شویو عمومي مفتشانو لپاره د بچټ ماده. –
تطبیق.

(1) په عموم کې. – د متحده ایالاتو د کوډ د برخې 3392 د سرلیک 5 مادې، د داسې برخې په ضمني برخه (ت)(1) کې لدې اصطلاحاتو پرته چې "د کاري ورتیا جایزې" او "د منصبونو ورکول" به د لوړ اداري خدمت په هغو کاري موقع کتونکو تطبیقېږي چې د عمومي مفتش په چوکی ټاکل شوي وي.
(2) په معاش کې ناکمی. – د قانون د بلې هرې مادې د یادونې سره، مرکزي کاري مامورین چې په یوه داسې ټاکنه کار کوي چې د هغې قانوني واک په تعقیب شوې وي چې د متحده ایالاتو د کوډ په برخه 3392 کې د سرلیک

5 څخه پرته نه وي، بايد د عمومي مفتش په چوکۍ د ټاکنې له امله يې په معاش کې کمی رانشي، چې په هغې کې د مراعاتو يا د کاري وړتيا جايزې شاملې ندي.

(ث)د بچټ ماده. – د دې برخې هيڅ بايد د هر هغه تن د معاش د بيې کمول اغېزمن نه کړي چې د دې برخې د فعالېدو د نېټې څخه د عمومي مفتش په توګه کار کوي د:

(1) يو داسې اداري جوړښت چې د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) د برخې 12(2) د لاندې تعريف شوی (څرنګه چې د دې قانون د برخې 7(1) سره بدل شوی)؛

(2) يوه د مرکزي ټاکنې اداره چې د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) د برخې 8ج(2) د لاندې تعريف شوې؛

(3) يوه قانون سازه اداره چې د عمومي مفتش چوکۍ پکې د يو قانون لخوا جوړه شوې وي؛ او يا

(4) د حکومت بله کومه اداره چې د عمومي مفتش چوکۍ پکې د يو قانون لخوا جوړه شوې وي.

**برخه 5. د نغدي مراعاتو يا جايزو ممانعت.**

د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) برخه 3 (کومه چې د دې قانون په 4مه برخه کې بدل شوی) په پای کې د لاندې بدلون په ورزياتولو سره نور بدلون هم مومي:

"(پ) يو عمومي مفتش (څنګه چې د برخې 8ج(ا)(6) يا 12(3) لاندې تعريف شوی) نشي کولای چې کومه نغدي جايزه يا نغدي مراعات ترلاسه کړي، په ګډون د هر هغه نغدي جايزې چې د متحده ايالاتو د کوډ د باب 45 د سرليک 5 لاندې وي."

**برخه 6. د عمومي مفتشانو د ملاتړ لپاره جلا کونسل.**

(أ) د اداري جوړښت د عمومي مفتشانو لپاره کونسلان. – د 1978 د عمومي مفتش قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) برخه 3 (څرنګه چې د دې قانون د برخو 3 او 4 له لارې بدلون پکې شوی) په پای کې د لاندې د ورزياتولو سره نور بدلون پکې کېږي:

"(ج) هر عمومي مفتش بايد، په ملکي خدمت د عملي رايجو قوانينو او قواعدو سره سم، د يو داسې کونسل څخه قانوني مشوره واخلي چې يا نېغ په نېغه عمومي مفتش ته راپور ورکوي او يا بل عمومي مفتش ته."

(ب) د ټاکل شويو مرکزي ادارو د عمومي مفتشانو لپاره کونسلان. – د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) برخه 8ج(ج) په پای کې د لاندې په ورزياتولو سره بدلون مومي:

"(4) هر عمومي مفتش به –

ټاکنې.

"(ا) د مرکزي اداري دننه په ټاکنو د رايجو قوانينو او قواعدو سره سم، د عمومي مفتش لپاره يو کونسل وټاکي چې عمومي مفتش ته به راپور ورکوي؛

(ت)د بېرته اداينې پر بنسټ د يو داسې کونسل خدمتونه ترلاسه کړي چې د بل عمومي مفتش لخوا ټاکل شوی وي او يا ورته نېغ په نېغه راپور ورکوي؛ او يا

(ث) د بېرته اداينې پر بنسټ د مربوطيت او وړتيا په اړه د عمومي مفتش د کونسل د اړوندې عملې څخه خدمتونه ترلاسه کړي."

5 يو ايس سي کاريال 3 يادابښت

(ث) د رغونې قاعده. – په دې بدلونونو کې هيڅ بايد د کوم اداري جوړښت يا ټاکلې مرکزي اداري لپاره د کونسل په وظيفو او مسووليتونو د بدلولو لپاره ونه ګڼل شي، پرته د کونسل له موجوديت څخه چې د 1978 د عمومي مفتش په قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) په برخو 3(ج) او 8ج(ج) کې راغلي (څرنګه چې په دې برخه کې بدل شوی). د عمومي مفتش کونسل بايد دا فعاليتونه هغسې ترسره کړي چې عمومي مفتش يې ورته ووايي.

**برخه 7. په مربوطيت او وړتيا د عمومي مفتش د کونسل جوړول.**

(أ) جوړونه. – د 1978 د عمومي مفتش د قانون (5 يو.ايس.سي. کاريال) برخو 11 او 12 ترتيب يو په بل پسي 12 او 13 ته بدلول کېږي، او د برخي 10 څخه وروسته پکي لاندې اضافه کېږي:

5 يو ايس سي کاريال 11.

**"برخه 11. په مربوطيت او وړتيا د عمومي مفتش د کونسل جوړول.**

"(ا) جوړونه او مشن. –

"(1) جوړونه. – د اداري څانگي دننه په مربوطيت او وړتيا د عمومي مفتش کونسل د يوې خپلواکه ادارې په توگه جوړول کېږي (چي په دې برخه کي به يې حواله د "کونسل" په توگه ورکول کېږي."

"(2) د کونسل مشن به دا وي چي –

(أ) د مربوطيت، اقتصاد او اغېزمنتيا هغه مسلي حل کړي چي د بېلابېلو حکومتي ادارو څخه راولاړېږي؛ او

(ب) د عمومي مفتش په دفترونو کي د ښه روزل شوي او لوړ مهارت د کاري ځواک په جوړولو کي د مرستي لپاره د تگلارو، معيارونو او مفکورو په جوړولو سره د پرسونل په مسلکيت او اغېزمنتيا کي زياتوالی وکړي.

"(ب) غړيتوب. –

(1) په عموم کي. – کونسل بايد د لاندې غړيو څخه جوړ وي:

(أ) ټول عمومي مفتشان چي دفترونه يې جوړ شوي وي لاندې د –

a. برخي 2؛ او يا

b. برخي 8ج.

(ب) د ملي امنيت او د استخباراتو د مرکزي اداري د مسوول د دفتر عمومي مفتشان.

(ت) د مرکزي ماليي د سمبالښت د دفتر کنټرولوونکی.

(ث) د تحقيقاتو د مرکزي بيورو يو لوړپوړی چارواکی چي ټاکنه يې د تحقيقاتو د مرکزي بيورو د مسوول لخوا شوې وي.

(ج) د حکومتي اخلاقو د دفتر مسوول.

(ح) د ځانگړي کونسل د دفتر ځانگړی کونسل.

(خ) د پرسونل د سمبالښت د دفتر مرستيال مسوول.

(د) د سمبالښت او بوديجي د دفتر د سمبالښت لپاره مرستيال مسوول.

(ذ) د کانگرس د کتابتون، مرکزي پوليسو، د حکومتي مطبعي د دفتر، د حکومت د احتساب د دفتر، او د پلازمېني د ارکټيکټ عمومي مفتشان.

"(2) رييس او اجرايي رييس --

"(ا) اجرايي رييس. – د سمبالښت او بوديجي د دفتر د سمبالښت لپاره مرستيال مسوول به د کونسل اجرايي رييس وي.

"(ب) رييس. – کونس بايد يو له هغو عمومي مفتشانو چي په پراگراف (1)(ا) يا (ب) کي ورته اشاره شوې انتخاب کړي چي د کونسل د رييس په توگه کار وکړي. د رييس د دفتر موده به 2 کاله وي.

"(3) د رييس او اجرايي رييس فعاليتونه. –

"(ا) اجرايي رييس. – اجرايي رييس به –

(1) د کونسل د غونډو رياست کوي؛

(2) د هغو ادارو او دفترونو مشرانو ته چي په کونسل کي استازيتوب لري به د کونسل د فعاليتونو په اړه د راپورونو لنډيز ورکوي؛ او

(3) د هغو ادارو او دفترونو چي په کونسل کي استازیتوب لري په اړه به کونسل ته داسي معلومات ورکوي چي کونسل سره د خپلو فعالیتونو په ترسره کولو کي مرسته کوي.

"(ب) رییس. – رییس به—

(أ) د کونسل غونډې راجوړې کړي—

a. لږ تر لږه په کال کي 6 ځل؛
b. تر امکاني حده میاشت په میاشت؛ او
c. د رییس په اختیار تر دې هم زیات

(ب) د ضمني برخي (ت) د لاندې د کونسل فعالیتونو او کارونه ترسره کړي؛

(ت) د عمومي مفتشانو د یوې داسي کټګورۍ څخه چي په ضمني پراګراف (ا)(1)، (ا)(2)، یا د (1) پراګراف (ب) کي یې تشریح شوې ده، له هغې کټګورۍ پرته چي رییس ترې ټاکل شوی وي، مرستیال رییس وټاکي څوک چي د کونسل په فعالیتونو او کارونو کي مرسته کوي، او د رییس په غیاب کي به د هغه پر ځای کار کوي؛

(ث) د کونسل د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره که د هغو بودیجو څخه چي په لاس کي وي ضروري وي پرته د نورو بودیجو څخه پیسي ورکړي؛

(ج) داسي پرسونل غوره، وټاکي او په کار وګوماري چي اړتیا وي ورته تر څو د کونسل چارې پر مخ بوځي خو د متحده ایالاتو د کوډ د سرلیک 5 د هغو مادو د لاندې چي په استعدادي خدمتونو کي د ټاکنو واک ورکوي، او د دغه سرلیک د باب 51 او ضمني باب 3 د هغو مادو د لاندې چي د معاش د بیو د درجه بندۍ او د عامه ترتیب په اړه دي.

(ح) تر هغه حده چي داسي پیسي د اختصاصو د قوانینو لخوا مخکي ورکړل شوي وي، د هغه چورلېدونکي بودیجي لخوا په لاس ورکړل شوې وي چي د ضمني برخي (ت)(3)(ب) لاندې جوړ شوی دی، یا په بل ډول چي د قانون لخوا یې واک ورکړل شوی، د عامه ادارو یا شخصي خلکو سره داسي قراردادونه او موافقې ترسره کړي چي د کونسل فعالیتونه او کارونه پر مخ بوځي؛

(خ) د کونسل د غړیو سره په مشاورت سره داسي کمېټې جوړې کړي چي د رییس لخوا ضروري ګڼل شوې وي او د کونسل د فعالیتونو د ترسره کولو په وړتیا کي مناسب وي؛ او

(د) ولسمشر ته د کونسل د فعالیتونو په اړه په کال کي یو ځل یو راپور چمتو او وړاندې کړي.

"(ت) د کونسل فعالیتونه او کارونه.—

"(1) په عموم کي. – دا کونسل به—

(أ) د دوکي، ضیاع، او ناسم استعمال په اړه د مرکزي حکومت په پروګرامونو او فعالیتونو کي د کمزورۍ او خامې ځایونه په دوام سره معلوموي، کتنه به ورته کوي او بحث به پرې کوي؛

(ب) په ټول حکومت کي د داسي منسجمو فعالیتونو پلانونه جوړوي چي دا مسلې حل کړي او د مرکزي حکومت په پروګرامونو او فعالیتونو کي اقتصاد او وړتیا ته وده ورکړي، په ګډون د بین الاداري پلټنو، تحقیق، معاینې او تکاملي جاج د پروګرامونو او پروژو چي هغه ستونزې په وړتیا او اغېزمنتیا سره حل کړي چي د دوکي، ضیاع په اړه وي چي د یوې انفرادي ادارې یا سازمان د استعداد یا د کار د ساحي څخه بهر وي؛

(ت) داسي تګلارې جوړې کړي چي د عمومي مفتش د دفتر د یو ښه روزل شوي او ماهر پرسونل په انتظام کي مرسته وکړي؛

(ث) د ټولو عمومي مفتشانو د فایدې لپاره د انټرنېټي وېبپاڼي یا نورو الیکټرونکي سیستمونو انتظام وکړي څرنګه چي کونسل یې پرېکړه کړې وي چي ورته اړتیا ده یا یې غواړي؛

(ج) یوه یا زیاتي داسي اکاډمۍ جوړې کړي چي کونسل یې د پلټونکو، تحقیق کوونکو، معاینه کوونکو او جاج اخستونکو، او د عمومي مفتش د بېلابېلو دفترونو د نور پرسونل د مسلکي روزنې لپاره ضروري ګڼي؛

(ح) د عمومي مفتش په یو دفتر کي د ټاکنې لپاره څنګه چي د ضمني برخي (ب)(1)(ا) یا (ب) د لاندې تشریح شوي د انفرادي خلکو سپارښتنې د ټاکنو اړوند مقام ته وسپاري؛

(خ) د کانګرس لپاره داسې راپورونه جوړ کړي چې رییس یې مناسب یا اړوند وګڼي؛ او
(د) د کونسل د واک او کاري ساحې دننه نور کارونه څنګه چې مناسب وي ترسره کړي.

(2) د غړیو وفاداري او ګډون. – تر هغه حده چې قانون یې اجازه ورکړې وي، او تر هغه حده چې د هغو معیارونو سره په ټکر کې نه وي چې د مرکزي حکومت د دفترونو، سازمانونو، پروګرامونو، فعالیتونو، او کارونو لپاره په پلټنو کې د متحده ایالاتو د کمپټرولر جنرل لخوا جوړې شوې، د کونسل هر غړی، څنګه چې مناسب وي، به --

(أ) هغو مسلکي معیارونو ته وفادار وي چې د کونسل لخوا جوړ شوي وي؛ او
(ب) د کونسل په پلانونو، پروګرامونو، او پروژو کې ګډون کوي، پرته د هغه غړي په صورت کې چې د ضمني برخې (ب)(1)(ع) د لاندې تشریح شوی، غړی به یوازې تر هغه حده ګډون کوي چې د غړي لخوا یې غوښتنه شوې وي او د اجرایي رییس یا رییس لخوا منظوره شوې وي.
(3) اضافي اداري واکونه.--
(أ) بین الاداري بودیجې.— د متحده ایالاتو د کوډ، د برخې 1532 د سرلیک 31 یا د قانون د بلې کومې داسې مادې په یادولو چې د بین الاداري بودیجو د هغو فعالیتونو ممانعت کوي چې د فقرې (ا) ضمني فقرې (1)، (2) او (3) لاندې تشریح شوي، د کونسل د مسوولیتونو، واکونو، او کارونو په ترسره کولو کې—
a. اجرایي رییس کولی شي چې د بین الاداري بودیجو واک ورکړي لپاره د—
i. د عمومي مفتشانو د دفترونو د مامورینو په ټول حکومت کې د روزنې؛
ii. د کونسل د مربوطیت د کمېټې د فعالیتونو لپاره؛ او
iii. هر بل اجازه ورکړل شوی هدف چې د کونسل لخوا یې پرېکړه شوې وي؛ او
b. د اجرایي رییس د واک په ورکولو سره د اجرایي څانګې هره وزارت، اداره، یا سازمان چې کومه چې په کونسل کې غړی لري باید د داسې فعالیتونو بودیجه ورکړي یا یې په بودیجه کې ګډون وکړي.
(ب) چورلېدونکې بودیجه.—
a. په عموم کې. – کونسل کولای شي چې—
i. د متحده ایالاتو په خزانه کې یوه چورلېدونکې بودیجه جوړه کړي چې د عمومي مفتشانو د کونسل بودیجه به ورته ویل کېږي. یا
ii. د یوې وزارت یا ادارې سره د موجوده چورلېدونکې بودیجې د استعمال لپاره د څه انتظام موافقه وکړي.
b. په چورلېدونکې بودیجه کې رقم.—
(1) په عموم کې.—د دې ضمني برخې د لاندې کونسل ته لېږدل شوې پیسې به په چورلېدونکې بودیجه کې اېښودل کېږي چې د فقرې (i)(1) یا (2) د لاندې تشریح شوی.
(2) روزنه.—هرې پاتې نامصرف شوې پیسې چې د عمومي مفتشانو د جنایي تحقیق د اکاډمۍ او د عمومي مفتشانو د پلټونکي د روزنې د مرکز لپاره اختصاص شوې یا په لاس ورکړل شوې وي به چورلېدونکې بودیجې ته چې د فقرې (i)(1) یا (2) لاندې تشریح شوې انتقالېږي.

(3) د چورلېدونکې بودیجې استعمال.--
(أ) په عموم کې.—پرته له هغې چې په ضمني فقره (2) کې ورته اشاره شوې، په چورلېدونکې بودیجه کې هغه پیسې چې د فقرې (i)(1) یا (2) د لاندې تشریح شوي کېدلای شي چې د دې ضمني برخې د لاندې د کونسل د فعالیتونو او کارونو د ترسره کولو لپاره وکارول شي.
(ب) روزنه. – هغه پیسې چې د فقرې (i)(1) یا (2) د لاندې تشریح شوې چورلېدونکې بودیجې ته انتقال شوې وي د روزنې د کومې اکاډمۍ د سمبالولو لپاره څنګه چې یې کونسل پرېکړه وکړي کارول کېدلای شي.

(4) د بودیجو موجودیت.— د فقرې (i)(1) یا (2) د لاندې تشریح شوي چورلېدونکي بودیجې پیسي باید د کونسل لپاره د مالي کال له محدودیت پرته موجودې وي.

(ت) لیرې کوونکې مادې.—د قانون داسې کومه ماده چې د دې ضمني برخې د فعالېدو له نېټې وروسته فعاله شوې وي باید د ضمني پراګراف (ا) یا (ب) د لاندې د کوم واک یا محدودیت د لیرې کولو لپاره واضح ونه ګڼل شي، تر څو چې داسې ماده په دغه پراګراف کې د واک لپاره مشخصه حواله ورنکړي.

"(4) موجود واکونه او مسوولیتونه.—د کونسل جوړېدل او فعالیت باید اغېزمن نه کړي—

(أ) د قانون په تنفیذ کې د انصاف د وزارت رول؛

(ب) د حکومت د کومې ادارې یا دفتر واک یا مسوولیتونه؛ او

(ت) د کونسل د انفرادي غړو واک یا مسوولیتونه.

"(ث) د مربوطیت کمېټه.—

(1) جوړونه.—دا کونسل باید یوه د مربوطیت کمېټه ولري، کومه چې باید هغه تورونه ترلاسه کړي، کتنه ورته وکړي او د تحقیق لپاره یې ولېږي کوم چې د عمومي مفتشانو خلاف او د پراګراف (4)(ت) لاندې د عمومي مفتشانو د بېلابېلو دفترونو د عملې د غړو خلاف لګول شوي وي.

(2) غړیتوب.—د مربوطیت کمېټه باید د لاندې غړو څخه جوړه وي:

(أ) د تحقیقاتو د مرکزي بیورو د هغه چارواکي څخه چې په کونسل کې کار کوي، څوک چې باید د مربوطیت د کمېټې د مشر په توګه کار وکړي، او د کمېټې تاریخچې وساتي.

(ب) څلور عمومي مفتشان چې د ضمني برخې (ب)(1) په ضمني پرارګار (ا) او (ب) کې تشریح شوي او ټاکنه یې د کونسل د رییس لخوا شوې وي، چې د حکومتي دفترونو او ټاکل شویو مرکزي ادارو دواړو استازیتوب کوي (چې دا اصطلاح په برخه 8(ج)(ا) کې تشریح شوې ده).

(ت) د ځانګړي مشاور د دفتر ځانګړی مشاور.

(ث) د حکومتي اخلاقو د دفتر رییس.

(3) حقوقي مشاور.—د انصاف د وزارت د جنایي څانګې د عامه مربوطیت د برخې مشر، یا د هغه استازی، باید د مربوطیت د کمېټې د حقوقي مشاور په توګه کار وکړي.

(4) د تورونو سپارل.--

(أ) شرط.—یو عمومي مفتش د مربوطیت کمېټې ته د دغه منشي د دفتر د عملې د یو غړي خلاف د هرې غلطۍ تور سپارلی شي، که چیرې—

a. د دغه تور د نوعیت کتنه د اجرایي څانګې یوې داسې ادارې ته نشي ورکول کېدای چې په د دې معاملې د کاري ساحې سره اړونده وي؛ او

b. عمومي مفتش پرېکړه وکړي چې—

i. د تور یو مقصدي داخلي تحقیق د کېدو وړ ندی؛ او یا

ii. د دې تور داخلي تحقیق بنایي مقصدي ښکاره نشي.

(ب) تعریف.—په دې پراګراف کې د "عملې غړی" د اصطلاح مانا د عمومي مفتش د دفتر هر مامور دی څوک چې—

a. نېغ په نېغه یو عمومي مفتش ته راپور ورکوي؛ او یا

b. د ضمني پراګراف (ت) د لاندې د یو عمومي مفتش لخوا ټاکل شوی وي.

(ت) د عملې د غړو صفت.—هر عمومي مفتش به په کال کې د مربوطیت د کمېټې رییس ته د هغو چوکیو صفت سپاري چې د دغه صفت لرونکي د ضمني پراګراف (ب) د اهدافو لپاره د عملې غړي وي.

(5) د تورونو کتنه.—د مربوطیت کمېټه به--

(1) د غلطۍ د هغو ټولو تورونو کتنه کوي چې د مربوطیت کمېټه یې د یو عمومي مفتش، یا د عمومي مفتش د دفتر د عملي د یو غړي خلاف ترلاسه کړي چې تشریح یې د پراګراف (4)(ت) د لاندې شوې ده.
(2) د غلطۍ هر تور د اجرایي برانچ هغې ادارې ته وسپاري چې په دې معامله کې اړوند واک لري؛ او
(3) د غلطۍ هر هغه تور د مربوطیت د کمېټې مشر ته وسپاري چې د مربوطیت د کمېټې لخوا د ضمني پراګراف
(ا) د لاندې د داسې اهمیت حامل وي چې د ضمني پراګراف (ب) لاندې کومې ادارې ته نشي سپارل کېدلای.
(6) د تورونو د تحقیق واک.--
(أ) شرط.—د مربوطیت د کمېټې رییس به د هر هغه تور بشپړ او په وخت تحقیق پیل کوي چې ورته د پراګراف (5)(ت) د لاندې سپارل شوی وي او چې د دې پراګراف سره سم به ترسره کېږي.
(ب) سرچیني.—د مربوطیت د کمېټې د مشر په درخواست، د هر هغه ادارې او دفتر مشر چې په کونسل کې استازیتوب لري—
a. ښایي د مربوطیت کمېټې ته اړینې سرچیني ورکړي؛ او
b. د مربوطیت کمېټې ته د دغې ادارې یا دفتر څخه مامورین ورکړي، چې د رییس د کنټرول او لارښودنې لاندې به وي، چې د دې ضمني برخې د لاندې تحقیق ترسره کړي.

(7) د تحقیقاتو پروسیجر.--
(أ) د تطبیق وړ معیارونه.—هغه تحقیقات چې د دې ضمني برخې د لاندې پیل شوې وي باید تحقیقاتو لپاره د هغو وروستیو کیفي معیارونو سره سم ترسره شي چې د کونسل لخوا خپاره شوي وي او یا یې د سابقینو لخوا (مربوطیت او وړتیا لپاره د ولسمشر کونسل او مربوطیت او وړتیا لپاره اجرایي کونسل).
(ب) اضافي تګلارې او پروسیجرونه.—
a. جوړونه.—د مربوطیت کمېټه به، د کونسل د مسوول سره په ملګرتیا، داسې اضافي تګلارې او پروسیجرونه جوړوي چې په لاندې کې د شفافیت او تسلسل د یقیني کولو لپاره ضروري وي—
i. دا پرېکړه کول چې ایا تحقیق پیل کړای شي؛
ii. تحقیقات ترسره کول؛
iii. د یو تحقیق د پایلو راپور ورکول؛ او
iv. او هغه تن ته چې د تحقیق موضوع وي موقع ورکول چې د مربوطیت د کمېټې راپور ته ځواب ووایي.
